# کوه طور

شاعر:
عبدالباري جهاني

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ شاعر جهاني

نه د چا د پېکي يار يم نه د چا په تور سنګسار يم
نه بې لاري نه پر لار يم له خپل ځانه مې ګيله ده

که هنر د انسان د روحي، فکري، عاطفي اړتياوو پوره کول وي، نو ښه هنر او له هغې ډلې نه ښه شعر بيا د انسان په ارواحي ژورتياوو، ښکلاييزو احساساتو (ميني، کرکې او غريزه) کې د هڅو او هاند د بهير پلټنه، څېړنه او يا د دغه بهير د کومې شېبې يا برخې انځورول دي. د دې لنډۍ يادوني نه مې موخه دا وه چې باري جهاني زموږ په هماغو شاعرانو کې راځي چې دا ټولې يادوني په خپلو شعرونو کې رانغاړي او زموږ مخې ته ئې د ژونديو انځورونو په توګه ايږدي. د غزلو يا قصيدو ترڅنګ هغه دا هنر په نظم او داستاني بڼه کې هم تصويروي. باري د خپلې ژبې او ملت ويده نکلونه، هيرې شوې کيسې او ناويل شوي افسانې بيا ژوندۍ کوي هغه، هغه اولس ته وريادوي چې پر هيواد ئې د وحشت او تيارو کيږدۍ لمن او اره کړې ده. د باري شعر او دا کيسې د دغه تيارو لاندې، د ده د اولس روښان اندې ته د ستورې په څېر ځلېږي او د لارو نښې ئې ګرځي. د خلګو ژبې ته د هغه شعر د ژبې نږدې والی د دې سبب شوی دی چې دا هڅه لا پسې بريالۍ او اغېزمنه وي که کوم لويديز کره کتونکی يا د شعر څېړونکی د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرونو څه زوروره څېړنه وکړي، هرو مرو به هغه د افسانې یا اسطورې جوړونکي شاعر په نامه ونوموي.

هغه د تېرو او اوسنیو مذهبي، ملي تاریخي اتلانو په ملي کولو کې بې ساری لاس لری. هغوی ته ملي څېره ورکوي، هغوی په خپله فلسفه، د یاغیتوب او درېدو په اندېښنه، اندېښمنوي. له هغوی سره د هغوی له اواز سره خپل، خپل اواز، خپل هڅونکی ښکلاییز انداز ملګری کوي.

آدم او درخو، شیرین او فرهاد، ملوک او بدریجماله، لیلی او مجنون، بلال، منصور، نمرود، کلیم، نیل، اسرافیل، یعقوب، یوسف، زلیخا، کنعان، ښاپیری، خضر او د خضر چینه، شیطان، سکندر، جام جم او ډېري ډېري نوري خبري دي چې د ده منظومې افسانې رنګینوي.

زرکه، شپیلۍ، شپانه، رمباړې، وچ ډاګونه، نکریزې، ډولونه، غرونه رغونه، د بلبلو چغهار، منګوټې، پایزیب، ځولۍ، ګودر، پېزوان، کلي، سپېلنې، کاڼي، مالت، اغزي، کوچي، کیږدۍ، د کیږدیو اورونه، اتڼونه، د نجونو ټالونه، ورا، کاروان، رباط، ریبار، رباب، خال او د ده د خلکو ژوند ته نوري ډېري خبري بیا هم دلته حضور لري، او د ده په شعر کې د هغه د اولسي چاپېریال غوره اغېزه ګڼلی شو. د هغه ځیني شعرونه د هیواد د فرهنګ، سیاست او تاریخ داسي ګڼه مالګوبي دي چې د هېرو شویو افسانو، یادونو، بدمرغیو، خوښیو او غمونو بېساري انځورونه باسي.

د لرغوني او کلاسیک شعر نه خبرتیا، په هغه پوهېدنه، د هر ښه شاعر غوره ځانګړتیا ده. د ده په نکلونو او ویل شویو نظمونو کې دا له ورایه لیدل کېږي. د دې تر څنګ د خپل تاریخ، تاریخي تګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوري او د لوړو ژورو او د جرړو نه خبرتیا د ښه شاعر بله ځانګړتیا ګڼله کېږي.

دغه راز که شاعر د خپل ملت په هره کیسه، هره افسانه، هر متل، هري ټوکي، ان ملنډو او په ټولي توګه په فوکلور او دود دستور پوه وي، هغه به د خپلی ژبي له هر توري، هری کلمې، هر ترکیب او هري جملې نه په ربښتیا، لوی، نه هېرېدونکي، ژوند ښښونکي، آزارونکي او زړه راښکونکي کیسې او افسانې جوړوي.

باري ته باري تعالي دا ټولی ځانګړتیاوي ورکړي دي. د هغه ذهني خوځون، د دې پورتنیو ځانګړتیاوو د خوځون له هري لوېشتي او ثپک سره خوځېږي، خوځېږي او په خپل تګ لوري کي د زمانې له زړې حافظې نه هېر شوي زیاتره هغه څه وینی او را سپړي، چي نوریې حتی تصور هم کولای نه شي.

د مثال په توګه د دریو غوایانو کیسه کي چي سپین او ابلق د زمري په ټونګ له تور نه خپله لاره بېلوي او وروسته سپین هم د زمري په شیطانت له ابلق نه بېلېږي او یوازي خپل ځان اصیل ورته ښکاري، او بالاخره د خپل بېځایه غرور قرباني کېږی، د کیسې وروستۍ او د تتیجې خبری داسی رانغاړی.

په ژړا شو سپین غویی ویل یې خدایه
په ریشتیا چي زه کم عقل وم له ځایه
په هغه ورځ مي مرګي ته ځان تیار کړ
چي جلا مي تور له ځانه په اختیار کړ
چي ابلق مي د زمري په خوله جلا کړ
هغه ورځ مي ځان له مرګ سره سودا کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غـــوايي او د زمـــــري پردی دي ويني
د دښـــمن سره څـــوک څنګه پالي ميني
چي په اصـــــل او کـــم اصـــــل تېر وتلم
په لوی لاس مي د مرګي خولې ته ورتللم

د ده په شعر کي د داستان يا افسانې يا نظم ليکني يوه ستره او غوره ځانګړتيا دا ده چي هغه د کومي لاسي ايډيالوژی او يا واکمن مين او اسير نه دی. هغه مين دی، هغه په ښکلا، هغه په ادا، هغه په تخليق، هغه په انځورونو او هغه په نوښت مين دی. دی سره له ټولو ياغيتوبه تر نه باوره پوري د هغو پېرزو او نازوړی دی خو اسير يې نه دی. د باري شعر د پښتو ادب د هغو ګوت شماره شاعرانو په شعر کې راځي چې له رازونو او نيازونو ډک دی او دا راز و نياز لا تر اوسه پور وړ وړونکي او وړ سپړونی نه لري.

اوس به له چـــــا سره سيالی ته د نصيب راوزو
منـــصوري چيغي غرغرې د ميدان پاته نه دي
دلـــــته راغـــــلي وه د کاڼو په حساب سرونه
جـــنون هغه دی زولنې د زندان پـــــاته نه دي
که له ګـــرېوانه يې ســــکروټي اورولي نه دي
نوري په زړه کي خـرخښې د اسمان پاته نه دي
زه د خـــــــوني فلک په سترګو کي اورونه وينم
پاس له نصيب سره ځولی د توپان پاته نه دي

او يا دا چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه راوړه تندي ته مي انکار په انګارونو کي
تا ته مي نمروده د ایمان کیسه معلومه ده
څه به مي بوډی نظر ته نیسې د حیا پلو
ما ته دي پر شونډو د پېزوان کیسه معلومه ده
نوري په څپو کي الاهو سندري مه بوله
رنګ د زماني کي د توپان کیسه معلومه ده
ولاړل جهاني زاړه یاران بیا به ستانه نه سي
وایی ملاجلان د بل جهان کیسه معلومه ده

او یا دا چي :

په تنها کو رنګو مه د جنون د پلونو نښي
چي د هر اغزي په کور مي د یادونو کیسه شنه سي
د پرد بس محشر میدان ته د وږخي ساقي راغلی
چي پر شونډو می جانانه د کوثر پیاله ترخه سي
ځواني ستا انتظار یووړه بوډی عمر مي د رجار سه
سپیلنی به داسي چیري در ته بل څوک نذرانه سي

د شعر لوستونکي، په شعر پوهېدونکي او د شعر اورېدونکي که لږ ښه ځیر شي چي د باري د شعر هر توری څو ځله د وینو د ګلاب په عطرو، د ارمان په اسوېلو، د درد په زګېرویو، د خیال په څپو او د دیدنونو په شېبو کي لمبیدلی، ډوب شوی او بیرته یې ځان د غزل یا قصیدې، یا څلوریزي او یا کوم ښکلي نظم په بڼه را څرګند کړی دی. که یو کلاسیک شاعر دا یادونه چي شعر په زړه کي د تېر شوي خیال نه جوړه شوې خبره ده، چي په ژبه راځي، ومنو ډېره به شاعرانه وي مګر دا هم باید ور زیاته کړو چي شعر یوه داسي نه ماتېدونکې تنده ده چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلو سره یې ماتېدل غواړي، مګر په ښو شاعرانو کې چې یو هم پکی باري دی، دا تنده د هر نوي شعر په هر ځل ویلو سره لا څو چنده کېږی. د نظمونو او داستانونو په بیان کې د باري د غه شان تنده له ورایه بریښي. هغه خبره چې لېونی میني کړم اشناله بیابانه سره، دی ورځ تر ورځې د کیسو او افسانو د بې پایه شاړو او مېرو لوري ته هڅوي او ورغواړي یې. دی چې څومره دې پلو ته درومي هومره یې تلوسې لا پسې تلوسې کوي. دی هره ورځ هلته نوي څه پیدا کوي. کله چې د مقدوني سکندر استاد ،ارسطو هغه ته په رمز دا ورپوهوي چې خپل زاړه او له کاره لوېدلي مامورین او جنرالان برطرفه کړي او پر ځای باندی ئې ځوان او لایق افسران وټاکي نو هغه د خپل استاد له توصیې سره سم عمل کوي او داستان داسي نتیجې ته رسیږي:

مقرر پر مـــــقامونو یې ځوانان کړل
د لښـــــکر یې ټوله نوي افسران کړل
ارســـطو ورته لــــېږلي وه رمزونه
ده له رمـــــزه وه اخیستي دا پـــندونه
زوړ ګـــمراه لاری ته نه سی سمېدلای
لو مینا خــبري نه سی زده کـــــولای
کوږ لرګی په بار کی نه سي ځایېدلای
نه کـــوږ بار سي تر مـنزله رسېدلای
په وطن کي کـــــاري سوه عدالت سو
له زړو داړه مـــارانو په راحت ســــو
د خاین قـــــاضي یې ورانه کړله خونه
اهــل کار ته چي یې وســـپارل کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز تقریبا ټول داستانونه یا په یوه او یا څو بیتونو داسي نتیجې ته رسېږي چي د سړي یې بیا بیا لوستلو او اورېدلو ته زړه کېږي. باري جهاني د خپلی شاعری په اوږدو کي کرار کرار او سوکه له ذهني ښکلا نه ټولنیزی، ژبنیءاو جلېزي ښکلا ته، هغي ښکلا ته چي کله نا کله د لویو ارمانونو انځورونه باسي، ور روان دی او کولای شو ووایو چي ورسېدلی دی.

د ده د داستاني شعر بهیر په څو ګودرونو وېشلای شو.

د پښتو په شاعری کي د لاسي یا آګاهانه ښکلاییزي چاري لپاره هڅه، ملي معنی، ملي غوښتنو ته، پراخ او ښتون ته او ملي ویښتیا ته لاره پرانیستل د ټولو په وړاندي درېدل د ده په شعر کي ما دغه خوځون مخکی د عصیان په نامه نومولی دی.

بله خبره د ده د شعر ښکلې ژبه ده. خبره په دې کي ده چي دی آن غندني، ښکنځلي او د نادودو یادونه په ډېر ښکلي انداز سره بیانوي. که د سلیمان لایق شعر د مست، یاغي او نه ایلېدونکي سمندر ښکلو څپو ته ورته دی د باري شعر کولای شو، زرین امیل یا مرغلین امیل ته ورته کړو. داسی زرین امیل ته چي د ښکلیو د غاړي هار او د غاصب او مکار زاهد او د دوکه مار مجاهد د غاړي د لعنتونو کړی جوړوي. دی د چا، د کومي ډلي، د کومي لاري تربور نه دی. دی د تیارو، دی د شرارت، د شیطاني ارواحو او شیطاني کړو تربور او دښمن دی. هغه خو په دې برخه کي کله ناکله ان د هستی بښونکي په وړاندي هم خپله تریګني نه پټوي. شاعر باید لوی روح ولري، شاعر باید د لوی روان درلودونکی او د پراخ زړه خاوند وي. شاعر باید د بې پایه تفکر، د نه ماتېدونکي ارادې، نه ایلېدونکي تکل، د سمندر سمندر ذوق، د پای ته نه رسېدونکو خیالونو، د ژور درک، د پیاوړي پېژندني او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېرېدوني ياد خاوند وي. تېر هغه وخت ښه دی چې د هغه له پېژندنې او تجربې نه ننني شخړې او اري کړای شو او فوکلور د تېر ميراث ژوند کول دي. د فوکلور تر ټولو غوره معنی په ولسي هنر، په تېره بيا ادب کي د ژوند د بهېر موندل دي. په فوکلور کی افسانې، متلونه، کيسې، نکلونه او اناپلتې هم را تلای شي. د فوکلور تر ټولو نه يوه غوره ځانګړتيا په هغه کي د يادونو ژوند دی. ټولو ته به څرګنده وي او کنه چي باري يو مؤرخ دی، يو ملي مؤرخ، يو بامسئوليته مؤرخ او يو د رازونو د راڅرګندولو په تېره بيا په پښتو فوکلور کي د تاريخی پېښو د پلټلو مؤرخ دی. هغه د هګل خبره د ټولنيز ژوند نه د پردې د پورته کولو مؤرخ دی. ښه شاعر همداسي وي چې د خپلې ژبې، د هغې له روحي توان نه د هغه د تخيل، عاطفې او ملي انديښنو له ښکلاييزو اندازو نه هغه پرده لري کوي چې د انځورولو مخه يې نيولې ده.

د هغه شعر ښکلا وي، ناښکلا وي، تور او سپين او ډېر څه او څوک شعر ته ولېږدوي. هغه ارمانونه، هغه ويرونه، هغه خوښې، هغه مينه، هغه کرکه، هغه په شاعرانه نه بيانېدونکي بيان سره، هر هر څه چې نوريې لا په خبرو کي د ويلو توان نه لري، دی يې شعر ته ورلېږدوي.

که څه هم هغه پخپله هيڅکله د متعهد شاعر دعوا نه ده کړې، خو هغه تر زياتو متعهدو شاعرانو نه متعهد شاعر پاته شوی دی خو توپير يې له دې نورو متعهدو شاعرانو نه په دې کي دی چې باري د ملت، د خپلي ژبې، د خپل تاريخ او د خپل دوران په وړاندي متعهد پاته شوی دی. دی د رڼا د ساتنې او پالنې، دی د ژبې او د هغې د ابياتو په وړاندي پوروړی او متعهد دی. د ده د دې ډول شعرونو يوه بله ځانګړتيا دا ده چې دی دلته تصويرونه داسي جوړوي چې هلته معنی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفهوم د تصویرونو په مرسته په ژوند ښښونکو او لمسونکو انځورونو بدلېږي.

باري پخپلو داستاني یا اسطوره ای شعرونو کي ځینی داسي سپېڅلي اساطیر چي پېړۍ پېړۍ پټي پاتي شوي دي راسپړي او څېړي. د نکل یا داستان ویل له ولس سره، له ډېر کي ولس سره، داړیکو، د خبرو او د مخامخ کېدلو تر ټولو غوره لاره او چاره ده. هغه ولس چي پخپله د همدې کیسو، د همدې نکلونو او د همدې روایتونو اصلي سرچینه او زېږنده دی. ښه شاعر هغه یادونه، هغه خاطرې او هغه ټوله مروړي هستی د نظم په ښه، د شعر په ښه امیل کوی، هغه په ښکلایي انداز، په ښکلاییزه ادا او د عاطفې او تخیل په زیاتوالي سره خلگو ته وریادوي، باري هم د خپلي ژبي تاریخي بهیر، د هغې د ویونکو روحي خوځون لویو ابدي اساطیرو په ویناوو، د هغو د اتلانو په خبرو د هغو په تاریخي پېر او د هغو په غم او خوشحالي کي لټوي او په خوږه شاعرانه ژبه یې ننني کوي.

د نورو ځانگړتیاوو تر څنگ کولای شو وو وایو چي باري ډېر هغه څه چي شاعرانه نه دي، شاعرانه کوي. عنعنه ماتول، صراحت، طبیعی وزن او په هغو کي د مکار غندنه د ده په شعر کي بل نوښت دی. هغه په دې افسانو کي موږ ته را په زړه کوي چي څوک یو؟ چیرته تلای شو؟ او څه کولای شو؟ په دې توگه ویلای شو چي هغه دلته هم خپل یاغیتوب ساتلی دی. هغه دلته هم له دوکې یاغي، له دروغو یاغی، له مکاره یاغي او له ریا یاغي پاته شوی دی. د ده همژبي باید زموږ د څو نورو گوتو په شمار شاغرانو د شعرونو په شان د ده شعر هم د پښتو د ویښتیا نوې الفبې وگڼی. هر یو یې په ډېري مینی او تلوسې سره د هغه زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي ته پلتۍ ووهي او کنه دوی به د خپل ملي ژوند پېژندنه کي همدا سي نالوستي پاتي وي.

په مينه
ډاکټر عبداللطيف بهاند
ماسکو

# جهاني ته

سباوون په تمه ناست تورو تيارو کي
زنګېدلی د غمونو په تالو کي
دا د ميني د دنيا خوږ انځور ګر ته
چي يې ځاله د عشق جوړه ده مغزو کي
دا زموږ د وخت هوښياره لېوني ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حمید او د خوشال د پګړۍ ګل ته
د الفت او د رښتین د بڼ بلبل ته
د مکتب غوره شاګرد د پیر محمد ته
چې یې تاج په سر کې ایښی دی غزل ته
د کروړ د میخانې ښکلې ساقي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

قلندر عبدالرحمن د کوردۀ بوې ته
د حمزه بابا په سر جګې شملې ته
د میرویس نیکه د باغ خوږې مېوې ته
د پښتو ادب دې ښکلې ترانې ته
د احمد بابا د ستر کهول لمسي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته
چې پانوس یې سوځیدو سره اشنا دی
چې پتن یې د لمبو سره اشنا دی
چې یې خیال څه د فلک په رحم نشته
چې یې کور له سوځیدو سره اشنا دی
میراث خور د بېنوا او د غني ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

دا ساقي چې د جامو سره لوبېږي
دا خمار چې په نیشو کې نه مستیږي
چې کړي ځانته پخپل لاس دوږخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زردشت چې بل اور سره خوښېږي
دا په سوي مذهب پوه مست دوزخي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

چې اورونه يې په کور د پلار ژړلي
لپې لپې يې په هر مزار ژړلي
چې يې ټانګ د يرغلګر په سوک وهلي
ويني ويني يې په هر پرهار ژړلي
د افغان د درد او غم په اورستي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

چې خيبر او چې ميوند يې ترانه ده
پاني پت يې د پلرونو حماسه ده
چې پامير او هندوکش يې د خيالونو
هم شمله ده هم کعبه ده ميخانه ده
د کابل د پت او ننګ ساده سپاهي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

چې ښکلا يې شور په سر کې لګولی
چې خالونو د صنم په زړه خوړلی
چې سينه يې د غاټول سره سيالي کړي
د وزخې سره په اور کې سوزېدلی
دا په تلليو کې زمونږه اوسني ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تر هر چا په ګناه باندې پوهېږي
چې له شيخ او له زاهده نه وېرېږي
له چړو او له رسو يې پروا نسته
چې د دار حلقې ته خپله روانيږي
دا زموږ د عصر بې کچه ياغي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

دا لوی بحر چې ويالو کی نه ځايېږي
لامبوزن چې په څپو کې نه ډوبېږي

د قلم توره يې تل د لاس زېور ده
چې د ظلم د ښامار سره جنګېږي
د لايق او د اجمل دا سکني ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

چې په نرخ او خريدار د زړه پوهېږي
پېربدل چې په بازار د زړه پوهېږي
چې فرياد يې د خوږمنو زړو اواز دی
چې په جوړ او په بيمار د زړه پوهېږي
دې نيالګي زموږ رشاد لوی حبيبي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

چې سبزې کوبې د مستو پسرلو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ساقي سره هم غاړي دی پيالو کي
چي شور دی د سيني په خلوتگاه کي
چي احساس يې توپاني دی په شعرو کي
پخې نښې د پړواک او خليلي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

چي دوږخ په اجارو له فلک غواړي
منصوري نشې اخيستی دی دار غواړي
د خيام کوڅو ته ځي په بد مستۍ کي
د گلاب مينه په کور کي د خار غواړي

دا خپلوان د شمس الدين او د داوي ته
جهاني ته جهاني ته جهاني ته

چي تاکلي يې خپل ځان ته هديرې دي
د منصور او د فرهاد سره يې شپې دي
دا سرکښه د جنون پر بستر پروت دی
ماتي کړي يې د عقل زولنې دي
زر سلامه د کمال عبدالباری ته
جهانی ته جهانی ته جهانی ته

+++

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاسو يې پېژنی دا څوک دئ؟

کله ولاړ ســـي په خـــيالونو سردرو ته پورته کېږي
کله کــښته سي درو ته سپين سندريږي يې يادېږي
کــله مل وي د کـــوچيانو په کـــږديو کي اوسېږي
کــله ځان خـــپل زنداني کړي زولنې ورته شرنگيږي

بيا په مـــينه د جانان کـــي يادوي اغـــزن خوبونه
بيا وطـن شـــهيد شـــهيد وي يادوي سترې مزلونه
بيا له قـــهره او له جـــوشه په ســوکو وهي ټانکونه
هــا زړي خاطـــرې ورشې وېښوي وېده مـــــغزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله ځي تر کندهاره یادوي کاږه تګونه
کله ستایي کونړونه په حجرو کي چنګ برېتونه
کله پورته بدخشان کي لټوي ښکلي لعلونه
یا په دښتو د پروان کي دلاله وو سره ګلونه

بیا په خیال کي یو ځل ورشی د غازیانو و ټولی ته
بیا په او ښکو ورته ناست وي د وطن بوري مورکی ته
بیا په سرو او ښکو ژړېږي د شهېد ورور و خورکی ته
بیا ورلیکی سلامونه د کوچني غازی سلګی ته

کله ستایي په وطن کي د غازیانو مورچلونه
کله غندي د بیدردو او نامردو چپاوونه
کله ستایي د باتورو جنګیالیانو سنګرونه
کله غندي په کوڅو کي بېګګانه او پردي پلونه

بیا خیام وي بیا باران وي بیا پیالې وي
مېله وال له ښاره ووځی د بابا صاحب مېلې وي
د یارانو په ټولی کي هم سندري هم نغمې وي
وریادېږي یي جونګړه رڼ کړي خپلي شپې وي

بیا زاهد او معتصب ته ریاکاني ورپېغور کړي
بیا په شعر او په خیال راته سینګار د بابا کور کړي
بیا ورځي تر خپل جانانه بهانه د ابا ګور کړي
چي بیا وروسته رقیبان یي په محفل کي ورپېغور کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په خپلو سترګو ویني د پېغلانو ګودرونه
د تیارو اجاره دار پکښې کړلي افتونه
پېغلي نه شی وړای ګودر ته شنه منګي او امېلونه
په ګودر کي د پېغلانو د پردیو مورچلونه

بیا کابل وي مستي پېغلي یي پښي لوڅي وریا دېږي
یتیمان او ببر سري ماشومان ورته ژړېږي
کلاګاني د بابا یې د پردو په لاس نړېږي
په ناورین د زورورو عزتونه خرابېږي

بیا ځوانانو د وطن ته په خوږه ژبه ګویا دئ
وایي پرېږدئ سنګرونه دا وطن مو د ابا دئ
د مورچل و ځوان ته وایي چي دا کلی زما او ستا دئ
تا د خور ټکری پېیلی دا دستور د نا اشنا دئ

کله غاړه د هلمند کي راته ستایي اتڼونه
د هلمند نه جلاله ته وړي شرنګي او امېلونه
کله ځي د هندوکش نه یوار ګوري خیبرونه
کله ځي و هدېروته را شمیري ماشوم قبرونه

بیا پر لویه لار روان وي وېښوي ویده خوبونه
بیا د اوښکو په زورونو ورانوي کښلي خطونه
بیا بوډی اسمان ته وائګي نور دي نه وړم فرمانونه
ما یوه سجده منلې نور یې نسته محرابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په سـره غرمه میوند وي بیا ایوب او ملالۍ وي
بیا بولدک وي بیا لښکري ورسره چي تور پېکۍ وي
بیا میرویس وي بیا جرګې وي ګورګینانو چي سلګۍ وي
بیا بابا توره ایستلې د غـازیانو چي ټولۍ وي

کـله ډاډ وي لارویانو او لار ورکو قافلو ته
چي هـا تللي په سېلونو توتکۍ به بېرته راسي
کله مـل وي د پردېسو او غـمجنو مساپرو
وايي توري شـپې تېګرېږي دا وطن به زما او ستا سي

کـله زېري شي ساقي ته او غوږ کي ورته وايي
د حـمید د ترانو او شـنو پیالو دور به بیا سي
کـله تور چپه کاکل د خپل جانان په خوب کي وېني
په تعبګیر کـي د زاغانو پایـکوبونه به رسوا سي

بیا د خـیال په ټال یاغـي سي تاریخونه وریادېږي
هـغه توره د بابا یې هر ګـړۍ مـخ ته ځلېږي
وايي ولـي زموږ غـازیان له قبرو نه راپورته کېږي
دا ژوندي په مـړو حساب دي چي وطن یې لېلامېږي

تاسو یې پېژنئ دا څوک دئ؟
دا ازل ته یاغـی سـوی
چي جـانان یې خپل وطن دئ
او وطـن یې پردی سـوی
چـا په غوږ کـي راته ووې

(c) ketabton.com: The Digital Library



" زه یې پېژنم غني دئ دا زړور دا ببر سری "
ما وې نه ګــرانه غلط ســوې زموږ د هـیلو
" جــهاني " دی د جانان په لــمبو سوی

&&&

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جهانی څوک دئ ؟

د هیواد خوږژبی، نازکخیال او نامتو شاعر او لیکوال او له هیواده هغه مساپر اشنا یادوم، د چا د لمر ښار چې تروږمۍ نیولی دی او خونه یې د مرګي له ساندو ډکه ده. د هیواد د ځوانانو په لاسو کې یې پردي تېغونه دي او بې سترګو توري چلوي.

د غلیم خیرن لاسونه یې د هیوادوالو په سپېڅلو وینو سره دی، کلي او کورېې د کاڼو مالت جوړ سوی دی. د ده د ناز وطن ته د اغیارو مرکې رابلل کېږي او پردي یې د خوبونو تعبیرونه کوي.

د پېغلانو په ګودرونو یې د پردیو سنګرونه جوړ سوي دي. د ګلانو په وطن کې یې اغزیو پېري کرلي دي او د شپې شیطان یې د دیدنونو ماښام تورولی دی. دی چې اغزی اغزی ژوندون تېروي د خیالونو پر اوږو و خپل جانان ته چې د ده ګران هیواد دی مسافري سجدی ورلېږي.

شاعر چې د ملالي سرتوري د نامحرمو په ولات کې نه سي زغملای یاغي کېږي، د ازل خزانونه نه مني او د حق د لیونو لښکر جوړوي د پېریو طلسم ماتوي او د قدرت زولنې شلوی. کله ټانکونه په سوکونو اوبوي او کله خوېې د قهر چیغې د غلیم د بنګلې چت را لړزوې. دی فیصله کوی چې دا ولس د اېلېدلو نه دی او د زاغانو جنازې له خپله باغه باسي، د خپلو رنځورو کنډوالو اسوېلي ته په لپو لپو ژاړي او د غازیانو د بګړیو د وینو څاڅکي یې زوروی، نو ځکه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرګ د قافلو ملګرې کېږي خو د ده مغروره ککرۍ ترڅمکې نه ورځي.

دی دا کړې وړې بګړۍ راغونډوي او د غلیم په بنګلو کې بل میوند جوړوي، د چنګېز پر کور ناورین د خپل هغه غیور ولس چې د اورنګ خنجر یې پڅ کړی دی او د فرنګ توپونه یې خاموش کړېدي مېړانه او سربښندنه و غلیمانو ته وریادو.

جهاني "شنه اسمان ته د خپلو غرونو زلزلې وریادوی" د ملالې میوندۍ چیغې په شنه اسمان اوري او د رېدي او تورپېکۍ کیسې په لوړ آواز بیانوي. د فتحې په جشنونو کې هېڅ شک نلري څکه دی خپل قام یو توپاني قام بولي. د حسین جامې اغوندي او تر خپل جانانه تنها ورځي، د زولنو شرنګهار ته په ورین تندي ور روان دی لکه منصور پردار ورته خېژي او د سکروټو په قلم ورته اشعار لیکي.

عبدالمجید
ډنمارک ۲۰۰۵ع کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جهاني د ژوند ليک په اړه

خوښ يم چي د هيواد د شعر او شاعرۍ په هسک کښي د يوه ځلېدونکي ستوري ښاغلي عبدالباري جهاني د ژوند ليک په اړه څه ليکم، ښاغلی جهاني که په خپل هيواد او هيوادوالو کښي منلی او د اوسمهال د پياوړو، غښتلو او سرواله شاعرانو او ليکوالانو څخه ګڼل کيږي، د هيواد د پولو څخه په هغه خوا هم د ښه نامه څښتن دی، دغه ليکنه کندهار ته د ۱۳۸۴ ل کال کي د دوی د راتلو پر مهال د غوايي د مياشتي پر (۱۴مه) نېټه په تېرو درو کالو کښي په پرله پسې توګه د درپيم ځل له پاره د اطلاعاتو او کلتور رياست له لوري د دوی په وياړ د يوې درنې او لويي شعرغونډې د پيلېدونکي وينا په توګه ما عبدالمجيد بابي واورول، دا چي په هغې کښي د ښاغلي جهاني د ژوندانه په اړه څو ټکي څرګند سوي وه له همدې امله کله چي نارنج خپرندويه ټولني ته د دوی همدا نوې راغونډه سوې شعري ټولګه (کوه طور) د چاپ له پاره سپارل سوې وه نو دا خبره هم ياده سوې وه چي همدا ليکنه دي د همدې ټولګي په سرپاڼو کښي ځای ولري، که څه هم په هغه شعرغونډه کښي هم ما يادونه کړې وه چي زموږ دغه نوموتی او پېژندل سوی شاعر د چا له لوري پېژندني ته اړتيا نه لري او ټول يې پېژني خو د دغسي مېړنيانو د ژوندانه د بېلا بيلو اړخونو بيا بيا يادونه هم د نن او هم د سبا له پاره د ارزښتونو څخه خالي نه وي، د دوی د پېژندني په اړه چي ما څه راغونډ کړي هغه ستاسو په وړاندي په لاندي توګه ايږدم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی عبدالباري جهاني د نن څخه ۵۷ کاله دمخه په ۱۳۲۷ لمريز کال د کندهار ښار کابل دروازې ته نژدې د باميزو د کوڅې په ختيځه څنډه کښې د خپل سوداګر او شتمن پلار ارواښاد عبدالاحمد خان په کور کښې زېږېدلی دی. ښاغلی جهاني د پلار لومړی زوی او پلار يې د خلکو او دوستانو په منځ کښې د ښه نوم، پستې ګذارې او ښه چلند څښتن و.

د ښاغلي محمد معصوم هوتک په وينا جهاني لومړنۍ دوديزه زده کړې د ملا نورمحمد څخه تر لاسه کړې دي. کله چې د هغوی د ژوندانه ګړې د رسمي ليک لوست تر پولي رسېدلي نو يې په کندهار کښې ميرويس نيکه لېسې ته مخه کړې او تر دوولسم ټولګۍ پوري يې همدلته د لوست او زده کړې د پړاوونو يو ټاکلی پړاو بشپړ کړ. وروسته يې د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو په پوهنځي کښې د تاريخ او جغرافيې په برخه کښې تر ۱۳۵۱ ل کال پوري لوړې زده کړې وکړې.

ښاغلي جهاني د پوهنځي په ټوله موده کښې د شعر و لوري ته په پراخه کچه مخه وکړه، شعر يې ښه وپاله او د هغه روزني ته يې ټينګه ملا وتړل څو نن دا ويارلري چې په هيواد او د هيواد څخه دباندې په فرهنګي او ادبي سړيو او کړيو کښې د يوه وتلي او منلي شاعر په توګه ځلېدلی دی. دا چې نن د هغوی شعر ښکلی، منلی او د پختيا تر پولي رسېدلی دی دا د هغوی مينه ده چې د شعر سره يې د همهغه مهاله چې لا زنکی و،پاللې او روزلې ده. کله چې په ميرويس نکيه ښوونځي کښې په لوست بوخت و،د پښتو د نوموتو شاعرانو شعرونه د ده د فکر او ذکر مشغولا وه. په دغو مشغولاوو او بوختياوو کښې جهاني د لوړ تخيل تر هغې کچې ځان ورساوه چې له ځانه يې جهان ته لاس وغځاوه، د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي شعرونه د خپرونو ښکلا سوه او د ډېرو لويانو، مشرانو او ځوانانو د پاملرنې، کتنې او اورېدنې وړ وګرځېده او په دې توګه لا تر اوسه که د ځان و نور د جهان سو او کله چي بيا د دغه جهان و جهان ته د بل جهان څخه سره په رابهېدو سوه او زموږ جهان يې سره تبې وګرځوله د مليونونو پښتنو او افغانانو سره د دې جهان جهاني هم کړه وکړه د خپلو خلکو د کړاوونو او ستونزو څخه د ډکو او ترټلو ورځو ليدو تر دې پولې وکړاوه چي ځان ځني هېر او خپل بېوزلي ولس ته يې په بېوزلۍ کښې داسي د تسل مرغلري راغونډې کړې چي د ورکو د (ورکي مېني) په ورکو او اشلو پشلو پاټو کښې د ورکو زړونو درناوي او سلامي زموږ دغه ورک ورور هلته هم جهاني کړ، داسي جهاني چي اوس يې خپل او پردي ټول د يوه پاخه، وتلي او منلي شاعر په توګه پېژني، هغوی د شعر په نړۍ کښې د يوه نوښتګر او نوميالي شاعر څېره د ځان کړې، داسي شاعر چي د شعر منځپانګه او ورسره هنر او ښکلا يې هم ښاغلې او غښتلې ده چي د هيواد د اوسمهال د پښتو شعر برخه ورباندي وياړي.

که رښتينې پرېکړه وسي دوی ته د دوی همدغو غښتلو او ښاغلو شعرونو د اوسنيو پښتو شاعرانو په شاعرانه يون کښې د ګوته په شمېرو مخکښانو تر څنګ د مخکښۍ لنګوټه ورپر سر کړېده او که دغه ټوله خبري په څو لنډو ټکو کي راونغاړو نو بايد وويل سي : جهاني يو استعداد دی او شعرونه يې په پښتو ادب کښې د څرنګوالي، ډول او بڼې او هم د ښه او شعري موازينو په ګڼه پسولل سوې زېرمه ګڼلای سو.

د دوی په برخه کي دا پرېکړه نه زما ده او نه د هغه او دغه چا ده. دا پرېکړه د ولس پرېکړه ده، دا د ادب پوهانو او لويانو پرېکړه ده او دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر د خوښوونکو او مينانو پرېکړه ده او پر دغو ټولو باندي د منلو او مهر لګولو پـه توګـه دا د هيـواد د وتلـي او منلـي ليکـوال، څېړونکـي، ژبپوه، شاعر او تاريخ ليکونکي اروانښاد علامه رشاد بابا پرېکړه ده.

چي دا پرېکړه د ټولو پرېکړو او د دوی پـه برخـه کښي د ښـو اندونو د څښتنانو د نظرونو د قبلوني له پاره ډېر ښه لاسوند ګڼلای سو.

هغـوی فرمـايي : "ښـاغلی عبـدالباري جهـاني ځـوان پـښتون شـاعر دی، زمـا پـه خيـال ابتکـار او سلاسـت د ده د شـعر ځانګړتيـاوي دي...

د ده پـر نغمـو مـستي نـاڅي، او د ده ترانـو تـه شـاپېری اتـڼ اچوي... د جمال جلوې لـه ده څخـه ځان او جهـان هېروي.پـه دغـه جذبـه کي نه دی ځاني دی نه جهـاني، د احتـساب بېره يې لـه زړه وتلې وي، د مغـانو پـر دوکـانونو پـه ډېره زړه ورتيـا ګرځـي، پـه خـورا بې احتيـاطي د ميخانو ترلي دروازې ورټکوي، د حسن پر کعبو طوافونه کوي. د ميني د بت پر پښو تندي موږي، ځکه نو زه دی ياغي شاعر بولم.د ښـاغلي جهاني د فکر شهباز د نوو معناوو پـه ښکار پسي ډېري هسکي الـوتني کوي او بې ښکاره نه راستنيږي ځکه نو زه دی مبتکر شاعر بولم...

دا ځـوان شـاعر زيـار باسـي د ګـران وطـن پـر شـمه بانـدي سرښـندونکي پټنهـان د سـتی کېـدلو لـه پـاره راوبـولي. د ده شـعر بـې مبالغې د افغان ولس د ويښتيا له پاره هغه سوي چغي دي چي ږغ يې پـه اورېدلو کي د غوږ او پـه لوستلو کي د سترګو لـه لاري بځرکي پاشي. رنځېدلی او کړېدلی افغان ولس ملي وحدت تـه هڅوي. د ده استعارې هغه تارونه او کنايې هغه ستني دي چي زړونه سره ګنډي...

د دې اسکېرلي ولس د سوځېدلي او لوليـه هيـواد پـه کربلا کـي جهـاني د حق پـر شـهيدانو سـاندي وايـي او کلـه د يزيـدانو پـه لټـون د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـاغزو پـه غـوږو مـشالونه لګـوي. زه د ده د طبعـي پـه سـينا کـي هغـه روڼاوي وينم چي د ډيرو به د هغو ديدار نه وي په نصيب سوی...".
درنو لوستونکو !

د ښاغلي جهاني په اړه به ډېر ، ډېر څه ووايي، خو ډېر به د لوی ښوواند علامه رشاد بابا سره د دوی د همدغو لورينو پـه برخه کښي همږغه وي. نو زه هم د ډيرو سره هملاری کېږم او د جهاني په برخه کښي د علامه بابا همدا پيرزوني د خپلي ليکني له پاره بسندويه ګڼم.

په درنښت
عبدالمجيد بابی
د کندهار د اطلاعاتو ، کلتور او ګرځندوی رئيس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مناجات

د جانان د بلا مخ ته خدایه زر ځله مي سپر کې
لکه غشی پر سینه مي د رقیب ور برابر کې

چې پرون یې ور په یاد سي د دښمن د بورو ورارو
یوه چیغه مې لا پورته پر شمشاد او پر خیبر کې
یا شرنګې د سپینو تورو یا محمود وي یا اشرف وي
پر لښکر د غلیمانو د مرګي د پوځ ګذر کې
یا میدان د پانی پت وي یا ګلګوني توري راسي
پر لښکر د مرهټې مې د احمد لاسونه بر کې
چې مړژواندي ورنه تښتي افسران د پرنګیانو
په کابل کي مې آسمانه یا پیدا وزیر اکبر کې

یا ملاله په میوند کي یا ایوب در څخه غوارم
یا مي لاندي تر اسونو د دښمن خوني لښکر کې
له امو ترا رغسانه له کنړ تر هریروده
د لستوني ښاماران مي یو په یو زهر او زبر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـوار بیـا راتـه تـاوده کـې زمـا د قـام سـاړه رګونـه
بیـده بخـت راتـه ویښ کـې را پـخـلا مـې مـرور کـې
بیـا جـشنونه پـه ښـارو کـې اتڼونـه پـه دښـتو کـې
بیا پیغلوټې په خېمو کې بیا مې کور په کور اختر کې
لــه پــامیر تــر کنــدهاره لــه هلمنــده تــر مــزاره
اولـسونه مـې پـه چیغـو ربـه یـو پـه یـو خبـر کـې
چې یو روح سې بل یې تن سې یو یې سر بل یې بدن سې
چـې جـارېږي یـو تربلـه یـو میـرا بـل قلنـدر کـې
لــه کنــړه تــر ارغنــده لــه پنجــشېره تــر میونــده
هریو بوټې مې سوما کې هریو څاڅکې یې کوثر کې
چې دا لمر وي دا اسمان وي د پښتون قام دې ودان وي
د دښـمن عمـر یـې خدایـه لنډ د ژمـې مـازیګر کـې

چې رنډې کې غبرګې سترګې د فرنګ د میراث خورو
د مرګـې لـه خوبـه ویښ مـې د افغـان بیـده ټبـر کـې
هم یې ویښ کې له خوبونو هم الفت ورکې د زړونو
هم یـې تـن جـوړ کـې لـه زغـرو هـم رڼـا د عقـل ورکـې

چې جهان ورتـه حیران وي چې خجل ورتـه سیالان وي
زمــا د هــر وګــړي ســترګې آیینــه د ســکندر کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني چي پکښي ليکي د زمري اولس نظمونه
هر آوازيې د بلال کې هره لوېشت ورته منبر کې

۸/۱۲/۲۰۰۱

ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

خدایه کوم لوري ته ځمه نه د ځان نه د جانان یم
نه له ښکلیو یاغي سوی نه د زلفو بندیوان یم

زړه مي ځي د ساقي کور ته آیینه مي بولي ګور ته
ما د مني رنګ اخیستی نیم بوډا یمه نیم ځوان یم
نه مي بړغ چا ته اشنا دی نه سندري مي څوک
اوري
له منزله نا خبره کښېوتلی په کاروان یم
له رحمانه مي زده کړی متانت د درویشانو
په بهار او په خزان کي مستقیم په خپل مکان یم
دا یوه شېبه هستي مي د نېستی په نوم راوړي
لکه اوښکه در ته راغلم په بڼو کي اوېزان یم
نه راتلل مي په اختیار وه نه په تللو مي خبر یم
د شبنم په دود راغلی د شبنم په دود روان یم
نه سندره سوم د میني نه کیسه د نیمو شپو یم
نه فرهاد یمه د غرونو نه مجنون د بیابان یم
نه خلیل سوم د اورونو نه خیام د محفلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه منصور یم د دارونو نه د کاڼو په ښان یم
سر خریي دي سوه په برخه ځه رهي سه لېونتوبه
د سکروټو پر سر یون دی د خیالونو جاله وان یم
مبارک دي سه خوبونه زلېخا لمن مي نیسه
د یعقوب د اوښکو پل یم رسېدلی تر کنعان یم
وزرونه مي راوړي چي تیار هغه د یار دي
نن یې وسوځه پانو سه زه چي خان یم په یاران یم
یو نصیب یو جهاني دی څو سندري د اغزیو
تریخ تاراج دی د غوټیو زه همزولی د خزان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

یار چي له اغیاره سره مل سو اوس به څه وایو
درد چي له پرهاره سره خپل سو اوس به څه وایو
ولاړو د شهیدو سفرونو له کاروان سره
ورک چي مو له سیوري سره پل سو اوس به څه وایو
موږ خو پسرلي ته د ګلونو کجکولونیوی
اوریې د اوربل پر سینه بل سو اوس به څه وایو
خپل نصیب مي لاره پر سکروټو راښوولې وه
ورک مو له منزل سره مزل سو اوس به څه وایو
موږ په قافلو کي غبرګي سترګي پسي یو وړلې
ولاړی د یوسف کمیس بدل سو اوس به څه وایو
ما تر کوه قافه پوري هر قدم شمېرلی و
خپل قسمت په لار کي راته غل سو اوس به څه وایو
ما لا جهانی زلمي کلونه ورته ایښي وه
ږغ مي په کوګل کي د اجل سو اوس به څه وایو
ویرجینیا ۱۵/۸/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

راځـه زه بـه غـزل درتـه لـيکم تـه راتـه ګـوره
پـه تـورو بـه دي شـونډي مچـوم تـه راتـه ګـوره
د زړه پـه شيش محفل کي دي تصوير پيوندومه
پـه خيال کي بـه دي زلفي لوبـوم تـه راتـه ګـوره
محفـل تـه مـي راوړي نذرانـه دي وزرونـه
بـورا رنګـه بـه ځـان کبـابوم تـه راتـه ګـوره
پـښېمانه مـي تنـدى دى د ځـوانۍ لـه سرکـښيو
محراب تـه دي سجدې درپسي وړم تـه راتـه ګـوره
بوډۍ لاس بـه مي نيسي لـه ګلرخ ساقي جامونـه
زلمـۍ زلمـۍ پيـالې بـه تـشوم تـه راتـه ګـوره
د عمـر لـه دوږخـه مـي ځنځيـر درتـه راوړى
دانـه دانـه توبـه مـي مـاتوم تـه راتـه ګـوره

ازل مـي پـه غوټيـو کـي نـصيب نـه و سـاتلى
سـينه بـه پـه اغزيـو سـولوم تـه راتـه ګـوره
درځـم لـه لېونيـو وينـو مـست او رنګېـدلى
جنـون تـه بـه مـي کـاڼي ژړوم تـه راتـه ګـوره
کاڼـه بـه مـي پـه چيغـو کـم غوږونـه د وختونـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شین چتر د اسمان به لړزوم ته راته ګوره
وعده مي له فرهاده سره نوې کړه جانانه
تیشه مي پر تندي باندي د روړم ته راته ګوره
نصیب له جهاني سره جوړه یمه راوړی
زخمي سلګۍ په اوښکو اوبوم ته راته ګوره

۳۰/۸/۲۰۰۴
واشنګټن ډي سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

ولاړل چي پرون يې د قسمت ما ښام ته وخندل
نن په جګه غاړه يې منصور مقام ته وخندل
ځنګه به په سرو سترګو د قتل ګناه وژاړي
موږ خو د خپل حق د اناالحق پيغام ته وخندل
پرېږده محتسبه د خرقې د دوه رنګۍ جنت
موږ په يو رنګي کي دوږخي انجام ته وخندل
چا د انګوري شونډو مستۍ دلته راوړي يو
شرنګ مو د سندرو د کوثرو جام ته وخندل
راسه په رښا کي د پرهېز جنازه وباسو
شيخ چي د منبر پر څوکه خپل کلام ته وخندل
رنګ د لېونتوب يې ايله نن په سترګو وليدی
خم په وچو شونډو کي چي زموږ خيام ته
وخندل
ولاړی جهاني د خپل نصيب د قافلې سره
کرښو د تندي يې د ازل مرام ته وخندل
۲۰/۱۲/۲۰۰۲ ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

راځې چې پر دې لاره پيغامونه به راوړي
ځولۍ ته د خيالونو مې ګلونه به راوړي

زاهد مې په سبا سبا زلمي کلونه يوړل
ساقي توبه مې خرڅه کړه جامونه به راوړي

قسمته له يارانو په توپان کې يم بېل سوی
ساحل درڅخه وړی يم موجونه به راوړي

پوهېږم چې رانه غله اوس مې سترګې
ورلېږمه
جنونه هوښيار ېږم ځنځيرونه به راوړي

رقيب مي په سکروټو جنازې ته لار نيولې
رويباره تر مزاره سلامونه به راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرور مي په تندي کي سوځوم درته راځمه
سجدې ته مې جانانه محرابونه به راوړي

چي ستړې دي له ژونده يم محفل ته درغلى
پانوسه وزرونو ته اورونه به راوړي

کنعان ته مي ويلي جهاني ماشوم خوبونه
د ستورو ترګودره تعبيرونه به راوړي

۴/۹/۲۰۰۴
ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

کله ورک یمه په ځان کي کله ستا په تماشا سم
هم تصویر هم آیینه سم هم پخپله درته راسم
له محل ثخه دروزم بې خبره لکه اوښکه
لا می پل اخیستی نه وي چي په لارکي نیمه خوا سم
چي پخپله مي دربولې د ختهین صنم سجدې ته
بیا په کومو سترګو درسم بیا په بیرته ثنګه ستا سم
نه خبر په خپل وجود یم نه اختیار مي دی راوړی
کله شمع د محفل یم کله سوځمه بورا سم
کله زه پر خیال مین یم کله خیال راپسي ګرځي
کله چیغه د جنون یم کله حسن د لیلا سم
د نسیم پر اوږو راغلم له شنبم سره مي شپه سوه
د ذرې د کور مېلمه وم زه به ثرنګه پیدا سم

خزانه یم د رازونو په دې خپل ذره وجود کي
کله شپول د طوافونو کله کور د کبریا سم
دا یوه کیسه د میني بې حسابه شوندې وایي
کله ښکار سم په کنعان کي کله تور د زلیخا سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تنها کو مې کړل سترې د اغزيو د کور غشي
په خلوت کې مې پيدا کړې نور به ذکر د راييا سم
له ذرې تر کهکشانه قلم يو نوم را ښودلی
د اغيار په نامه څنګه په ګونګې ژبه ګويا سم
له خليله تر منصوره هنګامه د نار او نور ده
زه پتنګ ته مې لمبه يې اوس به څرنګه تنها سم
له ازله تر ابده يو جرس يوه نغمه ده
د حيرت په قافله کې کله طور کله سينا سم
جهاني ته دي ورکړی له نامه سره تقدير دی
هر نفس را سره مل يې يو دم څرنګه بې تا سم

۳۰/۹/۲۰۰۴

ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

چې دي هجر ته پیدا شپه د ازل یم
وایه څنګه به سوځلی اور د بل یم

بېله ما منزل ته نه سې رسېدلای
د اوږده سفر په لار کې دي یو پل یم

که هر څه دي په نظر وروکی ښکارم
ستا د عمر په یوه شپه کې مشل یم

ماته مه راوړه دارو له پاړو ګرو
زه د خپل زګېروي په زخم کې درمل یم

بې وزره، بې هدفه مې پرواز دی
له شبنم سره راغلی خپل اجل یم
د پېړی له پرهارو مې وینې څاڅي
د نصیب غشیو ویشتلی یم کابل یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېګانــه بــه د مرګــي پــر نيلــي ســپور ځــي
پخــوانی دي د ګــودرد ديــدن غــل يــم

د زلمــۍ مينــي پــه ســترګه راتــه ګــوره
جهــاني درتــه راغلــی يمــه خپــل يــم

۲۰۰۴/۱۰/۱۹

ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

ماتـه د وصـال او د هجـران کيـسه معلومـه ده
زړه تـه مـي رويبـاره د جانـان کيـسه معلومـه ده

هرڅـه دي د سـرو سـترګو پـه ژبـه راتـه وويـل
زمـا د ارمـانونو د خـزان کيـسه معلومـه ده

ماتـه سـرابونه د اميـد پـر کربـنو مـه ښـيه
زمـا تـږي جنـون تـه د بيابـان کيـسه معلومـه ده

ماتـه د ازل پـه ګوتـو وليکـل رنځـور قلـم
زخـم تـه مـي ګرانـه د درمـان کيـسه معلومـه ده

څه به له قاتل څخه مهلت په هره شپه غواړو
ماته يې په سترګو کې د ځان کيسه معلومه ده
مه راوړه تندي ته مي انکار په انګارونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاتـه مـي نمـروده د ايمـان کيـسه معلومـه ده

څـه بـه مـي بـوډا نظـر تـه نيـسې د حيـا پلـو
ماته دي پر شونډو د پيزوان کيـسه معلومه ده

نـوري پـه څپـو کـي الاهـو سـندري مـه بولـه
رنګ د زمـانې کـي د توپـان کيسه معلومـه ده

ولاړل جهـاني زاړه يـاران بيـا بـه سـتانه نـه سـي
وايـي ملاجـان د بـل جهـان کيـسه معلومـه ده

۲۰۰۴/۱۰/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

ستا خیال مي په قدم قدم ملګری و درتلم
زر ځله دي په لار کي پریوتم پورته کېدم

آذر رنګه مي ځانته په تندي کی وې تراشلی
د خپل هنر پر ګوتو مي سجده غوندي لوېدم

دا زېری د وصال که د بېلتون و خبر نه یم
چي تا لره درتلمه پر خپل ځان مینېدم

د شمعي له محفله مي پندونه وه اخیستي
په خوله کي لمبه نه وه په سینه کي سوځېدم

اسمانه له زخمونو مي فریاد نه دی راوړی
سنګسار ته چي ورتلمه پر مزل مي ژړېدم
د عقل په ډېوه مي اشنا لاري کړلې ورکي
رښا ته وم راغلی په تیارو کي ډوبېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي هر څه د تیارې کوګل ته تلمه پوهیدمه
چې ستا په آیینه کې لکه وړانګه ځلیدم

چي ځنګه مي په خپل نامه دروغ کړه خبر نه یم
په خپله ګناه پوه سوم چي په دار کي زنګېدم

یو خوب مي دی لیدلی جهاني تعبیریې څه
دی؟
د رنګ په سمندر کې لکه ځاځکې ورکېدم

۲۲/۱۱/۲۰۰۴
ویرجینیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

د قلم پـه ژبـه پـوه يـم چـي پرېشان خوبونـه ويـنم
د وصال پر مړوند پروت يم د هجران خوبونه وينم
تـوره شپه ده سـمندر دی سيلۍ الـوزي څپې دي
د سـاحل پـر پـسته غېـږه د توپـان خوبونـه ويـنم
نـه ډوبيـږم پـه څپـو کـي نـه مـي لار پـر ګـودر وزي
د نـصيب سترګي مي سرې دي د اسمان خوبونه
ويـــــــــــــــــــــــــــــــــــــنم
د ازل کـــانې ويـــشتلی زر ټـــوټې لکـــه هينـــداره
چي په خيال کي درسره يم د خپل ځان خوبونه وينم
ستا د حسن په سپيدو کي لکه خال داسي څرګند
يـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــم
پـه محـراب کـي دي بـلال يـم د آذان خوبونـه ويـنم
لــه رحمانــه مــي راوړې يــوه شــپه د درويـشانو
پــه قــدم ځمــه تــر عرشــه د جانــان خوبونــه ويــنم

د ګلونــو لــه مالتــه د اغزيــو ښــار تــه راغلــم
د مجنـون پـه قـدم ځمـه د بيابـان خوبونـه ويـنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د وصل زېرى راغى هر قدم راته منزل سو
د جرس په تمه پايم د كاروان خوبونه وينم
شپې د عمر مې بوډۍ سوې لا سبا نه را رسيږي
قلندر دي يم په لار كې ميراجان خوبونه وينم
سپين وېښته مې راته ژاړي مساپر زلمي كلونه
زه هنوز ګودر ته ځېريم د پېزوان خوبونه وينم
له رباب سره زنګېږم جهاني چې ويښ مې نه كې
درخانۍ له نغمو څاڅي آدم خان خوبونه وينم

۲۲/۱۱/۲۰۰۴

ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

د رحمان بابا د غزل په اقتفاء

څــو جفــا قبولــه نــه کــړې د اغيــار
وبـه نـه وينـې پـه سـترګو مـخ د يـار

"څــو جفــا قبولــه نــه کــړې د اغيــار"
لـه نـصيب سـره دې نـسته نـوم د يـار

هــره لاريـــې د جنـــون پـــر وطـــن وزي
رباتونـــه يـــې کرلـــي دي پـــه خـــار

دا وطــن د بېلتانــه کــور د هجــران دی
د وصـال پـر پـانوس شـپې دي د انګـار

ايلـه نـن پـر هـوښ راغلـی يـم يـارانو
عقـــل راوړې زولنـــې کـــرار کـــرار
چې هـر پـل مـې د ازل پـه وينـو کـښلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بـــه څرنګــه پرېږدمــــه هغــــه لار

لکـه شـمع پـه لمبـه مـي ژونـد تېرلـی
قـسمت راکـړ پـه سـکروټه کـي قـرار

دا د کومی منصوري چيغي افسون دی
ايينــه مــي ښــيي مــخ د خپــل نګــار

چي کوڅې يې سوې په نوم د غمازانو
راتـــه مـــه يـــادوه نـــوم د هغـــه ښـــار

جهـاني نـن د رحمـان پـه ليکـه راغلـم
درتـه ښـيم پـه قـدم د عـرش رفتـار

۲۳/۱۲/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

کیسې مې د سوځلي ګلستان مه یادوه
په کور کې د بلبلو مې زاغان مه یادوه

پوهېږم چې پردی سومه د مینې په وطن کې
اغیار راته په کور کې د جانان مه یادوه

اسمانه ترلمنې دې په سوال نه یم راغلی
نسکورو پیمانو ته مې یاران مه یادوه

تندې مې په څپو کې ځوانیمرګې شپې منلې
د ماتې بېړۍ کور ته مې توپان مه یادوه

د شپې تورو منګولو اوربلونه دې وژلي
زلمیو هدیرو ته مې پېزوان مه یادوه
له شمعې تښتېدلې دې لمبې د محفلونو
پانوس ته په تیارو کې پتنګان مه یادوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکر د ابو جهل دي چښلي د حق وينې
د زړه شهيد بلال ته مې آذان مه يادوه

د سيوري په ګامونو جهاني درسره ځمه
تنها کو ته اغزي مې په هر آن مه يادوه

۱۸/۸/۲۰۰۴
ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

زما د زخمي زړه له کوګله یې غوغا وړې ده
د رقیب ضد مي له لېمو څخه ژړا وړې ده

کلونه کیږي نه آواز نه یې نکلونه راځي
چا د مجنون له غلبلو څخه بېدیا وړې ده

نن له خلوته څخه ږغ د ذکر نه راوزي
شیخ د شرابو په پیاله پسې بوریا وړې ده

اوس یې د غله دیدن له شرمه سترګې نه
تخنیږي
شیطان د پیغلو له وطن څخه حیا وړې ده

نور یې د ښتونه د لمبو له ګرمۍ ښکلي نه دي
چا د کیږدیو له ماښام څخه رڼا وړې ده
نه څوک راځي نه مې رویبار پر ژبه زېری لري
چې لېونۍ مینې مې بیا د چا ښرا وړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به له لاري څنګه ګرځي پښتانه قولونه
د دې تورونو يې په سل ځله سزا وړې ده

جهاني پرېږده د جانان او د وصال خوبونه
ستا له قسمته يې هغه شېبه په غلا وړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

راځــه یــوه شــېبه مــي مــل ســه زه یــوازي یمــه
په دې پردي ښار کي مي خپل سه زه یوازي یمه

زه لکــه ســیوری د تیــارې کفــن تــه ولوېدمــه
پــر تــورو لارو مــي مــشعل ســه زه یــوازي یمــه

زما پـه اورغـوي کـي یـې کرښـي د بېلتـون وهلي
په خوب او خیال کي مي کابل سه زه یوازي یمه

د رقیبــانو انګــولا مــي کړلــې چیغــی ورکــي
پــر تــور لــښکر بانــدي یرغــل ســه زه یــوازي یمــه

د لتــه لــه چــا ســره کیــسې د بېلتــون وژړوم
راتــه نغمــه راتــه غــزل ســه زه یــوازي یمــه
زمــا د وصــال د نــصیب لاري دي اغــزو نیــولي
نــن د جانــان د کــوڅې پــل ســه زه یــوازي یمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسه په خيال کې د کېږديو تصوير ورنګوو
راته لمبه راته اوربل سه زه يو وازي يمه

پيغله حيا مې جهاني پلو ته ودرېده
زما د ګودر د ديدن غل سه زه يو وازي يمه

۱۱/۸/۲۰۰۴
ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

د خیال وزر ته مي بې وخته لمبې مه راوله
نصیبه نوري راته تشي پیالې مه راوله

زما لا پر عمر باندي پاته دي یاغی پورونه
زلمي تندي ته مي اسمانه سجدې مه راوله

د زلفو تور مي د ازل پر تندي نه دی کښلی
تر سپینو شپو مي د جنون سلسلې مه راوله

راته په برخه دي قسمته سرابي خوبونه
خیالي ساحل ته مي ببړۍ او څپې مه راوله

زه تصویرونه د ژوندون پر زنګانه بیدوم
له تیاره خیاله د زندان غلبلې مه راوله
زما یې کرلي په خوبونو کي قاتلي سترګي
راته په ویښه د جلاد غرغرې مه راوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتـه پـه زرځلـه فالونـه پـر بېلتـون ختلـي
د اوښکو کور تـه د جانان جنازې مـه راولـه

ماشـومې پـانې غولومـه د غـزل پـه ليکـو
د قلـم ستونې تـه د وينـو کيسـې مـه راولـه

راځه نن هېر کو جهاني ستا د اغزيـو سفر
هـره شـېبه دې د لمبـو قـافلې مـه راولـه

۲۳/۷/۲۰۰۴

ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

ماتــه مــه رانبــيه لاري د زمـــان د کړليچونـــو
ماتــه مــه شــمېره ګامونــه د پيــړۍ د کــاروانونو
ماتــه مــه وايــه چې ولاړل بيــا پــه بيرتــه نــه ستنيږي
نــه ټولــۍ راځــي د تلليــو نــه يــې شــرنګ د آوازونو
د ترخــو ورځــو ډولــۍ بــه د شــپېو لـښکري وخـوري
راتــه مــه تويــوه اوښــکي د يــارانو پــر يــادونو
بــې حــسابه جرســونه پــر دې لار بانــدي وتلــي
څــه مــړ ژوانــدي نــښي ګــورې پــه کوګــل کــې د
وختونـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــو
زه لا نــه يمــه خپــل ســوی د پــردو پــه ميکــده کــې
لــه خمــاره مــې تــورېږي رنــګ د نويــو شــرابونو
جهــاني پيالــه درنيــسه د ازل د څــاڅکو وېــش دی
نــه اشــنا يــو لــه محفلــه نــه خپلــوي ده لــه جــامونو

۳۰/۴/۲۰۰۴

ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

زه د مینی قلندر یم کچکول نه نیسم اسمان ته
نه د خضر په تلاښ یم نه جنون وړمه لقمان ته

نه د نن په مستۍ ښاد یم نه سبا به چا ته یاد یم
زه ازل سیوری پیدا کړم پل مي نه پرېږدي کاروان ته

نن يې بیا له سترګو اوري دوږخي زقوم په لپو
دا باران د رحم نه دی لمن مه نیسه توپان ته

د بلبلو تر موسمه د زاغانو سېل راغلی
پر شبنم توري پیرې دي بورا نه ځي ګلستان ته

دا له لیري چي ځلېږي د رقیب د کور ډېوې دي
موږ د شپو په ښار کي اوسو ورځ مو نسته شبستان
ته

ما له ستورو دي پېیلي خپل نصیب ته امېلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تعبیر په حکم ځمه لاري مه نیسه کنعان ته

سپین کالي سره یې لاسونه د منبر سر ته ختلی
ابو جهل دی راغلی د بلال په شپه آذان ته

جهاني زما یې درباندي ستا دي هېر زما دي په یاد
وي
ما یې پل و درښودلی تا یې لاس پرېښو ګریوان ته

۲۹/۴/۲۰۰۴

ویرجینیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

زاهد پر لار د میخانې سو هیڅ یې ونه ویل
هلته چې دېغ د پیمانې سو هیڅ یې ونه ویل

ساقي پیالې کړې پر رندانو په وېشلو سترې
دلته چې وار زموږ د پیالې سو هیڅ یې ونه ویل

د خسرو مینی د نکلونو شپې شیرینی کړلې
چی پکښې ذکر د تېشې سو هیڅ یې ونه ویل

د حق په چیغو یې کاڼه کړل د باطل غوږونه
چې یې نوبت د غرغرې سو هیڅ یې ونه ویل

چې د یوه اغزي په شور یې وطن سره لمبه کړ
او ر چې په کور د پروانې سو هیڅ یې ونه ویل
چې یې سندرې د لمبو په مزل نه سړېدې
رنګ چې بدل د زمانې سو هیڅ یې ونه ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا اسمان شپې د لیلی په مینه سپینې کړلې
وار د مجنون د افسانې سو هیڅ یې ونه ویل

لا یې په خوله کې وه کیسه د جهانې د جنون
کله چې شرنګ د زولنې سو هیڅ یې ونه ویل

۸/۶/۲۰۰۴
واشنګټن ډي سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

د خلوت پر لوري تلمه ميخانه راغله له کومه
نيت مي تا ته د سجدې و بتخانه راغله له کومه
نه خبر دی څوک په شمع نه پانوس ته څوک ور ګوري
دې محفل ته د بېدردو پروانه راغله له کومه
تور وېښته مي پکښې سپين کړل هغه څُم هغه ساقي
دی
په قسمت کی مي دا تشه پيمانه راغله له کومه
د آسمان تر چتر لاندې يا جنون دی يا مجنون دی
دا يوازې زما په برخه زولانه راغله له کومه
د نصيب د غشو سپر مي زخم زخم دی راوړی
ښکاري دام ته څه حاجت دی دا دانه راغله له کومه
نه کيسه د يوې شپې ده نه ګيله د يوه زخم
توره سره لاس دې رنګين دی بهانه راغله له کومه
که دې خيال د قفس نه و چې زګېروی مي زولانه کړې
وايه زړه مي در واری سه دا سينه راغله له کومه
له بګړې تر پلوونو توري ستړې سوې په وينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــر دې لژنــد مــازيګره پــښتنه راغلــه لــه کومــه
د شهيدې ځوانۍ ګور مي له جندې له شناختی هېر
دی
پــر پاتــا مــي د خيــالونو ترانــه راغلــه لــه کومــه
تــورو شــپو تيــاره پېړيــو شــېريني د کيــسو يــوورړه
زمـا تـر ستوني دې فرهاده افسانه راغله له کومه
نه يې شرنګ و په رباب کې نه يې رنګ و په کتاب
کـــــــــــــــــــــــې
شـيخه دا منـصوري چيغـه مـستانه راغله له کومه
جهــاني ســفر نيمګــړی لاري لنــډې وې د اوښــکو
زمـا ګرېـوان تـه يـې خالقـه اشيانه راغله له کومه

واشنګټن ډي سي
۱۳/۱۰/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

ساقي هوښيار يمه څو چيغې مې د شور پاتـه دي
زمـا د نـصيب جامونـه څرنګـه نـسکور پاتـه دي

زاهـده مـه راوړه محفـل تـه توبـه ګـاري کيـسې
چي مي په سپينو کي يو څو وېښته لا تور پاتـه دي

تـازه زخمونـه مـي د خيـال پـه اوښـکو مـه لمبـوه
د منصوري قـسمت مـي څـو کـاڼي لا نـور پاتـه دي

آيينــې ولــي مــي خوبونــه د لحــد ويــښوې
نيمګـړي عمـر تـه مـي ورځـي د پېغـور پاتـه دي

شـپې د ځـوانۍ لکـه شـېبې د وصـل وځلېـدې
د وروستي مني مي يو څو پاڼي پر کـور پاتـه دي
د زکنـدن شـپو تـه مـي مـه نيسه بخيلـي سـترګي
لا د نمــرودي زمــانې لمبــې د اور پاتــه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحله زه د عقل سترګي په خيال نه زنګوم
چي د توپان په زړه کي څو سېلۍ د زور پاته دي

د جهاني عمر به وروسته نذرانه در وړمه
پر وزرونو مي شغلې د پانوس پور پاته دي

ويرجينيا
۲۲/۱۱/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

شبنم رنګه په نيمه شپه تنها راغلی يم
يوه شپه تر غيږي د اشنا راغلی يم

غرور که مي تر پښو پوري سجدې ته نه دروزي
قسمته مرور ومه پخلا راغلی يم

په شونډو دي قسم خورمه له ځانه خبر نه يم
ساقي چي په ښکاره يم که په غلا راغلی يم

اغزي غوندي به ښکارم اوس د ګلو په کېږدۍ کي
زلمی در څخه تللی وم بوډا راغلی يم

نصيب مي لېونتوب ته کوراو ګور دی ور ښودلی
پر لاره د خوبونو تر بېديا راغلی يم
چي زما له سوځولو ډير غره نه سپي اسمانه
يو نوم يم په جنون کي تر ليلا راغلی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شمعي نه جامونو نه رندانو يم ليدلی
د مينی په وزر کي تر بورا راغلی يم

راځه جهاني څو به د مرګي سره وعدې ته
د عمر هديرې ته مي پخوا راغلی يم

ويرجينيا
۳۰/۴/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

خيال دي پر زړه باندي مېلمه سي چي يوازي سمه
د زړه پانوس لمبه لمبه سي چي يوازي سمه

ستا د يادونو پر شهيدي کربلا راځمه
د تور يزيد را باندي شپه سي چي يوازي سمه

له رقيبانو چي داني د اوښکو پټي وړمه
روان مي سېل پر ګرېوانه سي چي يوازي سمه

په آيينو کي دي تصوير دی د جمال وهلی
هره شېبه مي بتخانه سي چي يوازي سمه

نه دي قولونه نه پلمي غزل ته وړلای سمه
ورځ پر قلم باندي تياره سي چي يوازي سمه
چي پکښي عکس دي د سرو نازکو شونډو وينم
له ميو تشه مي پياله سي چي يوازي سمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د خيالونو تر لمبې مې وزر نه رسېږي
يوه يوه شمع دې مړه سې چې يوازې سمه

په دې پردېس رباټ کې ثونه او ښکي وسولوم
زړه د غمونو قافله سي چې يوازې سمه

لکه غوټۍ تر غوړېدو د مخه ورژېدم
ژوند مې خزان هره شېبه سي چې يوازې سمه

جهاني ما بې لا د وصل خوب ليدلی نه وي
رږغ د جانان د بېلتانه سي چې يوازې سمه

ويرجينيا
۲۴/۷/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

زړه مې راتـه وایـي لا ځـواني ده تـوبې مـاتي کـه
نـن د زاهـدانو پـه حـرم کـې سـجدې مـاتي کـه

ځـم چـې د تیـارې پـر زنګانـه خوبونـه وویـنم
سترګي یم لـه رنګـه دا پـانوس او ډیـوې مـاتي کـه

زه لـه دوه رنګیـه دې تیـارې تـه تـښتېدلی یـم
زړه کـی مـې جانانـه د تـصویر آیینـې مـاتي کـه

زمـا یـې لـه شـهپره د پـرواز نفـس ایـستلی دی
پـرې مـې بېده صـیاده د قفـس پنجـرې مـاتي کـه

نـن مـې ډبـرین تنـدی پـه جنـګ د قلـم ورغـی
راسـه لېونتوبـه دا نـسکورې پیـالې مـاتي کـه
ثونـه د آزر پـر قـدم پـل د سـجدې ونیـسم
مـه ګـوره خلیـل تـه د ایمـان زولنـې مـاتي کـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـه چـي لـه آدم څخـه تعبيـر د ګنـاه وپوښـتو
پـښو تـه د غنمـو د انګـورو کاسـې مـاتي کـه

بيـا مـي د خوبونـو پـر دښـتو کيـږدې وهلـي دي
مـسته کـه شـپېلۍ دي د سلګيو نغمې مـاتي کـه

خيـال تـه دي د وصـل جهـاني کچکـول راوړی دی
خوب تـه مي لمن کي څو د زلفو حلقې ماتي که

ويرجينيا
۱۲/۱۲/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

نوري کيسې د هغه تللي اشنا نه يادوو
يوه شېبه يې لکه پرخه ځلا نه يادوو

لا به تر څو د خيال په زلفو زنګوو خوبونه
ژوند به له تورو زولنو سره بيا نه يادوو

شپه ده سېلۍ دي د مرګي څپو اخيستې بېړۍ
په توپانو کې به ساحل د پخوا نه يادوو

څو به لا اوښکې تويوو د رباتو پر لمن
له هر قدم سره سفر نيمه خوا نه يادوو

له افسانو سره مو ښخې کړې اغزنې شېبې
هرې تنها کې ته دردونه جلا نه يادوو
هسې مو ستا په نامه شپې کړې په محراب کې ستړې
نوم دې جانانه په سجده کې تنها نه يادوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ دي مرګی ستا دي روزي سي د خسرو قصرونه
هــري تېــشې تــه بــه تنــدی پــه ژړا نــه يــادوو

ويرجينيا
۹/۵/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

جانانه په سجدو درته راغلی يمه ځم
څو ورځي دي په غېږ کي اوسېدلی يمه ځم

د اوښکو په ګامونو اسوېلو درڅخه ولاړم
له سترګو تر باڼو را رسېدلی يمه ځم

تر اوسه مي باقي دي پر کوڅو د پلونو نښي
يو عمر پر دي لارو ژړېدلی يمه ځم

پېغور چي د سيالۍ مي د رقيب را پاته نه سي
سل ځله دي سکروټو ازمېيلی يمه ځم

ته ناست وې لاس تر غاړه له رقيب سره همراز
پر شمع د محفل دي کړېدلی يمه ځم
د عقل پر کوڅو مي کاڼو سر دی پېژندلی
په ټول د لېونو کي چي ښاغلی يمه ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــه شــپو څخــه دي ولاړم جهــاني رنګــه پــه صــبر
لـــه شـــرنګه د نغمـــې دي پرېـــوتلی يمـــه ځـــم

ويرجينيا
۸/۵/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

نور مې د صبر په لېمو کې ډېوې مه بلوه
د رندو ښار دی په تيارو کې ډېوې مه بلوه

د رقيب ستر ګي نظر ماتي سپېلني سه درته
د تورو زلفو په سايو کې ډېوې مه بلوه

زه له مزاره د خوبونو په قدم درځمه
د انتظار په سپينو شپو کې ډېوې مه بلوه

ستا د جلوې په قدر کله پوهېدلي دي څوک
د غمازانو په خېمو کې ډېوې مه بلوه

کلونه کېږي قافلې باندې راغلې نه دي
په هېرو سويو رباتو کې ډېوې مه بلوه
چې پسله مرګه دي لا سيوری باندې نه اورېږي
د چا د هيلو په سينو کې ډېوې مه بلوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهـــاني نـــوم دی د کلـــي لـــه کيـــسو وتلـــی
نـور دي د خيـال پـه افـسانو کـي ډيـوې مـه بلـوه

ويرجينيا
۵/۹/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

هم له خسرو هم له فرهاده زمانه پاتې ږي
له چا د قصر کنګري له چا تېشه پاتې ږي

د زمانې اژدها ډېري افسانې خوړلي
د شپو په کلي کې يوه نيمه کيسه پاتې ږي

څه بڼه وختونه وه ځالې ته تلې راتلې مرغکې
اوس نه مرغۍ نه يې نغمې نه اشيانه پاتې ږي

دلته د ستورو په حساب دي راوتلي سترګي
له غمازانو به بېغمه څنګه شپه پاتې ږي

دا زندانونه د بلا په اجاره ختلي
چې بند بوان د شپې ورکېږي زولانه پاتې ږي
لا مې د عمر له کاتب سره حساب لرمه
ورکې شېبې مې د ځوانۍ دانه دانه پاتې ږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه سوې د وخت په تاريکو کي رغړېدلي اوښکي
چي خاطرې يې د زمان پر ګرېوانه پاتېږي

د جهاني د غزل شرنګ لا ختم سوی نه دی
پر پورورړو ترانو يې نذرانه پاتېږي

ويرجينيا
۱٦/۳/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

اوښکي مي د عمر پر ګرېوان دانه دانه راځي
شپو ته مي خوبونه لکه زلفی زولانه راځي

څه وايي د ژوند د مساپرو د قدم نښي
څوک چي پر دې توره لاره تللي دي بیا نه راځي

ستر ګي د سپین ږيري نکلچی له اوښکو ډکي دي
شپې ته د پرديسو اسويليو افسانه راځي

هيري د سوځلو وزرونو يې کيسې کړلې
نوی تر پانوس پوري لښکر د پروانه راځي

ځي د شيطانانو پر اوږو د محتسب کډې
نن له خراباته څخه چيغي رندانه راځي
فال مي لکه غشي د تيارې پر زړګي ورغی
ږغ مي له دښتونو د شپېلۍ او د شپانه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څــه بــه د زلميــو هوســونو خــاطرو تــه ځــو
شــرنګ تــه د پيــالو يــې بلــه ډلــه مــستانه راځــي

ځـو بـه جهـاني لکـه پـردي لـه دې محفـل څخـه
ګـوره چـي لا څـو بـه تـر دې کـوره ميلمانـه راځـي

ويرجينيا
۱۹/۲/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

زه به د رویباره سره درسم که دي زړه غواړي
سل ځله به ستا د بلا سپر سم که دي زړه غواړي

تا ته به لېمه د انتظار په اوښکو سپین کړمه
سم به دي په لار کي قلندر سم که دي زړه غواړي

ته چي تصویرونه د پېزوان پر نخولای سې
تا ته به زه هر قدم ګودر سم که دي زړه غواړي

نور به دي پانوس ته پروانه رنګه درتللای سې
زه به لکه شمع اور پر سر سم که دي زړه غواړي

ستا لاري يې ماته په لمبو کي اړولي دي
نور به د رقیب د زړه خنجر سم که دي زړه غواړي
نوم به دي جانانه افسانه د لېونو کړمه
چیغي د منصور ته به محشر سم که دي زړه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـا د جهـاني د وينـو رنـګ پکـښي ليـدلی دی
غـشيو د ښو تـه بـه سنګر سم کـه دي زړه غـوارِي

ويرجينيا
۲۰/۳/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

سـاېي راسـره تلـې راڅخـه پلونـه پاتېـدل
د هـر قـدم پـر کرښـو مـې يادونـه پاتېـدل

کيسې به مي تيارې رنګه د شپې پر سترګو ګرځي
تـر تـا پـوري درتلـم چـي مـي نکلونـه پاتېـدل

زمـا څـه دي لـه قلـم سـره اشـنا نـوري خبـري
د ژونـد پـر هـره پاڼـه مـي رنګونـه پاتېـدل

وېشونه قسمتي وه کـه مـي ورکـي کړلـې لاري
جنـون راسـره مـل و ځنځيرونـه پاتېـدل

د ژونـد لـه قـافلې سـره پـه لار کـي مـي يـادېږي
اغزيـو پېژنـدلی وم ګلونـه پاتېـدل
پـوه نـه سـوم چـي تـر دې منزلـه چـا يمـه راوړی؟
خوبونـه مـي ليدلـه تعبيرونـه پاتېـدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژونـدی بـه جهـاني وي لا څـو ورځـي پـه سـندرو
چـــي تللــم لـــه مطـــرب ســـره بيتونـــه پاتېـــدل

ويرجينيا
۱۷/۳/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

زړګیه بس که نور دي تللي یاران پاته نه دي
هغه محفل هغه مستي او رندان پاته نه دي

پر هره لوېشت یې د رقیب سترګو پیرې وهلي
هغه وعدې هغه کوڅې د جانان پاته نه دي

اوس به له چا سره سیالۍ ته د نصیب راوزو
منصوري چیغې غرغرې د میدان پاته نه دي

دلته راغلي وه د کاڼو په حساب سرونه
جنون هغه دی زولنې د زندان پاته نه دي

که له ګرېوانه یې سکروټې اورولې نه دي
نوري په زړه کي خرخښې د اسمان پاته نه دي
زه د خوني فلک په سترګو کي اورونه وینم
پاس له نصیب سره ځولۍ د توپان پاته نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا تنها کو ته اغزي په لار کي نه سپړېږي
په رباتونو کي کيسې د کاروان پاته نه دي

د شپې پر سترګو جهاني افسانې مه اوروه
د شاپېريو په وطن کي دېوان پاته نه دی

ويرجينيا
۱۸/۳/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

بیا د سیند پر غاړه ناست یم تصویرونه جوړومه
ستا د زلفو د خیالونو ځنځیرونه جوړومه
بیا د خپل ازل په اوښکو بیا د خپل تقدیر په ساندو
د نسکوري پیالې خوب ته تعبیرونه جوړومه
د خپل زړه د عرش په کور کې کرشمې د جانان ګورم
د یاغي تندي سجدې ته محرابونه جوړومه
د رقیب نصیب له لاسه د هستۍ مځکه اغزي سوه
د خالق پر لمن ځانته خپل ملکونه جوړومه
د توبې پر کور پیره وې د زاهد مکاري سترګې
د خلوت زړه یې سوځم ګناهونه جوړومه
چېرته زه چېرته جانان دی چېرته لاري دي د وصل
زه د خپل جنون په کور کې منزلونه جوړومه
زما په ویښ قسمت کې نسته جهاني د دیدن سترګې
د خیالونو په محفل کې خپل خوبونه جوړومه
۳۱/۸/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

په پسرلي کې مې ماتم د خزان مه يادوه
راته پر څانګو رژيدلي ګلان مه يادوه
اوس چې د شمعې له هيبته تياري وتښتيدې
پر تورو لارو راته تللي ياران مه يادوه
لا زنګېدلو ته لرمه مسا پر خوبونه
بيده ساحل ته مې څپې د توپان مه يادوه
زه چې د خيال په وزرونو کوه قاف ته ځمه
راته په ويښه زولنې او زندان مه يادوه
تر دې رباته مې راورې دي نيمګړې شپې
اغزنې تندې د سبا د بيابان مه يادوه
ما يې د ستورو پر اورغوي باندې فال کتلی
د زړه يوسف ته مې کوهې د کنعان مه يادوه
يو څو نغمې لا جهاني را پاروای سمه
د اوښکو کور ته مې کوڅې د ګرېوان مه يادوه

ويرجينيا
۲۳/۳/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

زه د زلمیو شپو نشه یم چې مې هېره نه کې
ستا د خماري شپې پیاله یم چې مې هېره نه کې

د وزرونو په نصیب دي یم ازل لیکلې
ژوندي پانوس کې دي لمبه یم چې مې هېره نه کې

تر دې منزله د پېرېو پر اوږو راغلمه
زه د زاړه نکل کیسه یم چې مې هېره نه کې

زه دي د عمر له تنها کو تېر کېدلې یمه
ستا د خیالونو آیینه یم چې مې هېره نه کې

ستا د جنون له کاڼو اوس هم لمن ډکه وړمه
زه د آشنا سنګسار کوڅه یم چې مې هېره نه کې
د عقل دام ته چا په غلا را رسولې یمه
د لېونتوب یوه شېبه یم چې مې هېره نه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پسرلي کې نسيم نه کړمه له خوبه ويښه
نن د خزان د غېږ غونچه يم چې مې هېره نه کې

د ښکليو ښار کې دې ګمراه د ځوانۍ ورځې نه سې
ستا د خوبونو ښايسته يم چې مې هېره نه کې

تا چې مغروره ککرۍ صنم ته نه ټيټول
ياغی تندي ته دې سجده يم چې مې هېره نه کې

جهاني خيال مې د بوډۍ په ټال کې وزنګوه
هم دې غزل هم قصيده يم چې مې هېره نه کې

۴/۷/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

داسي نسيم تازه ګلونه کله کله راځي
خواږه ياران ترخه جامونه کله کله راځي

موږ يې عمرونه زنګولي دي له زلفو سره
دې زولنو ته تعبيرونه کله کله راځي

راته ازل په خپل قلم پر تندي رنګ وهلی
شيخه توبې ته خلوتونه کله کله راځي

نصيب راوړي د جنون له کاڼو ډکه لمن
تر دې سنګسار پوري سرونه کله کله راځي

ما يې ليدلي د پېرېو پر ساحل خوبونه
دې سمندر ته توپانونه کله کله راځي
چې له پيغام څخه يې وتورېږي شپې د هجر
رويباره داسي سلامونه کله کله راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مرغلري د ښو پر ګودر نه تمېږي
د اوښکو سېل ته ګرېوانونه کله راځي

دا يوه شپه به له زلميو شپېو وتښتوو
سپيني سپوږمۍ ته ديدنونه کله راځي

زاهد نن به په خلوت کي توبې ونځوي
زموږ تر ماښامه شهبازونه کله راځي

پانوسه پرېږده جهاني چي لمبې ولوبوي
ستا تر درشله وزرونه کله راځي

ويرجينيا
۱۱/۸/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



+

چي سر پر سر مي پيالې ډکي له جانانه راځي
خدايه توبه مي پر توبه باندي پښيمانه راځي

رنځور نظر ته آيينې د سکندر مه راوله
د قدم خاوري يې د صبر تر کنعانه راځي

زه يې د زلفو له خيالونو سره شپې سپينوم
د هيلو ګور ته مي ډېوې له شبستانه راځي

تږى جنون مې د پيريو په وعدو بيدوم
چي مي نصيب ته سرابونه له اسمانه راځي

د بې هنرو پاچهي ده هنر مه ځلوئ
چي له ښنان سره پيدا وه بې نښانه راځي
لا د بدريو د وطن جنازې ختمې نه دي
دې کوه قاف ته لا لښکر له ترابانه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نن سکون به د سبا د توپانو نخښه وي
زموږ د بېړۍ د امن زېرى له توپانه راځي

نور د خلوت په الاهو کي ریا مه زنګوه
زاهده نن دي د خرقې بوى له مغانه راځي

شیخه دا ستا له تنګ جهانه جهاني غوندي ځم
یوه شېبه مې د جنون له لامکانه راځي

ویرجینیا
۹/۵/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوي او آزاد نظمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژوند او مرګ

چې دي شاته وي پرې ایښې د زلمو کلنو ورځې
چې دي نه اوري پر څانګو د ځوانۍ د سپرلي وریځې
چې پر مخ دي ګونجې کرښې د مرګي شاهد ښکارېږي
چې نظر دي د هینداري له تصویر څخه تورېږي
چې دي هره شپه له سترګو د لحد خوبونه پاڅي
چې دي هره ورځ په مخ کې د مرګې یادونه ناڅي
چې د خیال په سور او تال کې دي نغمه نغمه ګونګۍ سي
د ځوانۍ له شیش محله دي زلمۍ مستي پردۍ سي
د هینداری په سپین مخ کې در ښکاره ځواني بوډۍ سي
او له شپو دي مسافري د ساقي پیالې زلمۍ سي
نه زنګېږي دي پر سترګو د ځوانۍ درانه خوبونه
نه دي خوب کې هره شپه وي نوي نوي تصویرونه
نه په خیال کې دي زاهد وي نه ریا نه خلوتونه
نه یاران وي درته پاته نه رندي نه محفلونه
نه دي هیلې کړي در مستي د پرون زاړه یادونه
نه په نوم د سباوون دي را ویښېږي مړه رګونه
نه په زړه کې دي د شونډو سور تصویر لمبه لمبه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د ښکليو له يادونو دي زړګی تغمه تغمه سي
نه دي مينه پر چا راسي نه مين وي څوک دربانده دي
نه د نه راتلو له زوره په اور سوځي لاندي باندي
وايه څنګه به تېرېږي ناکراري ورځي توري
وايه څنګه سبا کېږی دا په شپو پسي شپې نوري
تر غوږونو به دي ګرځي هره ورځ د کوچ ږغونه
هره شپه به دريادېږي د لحد زيمناکه خونه
ژوند به نه سي درکولای څرک د نويو اشنايانو
کال په کال به جنازې وي د خوږو زړو يارانو
نه په درد دي څوک خبر وي نه په زخم دي پوهېږي
نه زګېروی دي تر غوږونو د خواخوږو ور رسېږي
د دې عمر به څه خوند وي له دې ژونده څه جوړېږي
له دردونو سره شپې دي چي اوږدېږي لا غمېږي
مګر ژونده زړه مي غواړي چي دا شپې مي نذارنه کړم
د هستۍ په مستو پښو کي دا يو هار دانه دانه کړم
دا يو ږغ له ستوني پورته دا يوه نغمه لا سره کړم
د شهباز له ژوندۍ ژبي يوه پورته ترانه کړم
پرون هېر کړم له يادونو لکه زر کلونه شاته
نن د مرګ جنازه واخلم پر اوږو يې کړم سبا ته
چي له مرګه سره سيال دی هغه قبر د پرون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ژوند ه سره ښایي هغه نوم د سباوون دی
زړ پېرۍ دي ښخي سوي زړ په مخ کې دي یارانو
څه دي خپله راسره وي څه یادونه د دوستانو
نه ژوندون په آیینو کې د تصویر ترجماني ده
نه له ښکلیو سره مینه نه مستي ده نه ځواني ده
یو قدم دی په کاروان کې د بې حدو سفرونو
د پېړیو په کوګل کې دوې شېبې دي د کلونو
نه هستي په ژوند خبرېږي نه نیستي په مرګ مړېږي
له تیارې څخه تیارې ته د رڼا کډه بارېږي

ویرجینیا
۲۴/۴/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمان

دا زمان لکه برېښنا ځي او که موږ ځو په تلوار
لېوني سو مه خالقه راته وو ایه اسرار
نه جنت دی چا لیدلی نه دوږخ څوک سو ځولی
نه کوثر د چا تر شونډو نه څوک وسو په انګار
ورک داستان پټه کیسه ده نا پایانه افسانه ده
زر د ژمي شپې سوې تېرې زر کلونه د بهار
هغه لمر هغه سپوږمۍ ده هغه ورځي هغه شپې دي
له هغه ستورو ښایسته ده د اسمان سینه سینګار
نه یې سر چاته معلوم دی نه په سور یې څوک
پوهېږي
ښوروي ورته سرونه په هر موړ کي صد هزار
له آدمه تر دې دمه سر پر سر پیالې تشېږي
دا خمار له نشې زېږي که نشه ده له خمار
چي د مینې نوم راغلی د بېلتون زهې کرلي
نه هجران له شپو وتلی نه څوک وصل سو د یار
نه په کلي د جانان کي د اغیار قدم سو ستړی
نه د ګلو له بستره زخم و تی د خار

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لمبې د شمعې مړې سوې نه پانوس ووت له بزمه
نه پتنګ په لمبو سوړ سو نه محفل خپور سو د یار
دا کاروان به لا تر کومه سر پر سر وهي مزلونه
پای ته کله به رسېږي په اغزیو پټه لار
خبر نه دی چا راوړی د کاروان له سر منزله
ملا جانه راته وایه خلګ تا بولي هوښیار

ویرجینیا
۲۰۰۴/۴/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه پخپله

زه لکـه ګـل زه لکـه خـار زه لکـه پرخـه اشـنا
خلـګ مـي وينـي زه پـه خپـل وجـود خبـر نـه يمـه

پرېږده زره وجود مي ولاړ سي د تورتم ستوني ته
بـښـه چـي د بـاز پـه وزرونـو کـي شـهپر نـه يمـه

هـر څـه وړوکـی چـي مـي وينـې زه پخپلـه يمـه
د هـــر جـــوګي د منترونـــو قلنـــدر نـــه يمـــه

جام به مي تش وي لاس مي تش دی ستونی وچ دی
مـــــــــــــــــــــنم
بـښـه دی ملګـرو پـه سراب کـي چـي کـوثر نـه يمـه

زه لکـه شـمع د محفـل پـه ژبـه پـوه نـه سـومه
پـر تـورو شـپو بانـدی خبـر پـه خپـل اثـر نـه يمـه
لکــه قــدم پـــر ورکــه لار د منـــزل نـــښي لـــيکم
پــه ړنــدو ســترګو کــاروانونو تــه رهبــر نــه يمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه لکه زخم له رنځونو سره شپې کړوم
زه لکه درد هسې له زړه څخه بهر نه یمه

نه لکه سیوری کله لوی کله وړوکی سمه
زه خپل وجود یمه د لمر د نور نظر نه یمه

ویرجنیا
۱/۵/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه په خپله لمبه پایم

زه د غم په شپه پیدا یم خدایه مه وژنې غمونه
زه د عمر بند ېوان یم ته مي لنډ کې دا کلونه
چي دنیا ته یم راغلی په هیڅ نه یم پوهېدلی
لکه خوب د سرګردان یم رانه ورک دي تعبیرونه
نه سفر مي په اختیار دی نه منزل را معلومېږي
کښېوتلی په کاروان یم نابلده رباتونه
نه د ورځي ځرک لګېږي نه ساحل راته ښکارېږي
را تېر سوی تر توپان یم لا په مخ کي مي موجونه
نه په ژبه یې پوهېږم نه په لار د همسفرو
سره ځو پر یوه لوري سره بېل مو هدفونه
له محفل سره خندېږم په زړه لیږي لیږي ویني
د غاټول په مذهب راغلم پر سینه باندي داغونه
زه نه یار یم نه اغیار یم نه د چا سره پر لار یم
نه خبر په خپل رفتار یم زما تر شا پاتېږي پلونه
زه په خپله لمبه پایم لکه شمع په پانوس کي
که مي غواړې په محفل کي چي مي مړه نه کې اورونه
له ښادیه غم پیدا دی که له غمه ښادي زیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر گردان پکښي لقمان دی له ما مه غواړه رازونه
چې يې بږغ نغمه نغمه و په ټولۍ کې د يارانو
نن په ساندو کې يادېږي په نازېږي لحدونه
نه پرون بيرته ستنېږي نه سبا چاته ښکارېږي
نه له نن سره جوړېږي اميدونه هوسونه
له ازله تر ابده زولنې شرنګوي سيوری
نا اشنا يې دي ګامونه نا پيدا يې ځنځيرونه
جهاني څوک به پوښتمه د قلم له ګونګۍ ژبې
پيدا کړی يې باغوان يم نه اغزي سته نه ګلونه

ويرجينيا
۱۴/۳/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه او زما

چـــي ســـو فارغـــه لـــه کـــارو د جهـــان
خـداي د ملکـي پـه څېـر جـوړ کـړ انـسان
وروســـته يـــې خپلـــه څېـــره ورکـــړه ورتـــه
او لا يـې خپـل روح پکښې پـوه کـړ يـزدان
د هغـــــه روح پـــــه درنـــــاوي ملکـــــي
ســر پــر ســجده ســولې پــر مځکــه آســمان
آدم يـــې نـــوم وربانـــدي کښېـــښود خـــالق
د جنتونـــــــو نعمتونـــــــو ســـــــلطان
چـــي دی رهـــي ســـو خـــالق ومـــسېدی
چـــي څـــو مره ښـــکلی دی پـــر لاري روان
ويـــــل د مځکـــــي او د عـــــرش ملکـــــو
تـري اخيـستلای سـئ اوس خپـل امتحـان
چي پـه اسمان کي لمر لـه سترګو سو پټ
تيـــاري لـــه ســـتوني کړلـــه تېـــره نـــړۍ
د آدم ســـترګي ســـوې لـــه خوبـــه درنـــې
شـــيطان را واخيـــستلې خپلـــي کـــړۍ
د زه او زمـــا پـــه نـــوم يـــې جـــوړې کړلـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو د لمبو څه د سکروټو بېړۍ
زړونو ارواح ته یې ور واچولې
له دوده جوړې د تیارو هټکړۍ

قابیل سبا ته د شیطان په لمسه
سره کړل لاسونه د خپل ورور په وینو
له هغې ورځې د آدم د بچو
سور دی ټټوبی رنګ دی کور په وینو
چې لا تر ځو به وي د وینو ویالې
چی لا به څو رنګیږي نور په وینو

چې یې وهلی د انسان دی قلم
حق په ازل کې دي ویلي ریښتیا
چې مې اشرف د مخلوقاتو کی جوړ
تر ده به ټیټ نه وي پیدا په دنیا
شیطان یې ځاله ده په روح کې کړې
په زړه کې زه پر شونډو ذکر زما
او لا به زور اخلي لمبې د جنون
لا به زلمی د زه او زما وي لیلا
څنګه به سم سي د ازل بندیوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يې په وينو کې اخښلې خطا
چې له قلمه غلطې سوې ده
که شيطان لاري کړې بدلې د چا
چې سو ملګرى د ازل په سهار
دغه تور مخى د آدم او حوا
او لا ترننه هنګامې د جنون
لمبې کړلې پر تيارې او رڼا

ويرجينيا
۲۹/٦/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا ته يې که خيالونه

دا ته را ته راتلې که دې خيالونه را لېږل
پر زړه باندې مې يو په يو يادونه اورېدل

دا ته يې په ګلونو کې قدم قدم روانه
د وړانګو قافلې درسره درومي له اسمانه
مغروره لکه بازيې بې خبره له جهانه
د زړونو په ښکارونو دې سره کړې دې منګل
پر زړه باندې مې يو په يو يادونه اورېدل

دا بيا د سمندر پرغاړه ناست يو لاس ترغاړه
د خيال په خزانو کې پاچهي کوو موږ دواړه
پيالې مو دې په لاس کې د رقيب خونه ويجاړه
را خپور دې پرتندې وي له وريښمو جوړ اوربل
پر زړه باندې مې يو په يو يادونه اورېدل

دا ته يې په ژړا زه دې ورو ورو پخلا کومه
ته سترګګي کې راپورته زه دې اوښکي پاکومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نــاز پــه ســوګندونو دي ســلګۍ کړارومــه
پـه سرو سترګو موسکۍ سې درنـه هېر سي څـه
ویـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــل
پـر زړه بانـدي مـي یـو پـه یـو یادونـه اورېـدل

دا تــه یـــې رالېږلـــي دي لـــه لیـــري ســـلامونه
لانده دي پـه سرو اوښکو دي د مینی پېغامونـه
نېمګړي دي پرې ایښې دي د نیمو شپو نکلونـه
هـر لیـک دي راتـه وایـی چې راځـي راپـسي بـل
پـر زړه بانـدي مـي یـو پـه یـو یادونـه اورېـدل

لـه مخـامخ کړکیـه را لوېـدلي د لمـر وړانګـي
بیـا نـوی پـسرلی دی غوړېـدلي دي ګلڅـانګي
لاړونــه د ګلونــو دي پــه تانــدو لــښتو زانګــي
تنهـا راتــه راپاتــه دی د تــریخ ژونــدون مــزل
پـر زړه بانـدي مـي یـو پـه یـو یادونـه اورېـدل

نـه لیـک ستـه نـه رویبـار د چا پېغـام راتـه راوړی
نـه هیلـي د سبا مـي د بېلتـون مـخ دی تـور کـړی
پـر کړوپـه مـلا مـي وړمـه د وصـال د وعـدې مـړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا نن یا به سبا وي د وروستۍ شپې یرغل
پر زړه باندي مي یو په یو یادونه اورېدل

د هغه سیند پر غاړه چي یادونه دي کرلي
زر نوري افسانې دي غورېدلي زمولېدلي
زر ځله دي سپوږمیو باندي وړانګي اورولي
څوک ړنګ و له مستیه چا په سرو سترګو ژړل
پر زړه باندي مي یو په یو یادونه اورېدل

هر وصل ته بېلتون دی زه به څه ګیله کومه
لا زه یمه نېکمرغه چي دي نوم پر شونډو وړمه
په زړه کي د خیالونو تاج محل درجوړومه
مرګ داسي پهلوان دی هیڅوک نه پرېږدي اتل
پر زړه باندي مي یو په یو یادونه اورېدل

دا ته راته راتلې که دي خیالونه رالېږل
پر زړه باندي مي یو په یو یادونه اورېدل

ویرجینیا
۲۰۰۴/۱۱/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اورغوي خطونه

ما په خدای قسم درکړی نجلۍ وایه یار دي څوک دی
ته د چا له میني سوځې خپل دي څوک اغیار دي څوک
دی
دا پر مخ چي دي را توی سي سپیني اوښکي مرغلري
د ځـوانۍ لـه مـالګي جـوړي دا خـوږې لـه شـکري
دا چی ژاړې په خندا کي چي موسکۍ سې په ژړا کي
د زلمیـو وینـو زور دی کـه جنـون د وینـو تـا کـي
ستا هـم ورځـي لېـونۍ دي لـه تـا هـم تـښتي خوبونـه
تـه هـم سـره لکـه غـاټول یـې پـر زړګـي لـرې زخمونـه
د غـوټۍ په څېر نازکي خدای که پوه سم چی د چا یې
تـه مینـه یـې کـه نـه یـې سـر تـر نوکـه معمـی یـې
هـر ګـړی مـی د دردونـو د زړګـي پـر کلـي شـپه وي
هـره شـپه د بېلتـون وېـره د ځـوانۍ د خـوب نـشه وي
تـا تـه هـم کلـه یـاد پېږي د اغـزو پـر سـر خوبونـه
لېونتوب دي مېلمه سوی ورځي شپې میاشتي کلونه
ښکلي دومره خو مي پوه که چی مینه پر چا نه یې
تـش خوبونـه خـو مـي خپـل دي کـه پـه برخـه زمـا نـه یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د زړه پر مرمر جوړ کم ستا لوېدلي تصويرونه
چې په وينو مې اوبه کم لېوني تږي خوبونه
چې له خياله دې ژوندي کم تصوير کړې اندامونه
چې سجدې ته ازل راوړم په تندي کې محرابونه
چې دې مينه قواله کم د قسمت په کتابو کې
ستا د اوښکو تندی راوړم د فالونو په لاسو کې
بيا به نه وايې چې هېر سول د خوبونو تعبيرونه
د مرمرو پر اورغوي د ازل کښلي خطونه

ويرجينيا
۱۱/۱۲/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیالونو باران

لکــه بــاران د شــګوفې داســې تــازه لګیــږې
ښایستې څنګه مې پر سترګو باندې ښه لګیږې

یــا خــو هینــداره دروا غ وایــې لا ځــوانې پاتــه ده
لا د ځــوانۍ پــه زکنــدن کــې زنــدګې پاتــه ده
لا مــې د بنګــو پــه پیالــه کــې هوښــیارې پاتــه ده
چــې پــر نظــر نظــر خمــاره او نــشه لګیــږې
ښایستې څنګه مې پر سترګو باندې ښه لګیږې

ښـکلې یرغـل دې لـه پخوا زمـا پـر خوبـو کـړی دی
څه تـور جادو دې زمـا پـه ورځـو زمـا پـه شپـو کـړی
دی
دا څـه منتـر دې زمـا د اوښـکو پـه دانـو کـړی دی
چــې مــې پــر زړه کلــه مــرهم کلــه لــشه لګیــږې
ښایستې څنګه مې پر سترګو باندې ښه لګیږې

ښــکلې یــوازې پــر تــا نــه یــم پــر ښــکلا مــین یــم
قسم پـه خدای دی کـه پـوهیږم چې پـر چا مـین یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله پخپله پر جنون کله لیلا مین یم
کله نسیم د سباوون کله لمبه لګېږي
ښایستې څنګه مي پر سترګو باندي ښه لګېږي

کله یوازي ستا ښکلا په ټول جهان کي وینم
کله دي سترګي په هر ستوري د اسمان کي وینم
ذره ذره دي په عالم کي هم په ځان کي وینم
ته لکه غشی د ازل سم پر سینه لګېږي
ښایستې څنګه مي پر سترګو باندي ښه لګېږي

کله دي اورم په کیږدۍ کي له شپېلیو سره
کله دي وینم په سپوږمۍ کي له پاولیو سره
د اسمانو له فرشتو له شاپېریو سره
یوازي ته مي پر تندي لکه سجده لګېږي
ښایستې څنګه مي پر سترګو باندي ښه لګېږي

سم دي له خیاله سره بزم د غزلو راځي
رنګ ته دي شور د تصویرونو د ایستلو راځي
زړه ته شکري د توبې د ماتولو راځي
کله صنم کله مغان کله کعبه لګېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایستې ځنګه مي پر سترګو باندي ښه لګېږې

ته لکه شور د مستي زړکي په صحرا کي ښه يې
ته لکه ستوری د صبا شپه د بيديا کي ښه يې
ته د پېرۍ توبه شکنه په مينا کي ښه يې
ته لکه زېری د ژوندون داسي پر زړه لګېږې
ښایستې ځنګه مي پر سترګو باندي ښه لګېږې

ته لکه او ښکه تر ښو مي بې ګودره راځې
د زړه تر ښاره بې آوازه بې خبره راځې
لکه ښایسته غزل تر خياله د شاعره راځې
د زړه محراب کي مي کافري بتخانه لګېږې
ښایستې ځنګه مي پر سترګو باندي ښه لګېږې

په هر کاروان کي له دې سيوری سره پلونه وينم
له افسانو دي زنګېدلي شپې کلونه وينم
له تا ښايسته د جهاني خواږه شعرونه وينم
لکه مستي لکه شراب لکه پياله لګېږې
ښایستې ځنګه مي پر سترګو باندي ښه لګېږې

ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲/۳/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اوښکو سفر

ما د ځوانۍ ما د مستۍ په بیه
ما د هستۍ په بیه
د ماشومتوب د طلايي ورځو په بیه
اوښکې واخیستلې
څومره چلبازه سوداګر دی آسمان
زما یې د ژوند خمیر په اوښکو کاوه
ما ته مې ژوند ما ته ځوانۍ ژړله
زما زلمیتوب ما ته مستۍ ژړله
په هر منزل کې مې هستۍ ژړله
او ده په ویړه خوله خندله راته
ویل یې لنډې د خندا ورځې دي
او نا پایانه دی د اوښکو سفر
ویل یې ژوند مې ابدي در کړی
عمر مې ټوله جنتي درکړی
قدم قدم مې کوثري درکړی
ستا په نیستۍ کې مې هستي وکړل
ستا مې په وینو کې مستي وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته به لاړ د مرغلرو درکم
زه به خرمن د جواهرو درکم
آب حیات به دي ځوانۍ ته د بڅرو درکم
او ستا د اوښکو له تصویره به هستي څڅوم
ستا له آوازه به مستي ویښوم
ستا له شپېلیو به ځواني پاڅوم
خو ته ورځه اوښکي نیمګړي نه کې
زه له ځوانۍ له ماشومتوب زه له هستیو ځخه
د زلمیتوب له بد مستیو ځخه
د خوب او خیال پر نیلي سپور تېر سو مه
ما ویل ځم په نا پایانه سفر
ما له سپین ږیري سوداګر سره سودا کړېده
پر ما یې لاړ د مرغلرو دی ارزان پلورلی
پر ما خرمن د جواهرو دی اسمان پلورلی
آب حیات یې یو په سله په تاوان پلورلی
ځم چی بڅري د حیات له اوبو وپاڅوم
خو چي له ښاره د هستۍ وتلم
چي زه منزل ته د نېستۍ ورتللم
چي مي په اوښکو د سلګیو سفر ولمباوه
چي مي په وینو د اغزیو ګودر ورنګاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ناخبر مي نيلي پر هستۍ وځغلاوه
هغه چلبازه سوداګر په کټ کټ وخندله
او زه د اوښکو په ګامونو روان
زه د خيالونو له سفره ستومان
لا پوروړی وم ځوانۍ د اسمان
د ژوند وروستي پړاو ته ورسېدم
ما يې نه لاړ د مرغلرو وليد
نه مي خرمن د جواهرو وليد
او نه مي تنده د حيات په اوبو ماته سوله

کابل انټرکانټيننټال
۵/٦/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شونډو تصویر

زه د رود پرغاړه تلم را یادېدلې
هغه شونډې چې وعدې به یې کولې
هغه شونډې چې د ګل په شانې سرې وې
چې شېریني د سبا باندې وعدې وې
د ګلاب د ګل تر پاڼو وې نازکې
چې به تل باندې خپرې خوږې پلمې وې
هغه شونډې دې نن هېرې له کلونو
پردۍ سوې له نخرو دې له نازونو
نه وعدې سي نه پلمې پر ګرځېدلای
نه غونچې د ګلو ځانته سي بللای
نه موسکا یې له سینو سې زړونه کښلای
نه خندا یې نوې هیلې سي سپړلای
هغه شونډې دې له خاورو سره تللې
خاطرې یې له سینو څخه وتلې
د زلمیو له کیسو دې هېرې سوې
لکه نه وې چې دنیا لره راغلې
د مین سره نور نه کوې قولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس يې نه ښکاري د رود پرغاړه پلونه
اوس د سيند پر غاړه نوري ښکلي نجونې
له ساحل سره نژدې د کلي نجونې
زړونه کاږي د زلمو په سرو منګولو
په نازونو کرشمو منلي نجونې
د زلميو زړونو نوي افسانې دي
اوس پر نورو شونډو نوي ترانې دي
دا يو زه يم چې مي ښکلې را يادېږي
د ښکالو بڼغ مي غوږونو ته رسېږي
وايم اوس به ژړي پاڼي کړي پايمالي
لکه لښتنه پر نرۍ ملا به غبرګېږي
پر نرۍ شونډو به نوي کړي قولونه
رغوي به مي د زړه زاړه زخمونه
ځان پخپله په خيالونو غولومه
جوړوم د رود پر غاړه تصويرونه
زه له نورو سورکو شونډو په زړه سوړيم
نويو ښکليو لره جوړ نه يمه زوړيم

ويرجينيا
۱٦/۳/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ایمان سرحد

زه پوهېدم چې یوه شپه به مې په غېږ کې نیسې
ما دي د دغې شپې خوبونه لیدل
ته به مې شونډې ښکلوې زه به دي نه ښکلوم
ته به مې ځان ته کشوې زه به دي نه کشوم
ته به یاغي یې له ګناه او له عالمه څخه
ته به بېغمه یې د ژوند له هره غمه څخه
زه به بندي د خپل ایمان په زولنو کې یمه
زه زولانه به د پرهېز په اندېښنو کې یمه
زه به لا ورک د خیالي لارو په تیارو کې یمه
لاس به مې غاړې ته در تللای نه سي
سترګې به مخامخ کتلای نه سي
شونډې به شونډې مچولای نه سي
خو له ګناه به مې ایمان ایسارولای نه سم
لاس به دي غاړې څخه کښلای نه سم
له ګرمو شونډو به دي شونډې خپلولای نه سم
نازک زړګی به دي ټوپونه وهي
د زړه په ژبه به پوهېږو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرار کرار به نیژدي کیږو سره
زړه به مي اوري ستا د زړه ږغونه
د ګناهونو به ستېږي ملونه
له ټینګ ایمانه به سي مات بندونه
د پرهېزونو مقدس خطونه
ټول به رشتیا سي شیطاني خوبونه
زه به اوښتی یم په لڅو سترګو
د خپل ایمان له سرحدونو څخه

ویرجینیا
۲۷/۱۲/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که ته شهید نه وای

شهیده نجوني دي زیارت ته درځي
شهیده سر ته دي جنډې رپېږي
څوک دي خوبونه په جنت کې ګوري
چا ته دي نذر د ځوانۍ رسېږي
ښایستې د کلي چتې پېغلې نجوني
درته ګلونه امېلونه راوړي
د کونډو ورارو د سلګیو کوریې
سترې بوډۍ درته نذرونه راوړي
لا دي د کلي د زلمو په شپه کې
کیسې د غرونو د جنګونو کیږي
لا یې دودونه د باروتو په یاد
لا دي سندري په نامه جوړیږي
نوم دي د کلي د پېغلوټو سره
کیسې دي توري اوږدې شپې سپینوي
هره لنډۍ دي له نامه ښایسته ده
هره سندره دي اتڼ مستوي
نوم دي په کلیو کې پر شونډو ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تو ده کیسه دي په کیږدیو کې ده
شپانه په دښته کې ستا نکل کوي
نغمه یې مسته په شپیلیو کې ده
وایي رستم وې د میدان د ورځو
وایي د پړانګ په دود حملې دې کړلې
زړونه دې کښلي د غلیم له سینو
وایي د باز په شان غوټې دې کړلې
ستا له سنګره چې ګولۍ خوځېده
هم پر سرونو هم پر زړو لګېده
چې ستا په جنګ به در وتلې ټولۍ
د عزرائیل ورته پلمه جوړېده
چې پر غلیم به د یرغل شپه وه
ته به سردار وې د غازیانو د ټول
په الواتو تر سنګرونو تللې
لکه پاچا وې د بازانو د ټول
خور دې په سرو اوښکو کیسه ګډول
ویل یې ورور مې چا په شپه کې و ویشت
په سرو ګولیو یې سینه غلبېل وه
هم یې پر سر هم په سینه کې و ویشت
جشنونه جوړ کړل د دښمن عسکرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم سو ستا د يرغلونو داستان
د مړه زمري په څېر بې واکه پروت وې
په وينو لژند د بري په ارمان
څو ورځې وروسته بل زړه ور قومندان
سکنی ورور دې د ميدان پهلوان
چې يې له ډزو رپېدله زړونه
چې له غړومبې يې تښتېدله زمريان
جنګ ته رهي سو له غازيانو سره
ستا د لښکرو د ځوانانو سره
سپه سالار سو ميراثي قهرمان
مخکې رهي سو له زلميانو سره
د غليمانو يې کړه مځکه تبې
د خپلو کلي يې لمبه کړه الوې
ماته يې ګډه کړه په پوځ د دښمن
پر وران وطن يې اوس رپېږي جنډې
ستا ښايسته کونډه يې ځان ته وکړه
څو يې لا نوري په نکاح کړې نجوني
نه يې بګړۍ کي شمله پرېښودله
نه پر سرونو سپين او تور پوړني
زخمي ښارونه دړي وړي پراته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې قوماندان پر تېر سو اور پاته سو
ځي بې هدفه لا لهانده کړي
تشي جونګړي کلی کور پاته سو
چېري چي ولاړې د غازيانو ټولۍ
هلته یې وکړله سره اورونه
نه یې زلمی نه یې بوډا پرېښودی
نه یې پیغلوټې د ناموس پر خونه
که ته شهید نه وای تا څه کوله
ته به هم مل وای د غازیانو سره ؟
تا هم راوړلې د سرو وینو ځولۍ ؟
ته به هم تلای د دې خونیانو سره ؟
ښه دی شهیده په لحد کي ښه یې
چي پر سره قبر دي رېږدی جنډی
اوس به له تا سره هم ګډي تللای
د دې قاتلو لوټمارانو غدی
ستا له نامه سره به نه راتللای
په شنو دښتونو کي نغمې د شپېلۍ
خو کشکي ورور درڅخه نه وای وړې
شهیده ستا د ارمانونو ډولۍ
کشکي دي نه وي د غازي په کور کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرو خپرو ښایسته‌ناوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هسته نېستي

زه په شپه کي د تياري پر اوږو راغلم
بې آوازه د خوبونو په ګامونو
نه غوږونه مي له ږغ سره آشنا سول
نه مي ښې چا ليدلي دي د پلونو
د شبنم په څير د لمر سره پناه سوم
له نامه سره مي تن زرې زرې سو
آيينه مي سوه له ځانه سره ورکه
له نېستۍ مي نوم ښاغلی د شغلې سو
نه د نور نه د تيارې په مذهب پوه سوم
نه ملګری مي آواز د قافلې سو
لکه اوښکه د باڼو پر ګودر راغلم
څاڅکي تن مي نيمه خوا شومه د شپې سو
چي منلی نه زمان او نه مکان يم
زه به ولي پوروړی د آسمان يم
نه په لوري نه منزل يم پوهيدلی
لکه ژرنده په خپل ځان کي سرګردان يم
څه منت را باندی پاته د قلم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ازل یم که اجل یمه د ځان یم
ګوره چا په دې نامه یم نومولی
کم ازل تر دې ګرېوان یم را ایستلی
بې اختیاره یې را کړي ځو شېبې دي
د قلم جبر په ژوند یمه منلی
لکه نه وم یوه ورځ به داسې نه یم
نه تیارو ته نه شغلو ته به په زړه یم

ویرجینیا
۴/٦/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه شاعر مړ دی

هغه شاعر چي ستا د دوو سترګو ښايستو مين و
هغه چي هم دي د موسکا هم اوښکو سرو مين و
چي کړی، ورځ دي لکه سيوری ګام په ګام ملګری
ستا د وجود ستا د تصوير او د خيالو مين و
زخمي زخمي به ستا تر سر بلا ګردان ګرځېدی
هم دي پر ګل هم دي پر پاڼو هم اغزو مين و
چي خپل نصيب يې ستا د حسن په قلم وهلی
ستا په اغزنو انديښنو يې و قسمت ليکلی
هغه چي تېر يې تر خپل ځان او ټول جهان بللې
هغه چي توريې ستا د مينې په ازل منلې
نور به يې پل ستا په کوڅو کي څوک ليدلای نه سي
څوک به يې ستا په نامه چيغې اورېدلای نه سي
د غزل سور به يې شهباز را ويښولای نه سي
د نظم رنګ به يې سورونه شرنګولای نه سي
له ګودرونو د کېږديو تر ماښامه پوری
نغمه نغمه به دي پر شونډو ګرځېدلای نه سي
هغه د تل د پاره ستا له څنګه کوچ کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دي خوبونه په پيزوان کي زنګولاى نه سي
هغه شاعر ستا له خيالونو سترګي پټي کړلي
اوس دي په لاره کي ليمه درته کړلاى نه سي
اوس به دي ځوک د زړه په کور کي تصويرونه کړي
اوس به دي ځوک په تصويرونو کي رنګونه کړي
اوس به دي ځوک د محفل شمع په وزر تودوي
ځوک به پټي غوندي پر ځان ګونګي داغونه کړي
ځوک به شيرين کي ستا نکلونه د تندي په وينو
اوس به دي ځوک په افسانو کي کلنګونه کړي
اوس به د چا هنر در اړوي نظر د جهان
اوس به د چا له چيغو ولړزيږي مځکه اسمان
اوس به د چا له سترګو تور وخوري منتر د رقيب
د چا ليمه به کي خطا د سپيلنيو ايمان
هغه شاعر ستا له محفله وچي شونډي ستون سو
نور يې د خضر تر کوثره اثر نه رسيږي
د بوډۍ تال ته دي يو رنګ ور خپژولاى نه سي
ستا په تابلو کي يې بې رنګه جادو نه چليږي
اوس يې ګونګې ده تر قيامته د زخمونو ژبه
د فريادونو له پايکو به يې ځوک نه بيريږي
هغه شاعر په زکندن کي اوښکي وګنډلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه يــې د مينــی د خــالق پــر لمــن وســپارلې
د حــال پــه ژبــه يــې ځــو ځلــه دا پوښــتنه وکــړه
څنګــه يــې تــوري ورځــي خپــل پــر ازل ومنلــې؟

ويرجينيا
۱۵/۱۱/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ارغوان

دارغوان له سرو ګلونو سره مینه لرم
زه چي سره ګل د ارغوان ته ګورم
په هره پاڼه کي يې ځان وینمه
لکه ښاخلې چي يې زما وینه لري
لا ارغوان چي زما په وینو کي وي
زما په رګو کي ارغوان بهیږي
لکه چي زړه مي وي له ده سره پیوند وهلی
لکه نفس چي مي له ده سره وي ژوند منلی
دی زما په ساه ژوندی دی
دی زما په وینه پایي
د ده له پاڼو سره
دا زما رګونه ښایي
روح مي د ده له میني
ناڅي سندري وایي
چي ارغوان ته ګورم
په هره پاڼه کي يې ځان وینمه
کله مي ځان کله جانان وینمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونچه غونچه وینم کړېږي راته
ښاخله ښاخله ګورم نخښېږي راته
د ارغوان د سرو ګلونو سره مینه لرم
د ارغوان په سرو ګلونو کي مې وینه لرم
زه پر سره ګل د ارغوان مین یم
ما یې د سرو پاڼو تر سیوري لاندي
د سرو شرابو له جامونو سره
له ډکو ډکو ګیلاسونو سره
نیم له یارانو نیم له خپلو غزلونو سره
پر محتسب او پر زاهد خندلي
وچي رېښې مي د تقوا سوځلي
شونډي مي غبرګي د توبې ګنډلي
هیلي مي ټولي د کوثر وژلي
اوس مي شېبه شېبه یادېږي راته
اوس د ځوانیو شپې ژړېږي راته
ما یې د سرو پاڼو ترسیور لاندي
د سرو شرابو په مستي کي ځواني ورکه کړله
اوس مي په ورکه پسي
د لا لهاندو مرغکیو په څېر
کله ښاخلې کله ریښې د ارغوان لټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویرجینیا
۴/۳/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ازل بندیوان

د پسرلي یوه ښایسته سهار کي
له شنه آسمانه پلوشې را اوري
زه په کوټه کي یم فکرونو وړی
پر کتابونو د لمر وړانګي ښوري
د کړکۍ شاته مي له ونو څخه
د مرغکیو آوازونه رائحي
راته د تېر پسرلي یاد راولي
راته د تېر عمر خیالونه رائحي
پر خپلو سپینو ویښتو لاس تېروم
زړه ته یو یو زلمي کلونه رائحي
نامرادي ورځي مي پر زړه را اوري
لکه تیاره کي چي بڼغونه رائحي
ګوره چي څو پسرلي مخکي دلته
پر شنو ښاخونو مرغکۍ ناسته وه
لکه له قافه راوتلې پري
په ځان غره لکه بدرۍ ناسته وه
د فرشتو د نور له ګوتو جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رنګ رنګينه ناوکۍ ناسته وه
پر شنو ښاخلو يې ترانې اوډلې
پر سرو ګلونو يې نغمې شيندلې
د حال په ژبه يې د لارې کيسې
دانه دانه راته په خوله پېيلې
څه د زړې ځالګۍ نکل په خوله
څه يې د نوي کور کيسې کولې
زه په هغه توره کوټه کې ناست يم
زه له هغې کړکۍ برګونه وينم
هغه د سرو ګلونو تاندې لښتې
هغه د ګلو امېلونه وينم
د کړکۍ شاته پسرلی تېرېږي
د مرغکيو کاروانونه وينم
په هر کاروان کې د مرګې هنګامه
د خزانونو يرغلونه وينم
هغه مرغۍ چې يې نغمې کړلې
چې ترانې چې يې کيسې پېيلې
ورک به يې چېرې وې وروستې ږغونه
پر کوم ولات به وي خزان وهلې
بل پسرلي به وي هم ځای ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي ځالۍ ته به وي هم راغلې
که به منګولو د خزان نيولې
يا به ژلۍ د پسرلي وژلې
اوس له هغې نغمې کلونه تېر دي
اوس پر هغې شپې عمرونه تېر دي
پسرلي ښخ سول د خزان پر لمن
پر لحدونو يې وختونه تېر دي
زما د کړکۍ شاته تېرېږي زمان؟
که زه هم مل يم د همدغه کاروان
نه مي خپل سيوری نه مې پل وليدی
نه په دې لار کي چا ليدلی روان
چا به د عمر قافله بللې
نه يې هی هی نه يې ښکارېږي ساروان
چي لا به څو نه برېښنا و پرکېږي
چي لا به څونه وغړومبېږي آسمان
څومره ګلونه به لا و وينمه
څونه به وينم لا د پرخي باران
څونه به واورمه اشنا ږغونه
څونه به وناځي بلبل ته ګلان
څومره به ياد کم له زلميو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځوانۍ خوب د مستۍ تللی داستان
چې لا به څونه پسرلي وشمېرم
لا څه باد و نه به راځي د خزان
لکه چې ماته رایادېږي تللي
ما به هم یاد کي پاته سوي یاران
خو دغه سر به راته نه سي معلوم
دا حقیقت به راته نه سي عیان
چې په لحد کي به بندي او سېږم
که په ژوندون یم د ازل بندیوان
راته ښکارېږي چې بندي پیدا دی
د مور له غېږي تر قیامته انسان

ویرجینیا – ۱۰/۵/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وراني جنډۍ

څـو کلونـه دي تېـر سـوي خـتم سـوي دي جنګونـه
اوس نه بوی سته د باروتو نه غړومبېږي لـوي توپونه

نـه سـکروټې را اورېـږي نـه پـه قـار دي آسـمانونه
نـه ګـولۍ اوري پـر کليـو نـه تـر هـسکه ځي دودونـه

نـه د ټانـک لـه پـښو لړزېـږي سـړکونه او کورونـه
نـه د تـوپ تـر خـولې راوزي سره د اوسـپني اورونـه

نـه ماشـومي سترګي ژاړي نـه ورک سـوي دي پلرونـه
نـه پـه کليـو کـي سـپين ږيـري ښـخوي زلمـي سـرونه

نـــه لمبـــې پـــر پولـــو ګرځـــي نـــه بمونـــو ســـوځولي
نـــه پلټنـــي د ماشـــومو ســـرو مرميـــو ډارولـــي
نـه د ورارو نـه د کونـډو تـر اسـمانه ځـي چيغـاري
نـه ملکـي پـه سـرو سـترګو راليـږي ورتـه کوکـاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ناویاني ځي سر توري نه ښایستې له بامو غورځي
نه توپک سته په اوږو کي نه قاتلي سترګي ګرځي

نه په غلا دي ځوک راغلی پر اوږو د سرو لښکرو
نه ښایسته کابل دوږخ دی له وسلو د زورورو

اوس د جنګ له کلو پاته لويي لويي هديرې دي
ځيني جوړي پر غونډيو ځه هوارو کي پرتې دي

پر چا سرې جنډۍ رپيږي پر چا توري دي ولاړي
نه کيسې يې چا ته ياد دي نه په وياړي نه پر ژاړي

نه په زړه يې چاته قبر نه يې نوم چاته يادېږي
په دعا يې وي لاس پورته مساپر چي ترې تېرېږي

تر دې هري جنډۍ لاندي سل او زر ښخ دي خوبونه
هر يوه ورسره وړي په زرګونو ارمانونه

له چا پاته سولې کونډې پر چا بوري سولې ميندي
چا پرې ايښي يتيمان دي پر چا وکړېدي خويندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــر قبرونــو يــې جــوړېږي کلــه اتڼونــه
هــم زلمــي ورتــه راوزي هــم ســرناوي هــم ډولونــه

جنــرالان پکــښي تېرېــږي ورســره وي مــست آســونه
ترانــې د آزادۍ وي جــوړوي پکــښي جــشنونه

دا د دوی د وينــو زور دی ډک جامونــه چــي تــشېږي
دا د دوی د مــستۍ شــور دی اتڼونــه چــي مــستېږي

دا د دوی پــه نــوم جــوړيږي لــوی نومونــه منــصبونه
آيينې يې خلګو غلا کړې پکښې ښيې خپل مخونه

دا د وراني جنډې زور دی چي ترې جوړ قهرمانان دي
شخ برېتونه غوړ مخونه هم شهيد او هم غازيان دي

څوک خبر په هغې مور دي چې دا غونه يې خوړلي؟
چــا لــښکري د ماشــومو يتيمــانو دي ليــدلي؟

څوک خبر سوله چي څه سوې هغه کونډې هغه ښکلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها پـه سـرو خپـړو پاتـه پـه سـالو کـي نـازولي؟

ها لـه وهمـه د مرميـو تـر هېـدلي تورېـدلي
چـا لـه ملکـه تـښتولي چـا پـر بـل بانـدي پلـورلي

هغـه لـوټ چـي يـې پلـو سـو لـه لـښکره د غازيـانو
هغـه داغ چـي يـې لمـن سـوه د جهـاد لـه افـسرانو

څـه پرديـو تـه بـه وايـو خپـل داسـتان د لوټمـاريو
څـو بـه وسـپړو زړګـوني افـساني د بربـاديو

څـوک بـه يوسـي احوالونـه تـر قبـرو د شـهيدانو؟
چـي يـې څـه وکـړل ملګـرو پـه نـاموس پـه يتيمـانو؟

لـه ازلـه تـر ابـده يـو داسـتان دی تکراريـږي
هوښياران يـې ثمره خوري ساده ګـان قربـاني کيـږي

ويرجينيا
۲۸/۱۰/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښېمانه غرور

ما د خپل عمر د ازل پر تندي
پر هغه سپينه پاڼه
چي لا رنګونه د زمان ور رسېدلي نه وه
چي لا بادونه د آسمان پر غوړېدلي نه وه
چي لا ګردونه د جهان ورته ختلي نه وه
په خپلو ګوتو خپل قسمت وليکی
ما د تقدير د لامکان پر لمن
ما د خالق ما د يزدان پر لمن
په خپلو وينو قسمت ولمباوه
ما له محرابه ياغي سوی بنده
د خپل وجود په شمع
د خپل ژوندون په لمبه
په خپل تندي کي سجده وسوځول
راته ابليس په کټ کټ وخندله
راته قسمت په ساندو وژړله
او زما په سرو وينو لړلي ګوتي
د خپل جانان پر سپينه پاکه لمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځوانیمرګي پښیمانۍ په لمبه وچي سولې

کابل انترکانتیننتال
۱٦/٦/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستاره

ستاره یوه ښایسته پښتنه شاعره ده، چې عمر یې د اته لسو کالو په شاوخوا کې دی. جګه نرۍ ونه خدای پخپله وربخښلې، توري غټې سترګې یې له هوسۍ پور کړي او نرۍ ښایسته غاړه یې له بتې تښتولې ده.

د ستارې غوږونه د موسیقۍ له هر سور سره اشنا دي، پر مځکه لکه زرکه داسي ګرځي او چې کله یې په نڅا کې شرنګ پورته سي نو په محفل کې ځوک سترګي بلي خوا ته ور څخه اړولای نه سی. لږ تر لږه ما په امریکا کې د هیڅ پښتنې نجلۍ دونه ښایسته نڅا نه ده لیدلې، او داسي پښتنه نه پېژنم چي په دومره کم عمر کې په انګلیسی، اردو او پښتو ژبه دونه پاخه شعرونه ولیکي.

ستاره زموږ مخې ته وړه لویه سوې او ما او زما مېرمنی ته بالکل د لور حیثیت لری. دا هم له ما څخه د پلرني ناز انتظار لري او د یوه مهربان او ضمناً غمشریک مشر په سترګه راته ګوری.
کله چې زما سره یوازې کښېنی . ما ته خپل اردو او انګلیسی شعرونه لولي. دا ښایي پوهېږي چي زه یې له زړه راځم او زه پوهېږم چي د هغې هر نظم د زړه خواله ده. د دې په نازک آواز کې د درد اثر نه ښکاري او ځوک یې په ښایستو سترګو کې د زړه د زخم ځرک نه سی لګولای خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي خپل نظم لولي ، ته به وايې چې له هر توري څخه يې او ښکې څاڅي. يو ماښام زما کتابخانې ته راغله. ما ته مخامخ کښېنستله او د خپلو شعرونو په لوستلو يې بنا وکړه. يو شعر يې تر لوستلو وروسته زما د يادا شتونو په کتاب کې راته وليکی، او ګوا کې د خپل پټ درد او زخم تصوير يې راته پرېښود.

ستارې ښايي فکر کړی وي چې هيڅ يې نه دي ويلي. خو دا پوه سوې نه وه چې ښايستو او له سرو نازکو رګونو ډکو سترګو يې زما له سترګو سره بشپړه خواله کړېوه. او زما تر زړه پوري يې خپل هر درد جلا جلا را رسولی و، کله چې ستاره زما له کتابخانې څخه ووتله نو ما هغه شعر چې دې زما د يادا شتونو په کتاب کې ليکلی و، بېرته ولوست او دې ته مې يو شعر وليکی. څو شېبې وروسته مې کتابخانې ته راوبلله، مخا مخ مې راته کښېنوله او د خپل شعر په لوستلو مې پيل وکړ. کله چې ما د خپل شعر په لوستلو خوله پوري کړه. د هغې د زړه ټولو زخمونو ته وا په يو وار خوله وکړه او ښايستو غټو سترګو څخه يې، چې دا ګړی يې سپين، سره او ښتي وه، د او ښکو سېل روان سو.

د ښايستې ستارې د سرو او ښکو هر څاڅکی مې پر زړه باندي د غشي په څېر و اوريدی. د خپل شعر د لوستلو توان را پکښې پاته نه سو. هر ګړی مې دې ته ويل چې مه ژاړه او په دې توګه مې غوښتل چې خپلې او ښکې د هغې له هوښيار نظره پټې وساتم. خو زه يقين لرم چې د هغې ښايستو ښکاري سترګو به هر څه ليدلي وي. شعر مې تر پايه ورته ونه لوست، او يا مې د لوستلو توان راته پاته نه و. دوې ورځې وروسته مې شعر ليکلی ورته ځکه ورکړ ځکه چې زه پوهېدم چې ستاره بيا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مخامخ چوکۍ راته کښيني او بيا به نه زه د شعر د لوستلو او نه دا د اورېدلو توان ولري.

## زما ښايستې ستارې

ښايستې نجلۍ په خمارو سترګو کې
د زړګي پټ راته رازونه وايې
چې په نظمونو راته خوله پورې کې
دانه دانه راته دردونه وايې
ته چې موسکۍ سې زه دې سرو شونډو کې
پټ له زړګي سره حالونه وايم
زه دې پوښتم له غټو سترګو کيسې
زه دې کتونکی داستانونه وايم
څه افسانه ده ستا له نظم سره
چې له بيتونو دې زخمونه اوري
دا څه رازونه دي په وينو کې دي
چې له رګونو دې اورونه اوري
ښايستې نجلۍ ستا سره نه ښايېږي
داسې غمجنې ګيله منې شونډې
دا له بهره له سره رنګه ښکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دننه کي خوږمني شونډي
ښايستې نجلۍ په عمر تاندي لښتي
ته لا تر اوسه د دردونو نه يې
ځه د ګلونو سره لوبي کوه
ته د اغزيو د زخمونو نه يې
ته لا د شپو د ژړېدلو نه يې
تا لا زلمۍ ورځي خندلي نه دي
ته له ترخو څخه کلونه ليري
تا لا د ژوند خواږه څکلي نه دي
ځه د ګلونو په لمن کي نجلۍ
لکه ماشومه داسي ورغړېږه
لکه د غرونو د دښتونو هوسۍ
وځغله، ودرېږه، وتورېږه
ته چي په نظم راته خوله پوري کې
ته وا پر شونډو دي ترخه پاته دي
ستر ګي دي هر کله آسمان ته ګوري
ستا له آسمانه سره څه پاته دي
پر سورکۍ شونډو دي خندا خپره که
پرېږده د خوب د ناکامۍ خبري
راسه کيسې د شاپېريو وکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا سره نه ښايي بوډۍ خبري
ورځه خپرې ځوني په تال کي کښينه
له رنګينيو سره و زنګېږه
د کوه قاف خوبونه وتخنوه
له شاپېريو سره ونڅېږه
ورځه د نجونو په ټولۍ ګډه سه
چي پيغلتوب درسره ورقصېږي
له پايزېبونو داسي شرنګ پورته که
چي له مستۍ دي مځکه ولړزېږي
درځخه تښتي دا ناځوانه ځواني
دا بې وفا عمر وفا نه لري
دا د يوې شپې ميلمه دی ښايست
لکه برېښنا ځغلي بقا نه لري
ښايستې نجلۍ په عمر تاندي لښتي
ته لا تر اوسه د دردونو نه يې
ځه له ګلونو سره لوبې وکه
ته د اغزيو د زخمونو نه يې

ويرجينيا
۲٦/۱۲/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درڅخه ولاړم

ستا دپاره يې زه نه ليکم نظمونه
اې په خپل حسن مغروري نازولي
ستا له ياده مي توږلي دي خوبونه
رانه مه تښتوه وه شپې مى غلي غلي
پر اشنا لار مي شهيد کړله ګامونه
له سينې مي ستا سندري دي شړلي
راته مه يادوه تللي پيمانونه
پر دې لاره داسي ډېر مړي وتلي
زه هوښيار يمه د غرو لېوني نه يم
په تندي کی مى تېښتې نه دي ليکلي
چي وفا کوم وفا درڅخه غواړم
چي جفا کوې له شپو څه دي ولاړم
نه به ځواني شپې لمبه کم ستا دپاره
نه تنهاکي پر سکروټو درته ژاړم
نه جنون به افسانه کم ستا د ميني
نه د ګور کاڼي مي ستا په نامه وياړم
ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲/۱۲/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترګي

پرون مې نابېره
پسله کلونو ستا پر لور سترګي در واوښتلې
او د عينکو شاته
يوازي ستا د خمارو سترګو کيسه پاته وه
نه له اوبو ډکي وې
نه له رمزو ډکي وې
نه له نخرو ډکي وې
پکښي مي ونه ليدل
د مستۍ ډک سره او نري رګونه
نه يې رازونه ويل
نه يې نازونه کول
نه يې باڼو پيره دار
نه يې وارونه کول
نه يې ښکارونه کول
نه يې د زړونو امېلونه پېيل
نه يې وعدې د سباوون کولې
نه يې کيسې د مستو شپو نه د پرون کولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې کاږه باڼو حملې د شوا خون کولې
نه يې پر زړونو اورول نوی تازه وارونه
نه يې له سترګو تښتوله د ځوانۍ خوبونه
پرون مي نابېره
پسله کلونو ستا پر لور سترګي دروا وښتلې
درته کتل مي چي ښايستې سترګي دي
هغه د ميو پيمانې سترګي دي
له بېخوبيه له مستيه تکي سرې سترګي دي
د غزلونو افسانې سترګي دي
بنګ د ځوانۍ او د مستۍ نه لري
ناز د ورېښمني ناوکۍ نه لري
تمه د عمر د نازونو د پيرۍ نه لري
او له کونجونو څخه غلی غلی
د بلې مستۍ غنم رنګی نازولي نجلۍ
ها د ښکلا له تارو پوده د اودلي نجلۍ
د غټو بورو سترګو
په ننداره پسي کرار کرار مزلونه وهي
چي خپلي شپې به يې يادېږي کنه
چي خاطرې به يې پارېږي کنه
پټې له ځان سره ژړېږي کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویرجینیا
١٧/٣/٢٠٠١

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وروستی ماښام

یوه شپه چي شین آسمان له ستورو ډک و
د هر ستوري زما او ستا خوا ته سترګک و
د ډېوې په څېر انګړ کي بلېدلې
د سپرلي نسیم دي څنې نازولې
تا د میني کیسې یو په یو پېیلې
ما دي ډکي د اوبو سترګي کتلې
پر نری غاړه دي لاړ د مرغلرو
په ګرېوان کي دي داني د جواهرو
تور پیکی به دي پر ښکلي مخ را خپور سو
سپین تندی به دي د تورو زلفو کور سو
نه د میني د خبرو مړېدلو
نه یو بل ته په کتو سترړي کولو
چي د کلي په بر سر کي شور د سپو سو
وروسته زمونږ کور ته نژدې چي ږغ د پښو سو
چي په زوره مو ځنځیر په شرنګېدو سو
په سینه کي دي زړګی په دربېدو سو
هغه تور او بدهیبته قوماندان و

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د میني عزراییل بلا د ځان و
چي نفرت یې و په سیمه کي کرلی
د هر چا د سترګو خار پر امیر ګران و
رغړولي یې سرونه د زلمو وه
په لړزه ورنه وړوکی زوړ او ځوان و
ها بیباکه د لېوه په شان زلخوړی
د لړم په څېر مضر په زړه شیطان و
په زړه تور په کړه ظالم لکه نمرود و
په جامه کي هم غازي هم مسلمان و
سل پوړني یې د نجونو وه لوټلي
سل زلمی یې وه وژلي پهلوان و
ته یې پرېښودې یوازی زه یې بوتلم
کړی شپه له خپل جلاد سره پر پښو تلم
هر ګړی پر مخ لوېدم پورته کېدلم
لڅي پښې پر تېرو تېزو اغزو تلم
ګراني نه سومه خبر ګناه مو څه وه
هغه شپه مو د بېلتون د ژوندانه وه
ستا په برخه به ازل وه څه لیکلي
زما په برخه د کلنو زولانه وه
نن دې سرې سترګي د قبر سر ته ژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس په خوب کي دي دیدن له خدایه غواړم
هغه شپه به مي تر مرګه هېره نه سي
ته مې پرې ښودې تنها زه درنه ولاړم
چي لو تمار ته د پلو دي وه راغلي
چي پرون وه هسي نن هم دي ښاغلي
چي خدای زور د انتقام نه دی راکړی
په نصیب مي مه وای ستا په شاني ښکلې
خدای دي مه وای قلم زما سره وهلی
ما دي توري ستر ګي هېڅ نه وای لیدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خزانه

دا یوه لار ده تورو غرو ته پر دښتونو تللې
دښتونه ټول دي په اغزو پوښلي
تش سرابونه ښکاري
او هر سراب د اغزو ژبه لري
او هر اغزی د لمبو ژبه لري
هره لمبه له دوږخونو راځي
او په لمبو کې د دوږخ لړمان
هغه بدرنګه تور په رنګ د شیطان
هر یو بلا د لارویو په ځان
لکه خروړي ځناور پراته دي
د دې دښتونو شاته غرونه غرونه
د غرونو منځ کې دي هوار دښتونه
بیا سرابونه لړمان پوځونه
د مرګي غشي یې تېره نېښونه
لکه لېوان په ډلو ډلو ګرځي
خو څوک پخوا او ډېر پخوا دي تللي
او څوک پخوا او ډېر پخوا راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا يې کيسې د افسانو راوړي
وايي د غرو شاته روښان سيندونه
هغه په رنګ د شنه آسمان سيندونه
له جنتونو را روان سيندونه
پر خپلو څنډو د ګلونو امېلونه کړي
پېغلې په څنړو کې رنګونه ټومبي
ونې د ګلو له ګېډيو ډکې
لارې له ښکليو ناوکيو ډکې
ورځې له لمر شپې له سپوږميو ډکې
د شپې کيسې دې له وروريو ډکې
کوڅې باندې يې له زلميو ډکې
جنګ او نفرت بولي زامن د شيطان
منګول يې نه ورځي تر زړه د انسان
د ورځې شين په شپه ځلېږي اسمان
مځکې ته نه راځي څپې د توپان
سجدو ته نه بولي د ختو خدايان
خلک پر ګوتو د ګلو پر ځای پېړۍ اړوي
عمر په سل په دوه ځلورو شمېري
هلته پلرونه زامن نه ښخوي
پېغلې زلمي د اسوېليو له زخمونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارمانو په ښارکې نه او سیږي
خو ځوک پخوا او ډېر پخوا دي تللي
او ځوک پخوا او ډېر پخوا راغلي
موږ ته کیسې د جنتونو کوي
راته نکلونه د ګلونو کوي
موږ د دښتونو، سرابونو، د اغزو پر لمن
موږ د لمبو پر لمن
د لړمانو په فصلونو کې کلونه لیري
دښتې، غرمې او سرابونه لیري
غونډۍ او غرونه لیري
د زمانې او حوادثو پر واټ
حیران ولاړ لکه خوبونو وړي
د کوه قاف د شاپېریو کیسې
د بېګانه او د پردیو کیسې
د بل د پېغلو او زلمیو کیسې
دانه دانه خپلوو
او د پېړیو د تاریخ پر تندي
په بې هنرو ګوتو
ځان ته کاږه واږه شکلونه جوړ کو
موږ چې زلمي و موږ د جم په جام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یزداني شرابو
له جنتي سیندونو
له کوثري حوضونو
له حیاتي سوما خمونه تش کړل
نن که سبا وي د پیړیو پر لار
د لړمانو ، د اغزیو په وار
د هغه ښار تر واټه ځان رسوو
چي د ازل کاتب ده موږ ته خزانه لیکلې
چي د تقسیم امیر ده موږ ته پیمانه لیکلې
خو هغه ورځ به د دښتونو په مزلونو ورځو
د لړمانو په جنګونو ورځو
د سرو لمبو او د اغزو په سفرونو ورځو
چي رغړولي مو وي سیال سرونه
چي د تربور مو وي سوځلې خونه
چي ورور ته پاته نه وي روغ هډونه
بیا به په جنګ د لړمانو ورځو
پر سخته لار به بې سیالانو ورځو
موږ ته ازل ده خزانه لیکلې
زموږ یې په برخه زمانه لیکلې
موږ ته چی زین نه کئ د جنګ آسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته رانه وړئ د هنر لاسونه
موږ ته په کار نه دي پاخه فکرونه
له موږ دي ليري ګرځي سيال مېړونه
راته ليکلي دي قسمت ښارونه
جلا جلا به جوړوو ملکونه

ويرجينيا
۱۷/۵/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوځلي يادونه

زه خو منکر نه يم پر خپله مينه
ما ته به نوم د وفا نه يادوې
ما مي دا بول دی تر مرګی وهلی
زاړه قولونه به بيا نه يادوې
ما ته د اوښکو حساب مه غوړوه
ما ته نيمګړی کتاب مه غوړوه
اوس خو نه وصل نه هجران پاته دی
زړه کيسه د سراب مه غوړوه
د هېر ساحل پر غاړه ښخي سولې
زما د څپو ستا د سپوږمۍ خبري
په کوه قاف کي د مزلونو داستان
د لېونتوب د هوښياری خبري
نه مي ترخو د انتظار شپېو ته شپه پاته ده
نه مي د چا د اورېدلو افسانه پاته ده
ما چي سکروټو کي مزلونه کول
ستا تر قدمه مي سجدې در وړلې
ما چي دي لاره په ښو پاکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په وفا کي مې اسرې لرلې
چي ستا بلا ته مي سينه سپرول
ما دي په خپل قسمت کي شپې ليکلې
ما دي په وينو ترانې ليکلې
ما په سکروټو قصيدې ليکلې
ما چي تورونه پر تندي چلول
د خپل ازل څخه پردی خو نه وم
چي ستا په نوم به مي سجده لګول
څه سودايي څه لېوني خو نه وم
چي مي ځواني لمبه کوله درته
څه نذرانه څه سپيلنی خو نه وم
ما دي يوازې د خپل ځان دپاره شپې غوښتلې
ما پر خوبونو باندی ستا زلفي خورې غوښتلې
پر هغه لار چي مي ځواني سوځول
د رقيبانو چپاوونه وينم
شپې دي له تورو سره وتړلې
اوس د مرګي پکښي خوبونه وينم
د شاپېريو اتڼ وتورېدی
د ښار کوڅې سوې د دېوانو شومه
پر خزانو د اغيار سيوری وسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نصیب لال د ښامارانو شومه
چا له بلاله منبر و تښتاوه
اوس ابو جهل آذانونه کوي
اوس له فرعون سره راغلی جلاد
زموږ د خوبونو تعبیرونه کوي
زما دي د هیلو په ټاټوبي کي اغزي کرلي
زما د خوبونو په قسمت کي دي زخمونه کښلي
ما د خوبونو لاري وتړلې
شپې مي له سترګو تښتولای نه سې
د پردۍ مینی په خوږو اسرو مي
ماشومي هیلي غولولای نه سې
ما له غونچو سره دوستي وکړله
نور د اغزیو د مزلونو نه یم
ما مي له زړه دردونه وشړله
نور د پردیو پرهارونو نه یم
له هغو ګوتو نه رنګونه تښتي
چي ستا د خیال یې تصویرونه ایستل
هغه آذر په خپل ګرېوان کي ښخ سو
چي پر تېشه یې معبدونه لیکل
هغه زلمۍ خبري مه یادوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویل غرونه په یرغل نړوم
ما له فرهاده تېشه وتښتول
ځم د خیالونو تاج محل نړوم
ما مې د خپل زړه په محراب کې سجدې وتراشلې
ستا د یادونو په لمبو مې دېوې بلې کړلې

ویرجینیا
۱٦/۱۱/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ته به یې او زه به نه یم

دا ته څوک یې چې دې ښار زما د خوبونو
د یادونو پر لښکرو دی نیولی
پل پر پل مې لکه سیوری راسره یې
لکه وهم زما تر زړه دې تیغ ایستلی
کله ډار غوندې د زړه په کلیو ګڼه سې
د سینې په قفسچه کې مې زړه ریږدي
آیینې مې کړې راماتې په کوګل کې
له زړګي مې ټول زلمي یادونه لېږدي
په تیارو کې مې روح داسې تلولی سي
وایم اوس به دا د خاورو کورګی پرېږدي
کله لیري د بوډۍ په ټال کې زانګې
لمن ډکه راته راوړې د رنګونو
د شبنم هره دانه دې آیینه سي
پکښې ناڅې دې څپې د تصویرونو
رنګ او بوی دې وي له خیال سره ملګری
په شیبو کې مې کښېنتوکې د ګلونو
لکه سیوری د سپرلي داسې تازه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه لاړېږي د زلميو اميدونو
کله خوږ لکه رباب نغمه نغمه سي
کله ږغ د عزراييل پر زړه مېلمه سي
کله اوښکه د لېمو پر وطن ګرځي
کله ښار د ژوندانه لره پلمه سي
تار و پود مي ستا له خيال سره اودلی
نه دي نوم نه دي وجود مخ ته راغلی
نه دي ورځ زما له لېمو سره يوه کړه
نه مي خوب ستا له ديدنه نازېدلی
زما پر نظم پاچهي کوي بې تخته
د غزل پر هر پيوند می يې اوډلی
دو مره پوه يم ته به يې او زه به نه يم
ستا لمبې به آسماني زه به به ايره يم
ته باقي يې زه شېبه غوندي تېرېږم
د بريښنا په څېر پر کېږمه ورکېږم
که می زړه ته ستا آواز نه وای لوېدلی
زه به څنګه وای په مينه پوهېدلی
د جنون تر ښاره تا يم رسولی
چی پر مېنه د ليلا يمه ښاغلی
ته به پاته يې پر پاڼه د شعرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به رنګ يې تر قيامته د نظمونو
الهامونه د ښکلا به دي اورېږي
له قلمه به دي حسن راتوېږي
څوک به پوه نه سي په راز د تصويرونو
له آدمه تر آذره تر عمرونو

واشنګټن ډي سي
۲۰۰۴/۷/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شعر

منظومې کرښې دي چې کله په لوستلو ارزي
څو ورکې چيغې دي يو وخت په اورېدلو ارزي
پر باڼو اوښکې دي يو ځلې په ليدلو ارزي
د سترګو لورې ته يې مخ په اړولو ارزي
کله لمن د پسرلي له رنګينيو ډکه
کله شبنم غوندې پر پاڼو د ګلونو اورې
کله يې غېږ کې وې اخيستې پلوشې د غروب
د زمانې د سترګو نم پر ګرېوانونو اورې
کله پانوس غوندې بلېږي له يارانو سره
خوله له خندا سينه يې ټوله وې له اوره ډکه
کله پتنګ غوندې پخپله په لمبه کې سوځي
د افسانې هره ورقه يې له شوره ډکه
کله په لار د ګمراهانو کې مشال بلوي
لاپې د عقل يې تر کور د افلاطونه ورځي
کله يې ځای په ځنځيرونو زولنو کې نه وي
چې هره پاڼه يې را اخلې تر جنونه ورځي
شعر جلوه ده، د ګلونو له ښکلا سره ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو پټ آواز دی د سازونو له نوا سره ځي
کله نقاش کله تصویر سي کله رنګ د تصویر
کله جنون کله مجنون وي له بېديا سره ځي
کله موسکی سي سل کلني توبې ونڅوي
کله د اوښکو سره رغړي له ژړا سره ځي
شعر د انسان له خولې راځي د فرشتو ژبه ده
شعر له آدم سره پيدا د اسمانو ژبه ده
د زړه آواز دی له خليله تر منصوره پوري
شعر له قلم سره پيدا د زولنو ژبه ده
هم له کعبې هم کليسا هم له صنمه راځي
د خدای جلوه د خدای آواز دی او د زړو ژبه ده

ويرجينيا
۲۴/۱۰/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتني نجلۍ

واه پښتنې نجلۍ نظر دي نه کم
په دې جامو کي څومره ښکلې ښکارې
په تورو سرو او زرغونو رنګو کي
څومره ښايسته څومره منلې ښکارې

څه د کبر دېو په قدم روانه
څونه نازکه نازولې ښکارې
په دې بتکيو دې پاوليو کي نن
پښتنې پېغلي څه ښاغلې ښکارې
لکه زهيره ښايسته مرغکۍ
له خپله سيله راوتلې ښکارې

ستا له پاوليو له شرنګي سره مي
خيال ته د خپل وطن د ښتونه راځي
تر پلو لاندي شرمېدونکي نجوني
له قافلو سره ګامونه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته شپانه پر شپېلۍ ګوتې ايښي
پاس له کمره يې بږغونه راځي
سپي ورته سر وي په څپړو ايښی
ورته زاړه آشنا سورونه راځي

د غره لمنه کې رمې پنډې وي
د سترو وريو آوازونه راځي
د ډنګو پېغلو پر اوږو منګوټې
د ښکليو نجونو کتارونه راځي
د ډښت ګلونه په لمنو وهي
لکه ښايستې زرکې سېلونه راځي
پاس له آسمانه پرې شيندلی تخم
چېرته اغزي چېرته ګلونه راځي
خيال مې د ناوي په قدم رهی سي
بږغ د سورنا او د ډولونو راځي
غواړم چې يو ځل دې له څنګه سره
د خيال پر ډښته کېږدۍ و دروم
ترپلو لاندې دې نغمه نغمه سم
درته پردېسه شپېلۍ وږغوم
درته غزل درته سندره سمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم دي ګودر او پاولي وشرنګوم
څه د منصور څه د خيام په ژبه
ستا د لنډيو اتڼ ونڅوم

ته درخانۍ سې زه رباب درولم
چندنۍ او ښکو ته دي وژړوم
د کيږدۍ شپې ته دي لمبه لمبه سم
خيالي پېزوان دي پر اورو سولوم

تاته دي خپل ابا کيسه کړېده
تاته بوډۍ کله نکلونه کړي
زموږ د اتڼ د مستو نجونو کيسې
سرې په نکريزو ښايستې خپړي
يا ته پخپله تر ګودره تللې
يا دي اوږې له منګو ټيو سترې
لمبه بلېږۍ نيکه نکل کوي
نيم کښې سترګي دي خوبونو وړي
چا درته کله د سپرلي له غېږې
د ژړو ګلو غاړګۍ راوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته دي خپلې مورکۍ نکل کړي
چي زمو ږ کېږدیو کي اورونه نسته
پر ګودرونو پاولي نه شرنګېږي
د منګوټیو کتارونه نسته
اوس د شپېلۍ ستونی سندري ژاړي
نور له شپانه سره سورونه نسته
اوس به په دښتو کي اورونه اوري
د ژړو ګلو امېلونه نسته

ته اوس خبره يې چي ستا پر دښتو
اوس رمې نه ګرځي چمن نه لري
پېغلي له زرکو سره نه ګډېږي
غاړګۍ نه لري لمن نه لري
اوس په پرديو کي پلو ګرځوي
مېنه يې هېره ده وطن نه لري
اوتري سترګي يې له اوښکو ستړي
ژوندي ته کور مړه ته کفن نه لري
د نيکه ستوني کي نکلونه وچ دي
د لمبې ثنګ ته ماخوستن نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــا مرغلـــري ښايـــستې پـــښتنې
اوس بـه لـه چـا سـره نکلونـه يـاد کـو
اوس بـه د چـا لمبـو تـه شـپې سـپينوو
پـر کـوم اورغـوي بـه فالونـه يـاد کـو
اوس بـه لـه چـا سـره شـپېلۍ ږغـوو
د چـا غوږوتـه بـه د ښـتونه يـاد کـو
چېـري بـه سـيل د چتـو پيغلـو راځـي
چې موږ يې بيا ښکلي ګامونه ياد کو
اوس بـه د کـومي درخـانۍ پـر مـزار
شـــرنګ د آدم د ربـــابونو يـــاد کـــو

راځـه راځـه پـه اوښـکو نـه ده جـوړه
لا بـه تـر څـو دلتـه جنـډې زنګـوو
دلتـه بـه څـو لـه خيـالي بنګـو سـره
سـر د خوبونـو پـه مـستۍ زنګـوو
لا بـه ترڅـو پـه ورکـو پـانو پـسې
تيـاره نکلونـه د پېـرۍ زنګـوو
لا بـه تـر کلـه پـر خيـالی د ښـتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړي خوبونه د کېږدۍ زنګوو

راځه راووزه چې میدان ته وزو
راځه راځه چې ګرېوانونه نیسو
ته ملالۍ سه زه به توره راوړم
په سره اهاړ کې میوندونه نیسو
ته له غیرته راته سره لمبه سه
موږ به بارو تو ته سرونه نیسو
لا د نیکه پلونه له ورایه ښکاري
بیا به مغول ته خیبرونه نیسو

زما مرغلري ښایستې پښتنې
شرنګ د پایزیب دي په کېږدۍ کې
وینم
بیا دي د نجونو له سیلونو سره
هم دي په ورا هم په ډولۍ کې وینم
چې پر خاټول دي لمن پلنه ګرځي
د میني خیال دي په شپېلۍ کې وینم
ما تعبیر کړي دي دا خپل خوبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیا دې د ګلو په ګېډۍ کې وینم

راځه شنوا کړو دا کانه غوږونه
مستانه چیغه پر پامیر پورته کو
زموږ پر دښتونو چې اورونه کړي
نن یې له کوره ږغ د ویر پورته کو
دا زما او ستا له لپونیو وینو
شور د زندان شرنګ د ځنځیر پورته کو
راځه دا خپله ساه به ورکو ورته
رنځور اولس به له سریر پورته کو

ته به راځې له منګوټیو سره
زه به ګودر ته غزلونه لیکم
ته به بتکۍ، ته به پاولي شرنګوې
زه به دي حسن ته شعرونه لیکم

ته به لمبو ته د کیږدۍ ویده یې
زه به دی خوب ته تعبیرونه لیکم

ویرجینیا
۱۱/۱۱/۲۰۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه

درته به څه وایم له میني چی د چا کیسه ده
د زرو کالو په تورتم کي د رڼا کیسه ده

مینه یو تور دی، د مریمی د عصمت پر لمن
مینه صلیب دی، غرغره ده د عیسی کیسه ده

مینه یو راز دی خدای ساتلی د لمبې په زړه
کـــــــــــــــــــــــــــــــــــي
مینه په شپه د کوه طور کي د موسی کیسه ده

مینه تعبیر دی د یعقوب د سرو بوډیو اوښکو
تر زندانونو د یوسف او زلیخا کیسه ده

مینه معشوق ته د ورتلو او د راتلو خبري
په رباتونو کي د خدای او د رابیا کیسه ده
مینه جنون دی د محبوب د ورکو لارو مزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د کعبې، هم د مغان هم د کریشنا کیسه ده

مینه د عرش په کنګرو کې د خالق زمزمه
مینه په کومې د صنم کې د الله کیسه ده

کله له خال کله له خط کله له جام سره ځي
کله جنون کله سندرو د خیام سره ځي

مینه ازل په قلم کښلې ده ماشومه کیسه
د زمانې په تور بدنامه ده معصومه کیسه
۲۱/۱۱/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماته تیارې راوله

ما ته مه وایه چې شپه څونه اوږده سوه
ماته مه وایه چې کله به سبا سي
وایم شپه دې وي آرام یم په تیارو کې
هسې نه چې دا تیاره شپې مو رڼا سي
نه مې څوک په انتظار نه ورځې شماري
نه د چا سترګې پر لار یم چې به راسي
زه په ویښه له ژوندیو شپېو موړیم
زه د ورځې له ښایسته په زړه سوړیم
که پېرزو دي لا پر ما یو څو شېبې دي
ماته جوړې که تیارې چې زه ویدېږم
د هستیو له جهانه بېخبره
د خیالو نو په ټالونو کې زنګېږم
په تیاره کې ابدي سکون ته ځمه
زه د شپې غوندې له وړانګو فنا کېږم
زما هستۍ ته وړانګې مه راوله نورې
پر ما جوړې که د مرګ د وزر سیورې
ویرجینیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹/۹/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رنګ برخه

خدایه کشکي مې د عرش په کنګرو کې
لوړ له ستورو پاس په جګو آسمانو کې
پاس له ټولو جنتونو دوړخونو
ستا د شان ستا د قدرت په آیینو کې
دا لهام د فرشتو تر وزر پورته
د اسرارو د پردو په کرشمو کې
ستا له څنګه ستا له تخت سره مې ځای وای
سترګور او زورور لکه همای وای
له هغه ځایه مې ټول جهان لیدلای
یو په یو مې د سینو پټې سپړلای
دوه رنګي مې له رنګونو بېلولای
پر ښو مې د تزویر او ښکې ښودلای
د شیطان له وزرونو مې لښکري
د ریا سپینو جامو کې را ایستلای
چیغې پورته وای د حق له منبرونو
د منصور په نوم خطبه ویل کېدلای
نه خپلوي به له شیطانه وای د سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به ژبي په دروغو ګړېدلای
نه به ډکي وای کوڅې له غمازانو
نه لستونو کي ماران به پټېدلای
پاکول او بېلول مي سپين له توره
خبرول مي ټول وګړي ستا له زوره
يوه ورځ به مي ليدای له آسمانونو
چي سپېرې تشي کوڅې دي د ښارونو
نه په خولو کي به ګړېږي د چا ژبي
نه به ويني د چا سترګي د سرونو
له تيرو تورو به سرې ويني څڅېږي
سره او رونه به وي بل د کساتونو
دا جهان دی تا له رنګه پيدا کړی
هم ژوندی دی هم پايېږي په رنګونو
لېوني دي چي بېرنګه پيدا کېږي
بېرنګي په هېڅ قانون کي نه ځايېږي
ته په عرش کي پاچهي کوه سلطانه
موږ له رنګ سره پخلا ښه يو يزدانه
د وګړي ځای جهان د خدای آسمان دی
رنګ په برخه رسېدلی د انسان دی

ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵/۴/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امید شمع

ما د شپې په تور ګرېوان کي
ګوره څومره بېحسابه اوښکي توی کړې
ما مي سترګي لکه شمعي
ستا پر لاروې لګولي
او نظر کي لکه شمع
خپلو اوښکو له تیاره مرګي ساتلي
خو د شپې په تور ګرېوان کي
نا اشنا چي هم له زړه هم له زړه سوي دی
هره شپه تري تم کېږي
په زرګونو بېحسابه رونې اوښکي
ما هم دلته د پېریو په کوګل کي
د زمان د تورو لارو په کوتل کي
د خپل عقل افلاطون و زیندۍ کړی
په لوی لاس مي د جنون شپې سپینولې
پر سراب مي خپلي سترګي غولولې
رونې اوښکي مي دانه دانه شمېرلې
سل سوې زر سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په میلیون تر حساب تېري
شپې لا توري وې
خو تور وېښته مي سپین سول
ته را نه غلې
خو زه اوس هم
د مړژواندي عمر کور ته
ورلېږم سلګۍ د اوښکو
تا ته لار د انتظار کي
بلو مه داسي شمعي
چي سېلیو د زمان ته مخامخ دي

ویرجینیا
۲۴/۹/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګونګی مساپر

زه لکه او ښکه له خپل کور سره اشنا نه سومه
چې د باڼو او د ګرېوان په تکل
په بې اختیاره سفر وخوځېدم
زما په شبنم غوندي واړه زما په ښیښه وجود کي
زما په لنډي زما په شېبه وجود کي
زما په بې رنګه په ساده وجود کي
د هغه کور ټوله رازونه پټ دي
د هغه ښار تیاره کونجونه پټ دي
چې یې پخپله پېژندلی نه یم
چې یې یوه شېبه خپل کړی نه یم
نه په سفر ورته راغلی ومه
نه مي په خوښه چا منلی ومه
نه په اختیار مي هستېدلی ومه
نه له آواز نه له فریاده آشنا
له زرو ژبو سره
د نورو تللیو په څېر ورغړېدم
زه لکه او ښکه په شبنم غوندي واړه بدن کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل بېرنګه په ښيښنه بدن کې
د هغه کور ټوله رازونه لرم
چې يې يوه شېبه خپل کړی نه يم
لا تر ګرېوانه رسېدلی نه وم
لا مې لنډۍ لاره پې کړې نه وه
چې مې بې پېښو وجود دانه دانه سو
د سترګورو د هوښيارو مخته وځلېدم
هم مې په ژبه هم په رازپوهېدل
مګر په سل ژبو ګونګې پاته سول
د يوه بل پر لوريې وکتله
يوه شېبه يې پر شونډانو موسکا وغوړېده
او زما شبنم غوندې بې رنګه وجود
له زرو ژبو سره
پر بې اختيارو لارو ورغړېدی
له هرې سترګې هرې ژبې بېګانه پاته سو
او د نېستۍ په څېر له ياده ووت

پېښور
۱٦/۵/۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هجرت څخه لس کاله وروسته په کال ٦۳۲ میلادي کې حضرت رسول اکرم صلي الله علیه وسلم د وروستي ځل دپاره د حج فریضه ادا کړه او د حج د فریضې له ادا کولو څخه وروسته یې خلګو ته په وینا کي وویل چی ښایی زه د ډیر وخت دپاره ستاسي په منځ کي پاته نه سم. نو که د دین او دنیا نېکمرغي مو خوښه وي زما وروستیو وصیتونو ته ښه غوږ ونیسئ. د هغه دغه وینا په حجه لوداع مشهوره ده او ما یې په شعر کي خلص مفهوم را اخیستی دی.

## حجة الوداع

په سره اهاړ کي د غونډۍ پر څوکه
چیرته ولاړ و نازولی د خدای
ورته راټول وه بېحسابه خلګ
چی واوري څه وایي ښاغلی د خدای
هغه د نور د دریابونو څښتن
چي ورسره وې آیینې د جانان
هغه د سولي او ورورۍ پیغمبر
هغه د تورو د میدان پهلوان
چي یې تندي یوه سجده منله
چي را نسکور یې کړل د څو خدایان
چي یې د جهل پر تیارو خپره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا د عقل پلوشه د ایمان
هغه د حق د سپینو تورو ژبي
تندر په کور کي د باطل او شیطان
سترګي او لاس یې کړل آسمان ته پورته
هغه د عدل او انصاف قهرمان

ویل یې وا وریئ زه به تل نه یمه
ستاسي له منځه بل جهان ته ځمه
ما مي کتاب درکړ د لاري مشال
پر هغه لاره خپل جانان ته ځمه

مقدس وګڼئ د بل مالونه
درته حرام دی مال د هر مسلمان
پام کوئ ویني چی د چا توی نه کئ
چي په غوسه به سي خالق د جهان
د ژوند مالک د آسمانونو څښتن
خرابه نه کړي څوک بناء د یزدان
پکښي پیدا کئ د حق سپیني لاري
درته پرې ایښی مي کتاب دی قران
په امانت کي خیانت ونه کئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي څوک آزار نه کئ د خدای بندګان

د ابل وصیت مي دی د ښځي په نوم
دا ښایسته رنګین مخلوق د سبحان
ښځه د کور ښځه د ژوند زینت ده
ښځه ناموس دی ښځه مور د انسان
ښځه ښایسته لکه د ګلو ګېډۍ
ورکړی رنګ د جنتونو باغبان
ښځي له غیږي دي تر ګور ملګري
د غم ښادۍ د کور او اور ملګري

د حق مشال ویله خلګو و اورئ
د حق په مخ کی انسانان دي یو شان
عرب، عجم که په رنګ تور که سپین دي
په ترازو کي د یزدان دي یو شان
هلته عمل دی د هر چا ملګری
صاحب، غلام او سلطانان دي یو شان
ټوله په امر د سبحان رهي سئ
نه چي پر لاري د شیطان رهي سئ
هغه دښمن دی د آدم د اولاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم به مو دین او هم دنیا کي برباد
که وصیتونه مي د چا وي په یاد
په دواړو کونو به یې زړونه وي ښاد

د حق مشال وکړې وروستۍ خبري
چې لګیدي لکه خوږې شکري
څو ورځي وروسته خپل جانان ته ستون سو
له فاني کوره بل جهان ته ستون سو
سوه دا نړۍ په اجاره د شیطان
زړونو ته ولاړه وسوسه د شیطان
لاري د حق سوې په تیارو کي پټې
پر وینو وسوه غلبه د شیطان
د خلګو هېري سوې وروستۍ خبري
له زړونو ولاړې د وروری خبري
له هغه دمه تر دې دمه پوري
له آسمانو د غضب کاڼي اوري
د مځکي مخ د وینو رنګ اخیستی
لا یې پخوا دي ورځي سختي نوري

هغه د عدل او انصاف قهرمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وروستۍ ورځ یو حقیقت کړ بیان
چي زه پر مځکه یم وروستی پیغمبر
بل درته نه راځي د خدایه رهبر
ما درته راوړ له آسمانه کتاب
له خپل خالق له خپل جانانه کتاب
پکښي څرګندي د جهان لاري دي
هم د رحمن هم د شیطان لاري دی

ویرجینیا – ۳۱/۱۰/۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بي بي رابيا

بي بي رابيا هغه د عرش ملکه
ها نازولې د خالق لا مکان
چې يې له ژونده و شيطان شړلی
چې يې په زړه کې ځای نيولی يزدان
چې يې پيوند و د احتياج شلولی
لا رورڅرګنده وه د کور د رحمان
چې د دنيا له نعمتونو ګوښه
چې په خلوت کې يې جوړ کړی جهان
هم يې کوثر هم يې دلبر ورسره
هغه سېرابه له وصال د جانان
د پسرلي په يوه ښکلي ماښام
چې د نسيم له نازه مست وه ګلان
سپوږمۍ څيرلی و نقاب د وريځو
ځلېدل ستوري پر سينه د آسمان
له شاه زلميو وه رنګين باغونه
په ميخانو کې نڅېدله مستان
د جام پر شونډو تشېدل خمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر آسمانو تللې نارې د مغان
نغمه، رباب، شهباز، مطرب نڅېدل
په پنجرو کې ژړېدل بلبلان
مینځي ور ناري کړل بې بې را ووزه
چې قدرتونه د سبحان ووینې
سپیني سپوږمۍ سره د ستورو اتڼ
پرشنه کمبله د آسمان ووینې
د پسرلي له نشې مستي پاڼي
چې کرشمې د خپل جانان ووینې

بې بې ور بږغ کړله دننه راسه
چې په خلوت کې دې یزدان ووینې
په دې تیاره کې له جهانه ګوښه
پخپله نور د لامکان ووینې
چګې بې ګلونو بلبلان ووینې
چې بې له شمعې پتنګان ووینې

بې بې را ابیا هغه د عرش ملکه
په خپل خلوت کې لا مکان ته تلله
هغې په زړه کې و خپل عرش جو کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترګو رپ کي خپل جانان ته تلله
په قناعت يې بل پيوند شلولی
لکه شغله او وم آسمان ته تلله
د هغې ټول وجود له مينی جوړ وو
خو په سينه کي يې يوه مينه وه
هغې يوازي يو جانان پېژندی
دغه يوه دغه پخه مينه وه
که يې له غيرو وو پيوند شلولی
هغې له زړه و هر نفرت شړلی
لکه لمبه له هره عيبه پاکه
زړه کي يې مکر د شيطان وژلی
هغې ويل د لامکان خالقه
د کايناتو او جهان خالقه
چي دي دنيا کي زما نصيب کړی دی
هغه دي ورکړه دښمنانو لره
خپل جنتونه نعمتونه کوثر
ورکړه پېرزو يې که دوستانو لره
ما لره بس جانانه ستا مينه ده
د زړه په کور کي مي تنها مينه ده
بي بي رابيا هغې د نور مېرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې د هر انسان په درد خوږمني
په يوه لاس کي يې ډک جام نيولی
او په بل لاس کي يې وه سره اورونه
تلله د غرونو او دښتونو پر لور
لا يې په مخ کي وه ياغی سيندونه
ويل يې اور د دوږخونو وژنم
چي نه انګار نه يې لمبې پاته سي
ورځمه اور يې په فردوس ګډوم
چي نه کوثر نه يې ويالې پاته سي
چي نه انسان جنت ته ومسېږي
چي نه لمبې د دوږخ وغورېږي
چي نه په زړه کي يې د حورو طمع
نه د سقر له خوبه ولړېږي
غواړم بې طمع بېله ډاره انسان
د زړه په کور کي ځای کړي نوم د يزدان
پريوزي سجدې ته د خالق لامکان
په شپه او ورځ يې وي په زړه کي جانان
بي بي رابيا هغې د نور مېرمني
هغې د هر انسان په درد خوږمني
د نفرت زنې له سينې ايستلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۰۵

رېښې د مينې يې په زړه کې پلنې
چې يې سوځلي وې د زړه پر غولې
د عشق له اوره د شيطان څرمنې
ځکه يې عرش کړی خلوت کې و ځای
او نازولې وه د مينې د خدای

ويرجينيا
۲۰۰۴/۹/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داستانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خلکو خولې نه تړل کېږي

یــو ســـړی و خپلــه ښـــځه ورســـره وه
دی پیـاده ښـځه پـر خـره بانـدي سـپره وه
د مېـــــړه او د مېرمنــــــي مرکــــــه وه
څــه غیبــت و څــه صــفت کیـسه تــود ه وه
څـه لـه یو ښـو څـه لـه خوا ښـي پـه ګیلـه وه
څـه یـې نـوري کیـسې کـړې لاره اوږده وه
پـر سـړي بانـدي مېـرمن وه ډېـره ګرانـه
یـوه ورځ یـې سـتړی نـه سـو لـه بیانـه
چیرتـــه ناســـته وه ټـــولی د بېکـــارانو
مـــسافرتـــه یـــې ســـو پـــام د ظالمـــانو
ویـــل ګـــورئ دا بـــې شـــرمه بـــې غیرتـــه
دی پیـاده ځـي پـر خـره ناسـته ده عورتـه
دا وطـــن بـــه لـــه بـــې ننګـــو خرابېـــږي
نـه لـه خلګـو نـه لـه قـوم څخـه شـرمېږي
نــــه معلـــوم دی ورتـــه قـــدر د مېړونـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بېرېږي د عالم له پېغورونو
د مېړه مقام کتاب دی ذکر کړی
خدای پخپله په قران کي پېژندلی
کموي د مړو قدر بې ننګان دي
دا بې قومه دا بې پلاره ناکسان دي
سړي واوريدې د ډلي سپکي سپوري
لا تر غوږ يې سوې يو څو خبري نوري
ويل ښځي ته پياده سه زه سپرېږم
د دې خلګو له پېغور څخه بېرېږم
چي له کلي څخه ووتو دباندي
زه پياده ځم ته سپره له ما د وړاندي
چي پياده ښځه روانه سړی سپور سو
په يوه ګړي کي جوړ ورته پېغور سو
ويل وګورئ ظالم چي پر خره سپور دی
په مزلو يې ښځه مړه کړه مخ يې تور دی
جګه ونه سور يې مخ دی اوږې پلني
په مړانه کي کمزوري تر مېرمني
مور او پلار دا خپتور دی نازولی
په خواري يې د لمر مخ نه دی ليدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لـه خدايـه نـه شـرمېږی ظالمـان دي
پـه بيابـان کـي ګيـدړان د کـور زمريـان دي
چـي پـه کـور کـي وي لـوی سـوي نـازولي
دوی سـپاره ښـځي پيـاده ورسـره ځغلـي
همېـشه د بـل پـه لاس پـه نـس مـاړه دي
نـه د جنـګ دي نـه د ننـګ تيـار خـواره دي
چـي سـړي خبـري واوريـدې حيـران سـو
سمدستي لـه خـره راکښته سـو روان سـو
خـر د مخـه دوی تـر شـا وهـل مزلونـه
ويـل ګونـدي اوس بـه کـم سـی پېغورونـه
لا يـې شـل قدمـه نـه وه اخيـستلي
لا د کلـی مـنځ تـه نـه وه رسـېدلي
چـي تـر غـوږيـې سـول د خلکـو آوازونـه
د هلکـانو د لويـانو ريـشخندونه
دا سـړی او ښـځه دواړه لېونيـان دي
خـر د مخـه دوی پيـاده پـسي روان دي
کـه پـر پـښو يـې دی دا اوږد مـزل وهلـی
نـو يـې خـر د څـه د پـاره رانيـولی
پـه خنـدا يـوه را ږغ کـړلـه ځوانـانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــــه عالمـــه بـــې خبـــره هلکـــانو
دغــه خــر يــې هــم ملګــرى هــم رهبــر دى
پــه دښــتو کــې لار ښــوونکى د ســفر دى
دوى لــه خــره ســره روان ورســره ملــه دي
کــه دا خــر ورســره نــه وي دوى ړانــده دي
هــم مېړه هــم يــې مېــرمن پــر دې ســلا ســول
لــه ناکــام څخــه ســپاره د خــره پــر شــا ســول
بيا لـه سره يـې شـروع خپلـي کيسـې کـړې
ورپــه زړه يــې تېــري تېــري خــاطرې کــړې
ورپــه يــاد يــې کــړل د خلکــو ريــشخندونه
پــر هــر مــوړ بانــدى ښــکنځل او پېغــورونــه
چـــې ناڅاپـــه يـــوې ډلـــې د ځوانـــانو
لــــه عالمـــه بـــې خبـــره بـــې کـــارانو
ويـــل وګـــورئ دا څونـــه ظالمـــان دي
پـــر يـــوه خـــره ســـپاره دوه تنـــه لويـــان دي
نـــه زړه ســـوى لـــري دا خلـــک نـــه زوربــړي
نــه لــه خــداى نــه لــه عــذاب څخــه بېريــږي
نـــه يـــې شـــرم لـــه مخلوقـــه د دنيـــا ســـته
نــه پــه زړه کــې يــې څــه ويــره د عقبــى ســته

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هر څو يې ځان له موږ څخه پردی دی
که حيوان دی ژبه نه لری ګونګی دی
خو د خدای له قهره هم بېره په کار ده
يوه ورځ د ټولو خلګو ګور ته لار ده
پر حيوان باندي چا ايښی دومره بار دی
خدای ته وګورئ يو څه انصاف په کار دی
په قيامت به را ژوندی دغه حيوان سي
سمدستي به د خاوند پر لور روان سي
دی به ځغلي خر به جګ ورباندي سپور
وي
په اوږو به ساه شړی مخ به يې تور وي
له مېږه له ښځي ورکه سوله لاره
هم له خره هم له سفره سوه بېزاره
مېږه بيا پر پښو روان ښځه سپره سوه
بيا له سره هغه نوي ننداره سوه
دروازی د ښار بندېږي په قلفونو
څوک تړلای نه سي خولې د عالمونو

ويرجينيا

۲۰۰۲/۳/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د موږکانو جرګه

د لوی ښار څخه د باندی یو لوی کورو
چې یو وخت د خپل څښتن په زور سمسورو
د ېرش، څلوېښت پکښې آبادي لويي خوني
ګرځیدې پکښې ښایستې د کار مېرمنې
شاوخوا باندې ولاړ جګ دېوالونه
د قلا په شان لرله یې برجونه
شپه او ورځ یې اوسېدونکي په قراروه
نه د غلو نه د رهزنو ورته لاروه
څو یې سروي په مابین کې وې ولاړي
اوږدې کړي یې له کور څخه وې غاړي
وخت په وخت به پکښې جوړه مهماني وه
د څښتن له برکته پرېماني وه
پکښې جوړوه د غنمو ګدامونه
ذخیره وې پکښې وریجې خوارونه
چې څښتن له دې دنیا کړی رحلت و

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــه خپــل ځــان ســره يــې وړی برکــت و
نـه هوښـيار پکـښې معلـوم و نـه يـې مـشر
نــه بــاور مــشر تــه پاتــه و پــه کــشر
هــر يــو ه ځانتــه ويلــه چــي زه مــن يــم
هــر هلــک ويــل څــښتن يمــه واکمــن يــم
په لږ وخت کي کور ويجاړ له خلګو هېر سو
خوشـالي يـې کلـه کلـه غـم يـې ډېـر سـو
چـا يـې شـا وخوا تـه مځکـي کړلـې لانـدي
چـا زړې دعـوې قاضـي تـه کړلـې وړانـدي
اخيـستو تـه يـې چـم جـوړ کـړ بـډايانو
ورتــه ســترګي کړلــې خــړی ګاونــډيانو
د کالـه مـشر چـې ولاړی غـم پـر کـور سـو
د هـستۍ سـوه ورتـه شـا د نيـستۍ زور سـو
نــه پــه کــور کــي مهمــاني وه نــه خــاني وه
نــــه د هــــر څــــه پريمــــاني وه ارزانــــي وه
لــويي خــوني وې ولاړي تــشي تــوري
پـرې لوېـدلي وه د غـم او تيـارې سـيوري
کارخــانې يــې وې نيــولي موږکــانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دانو او د غلو داړه مارانو
هره ورځ به يې پر کور وه اخترونه
نوي نوي اتڼونه وه جشنونه
ورځ تر بلې ډېرېدل په زړونو ښاد وه
په نسونو وه ماړه په تن آباد وه
خو پيشو په دې کاله کې اوسېدله
هره ورځ په هره خونه ګرځېدله
پر کاله د موږکانو لوی ماتم و
د پيشو د لاسه نوی نوی غم و
هره ورځ د موږکانو جنازې وې
څوک به کم وه او د چا په سترګې سرې وې
يوه ورځ سره را جمع موږکان سول
په جرګه کې سره غونډ هوښيار لويان سول
ويل موږ تورې پيشو يو کړولي
څوک تر مرګه ډارولي څوک وژلي
د پيشو د لاسه مخ د مځکې اور دی
هره ورځ مو نوی نوی غم پر کور دی
دې غضب ته اساسي چاره په کار ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



غر که هر ثونه دی جګ پر سر یې لار ده
یوه بڼغ کړه چي په موږ کي جاسوسان دي
له پیشو سره جوړ سوي موږکان دي
په هر ځای کي چی موږ جوړ کړو اتڼونه
د پیشو تر غوږو یو سي احوالونه
او چي کله د کندو خواته تېرېږو
نابېره پر پیشو باندی پېښېږو
زما یقین دی څوک احوال ورورې پیشو ته
کښېنوي یې زموږ په لارو کي حملو ته
بل موږک چي هم خوله ور و هم هوښیار و
هم تر نورو یو څه پوخ د غلا په کار و
ویل دا له ناچارۍ بدګوماني ده
بدګومان لره په پای کي پښېماني ده
نه موږک د جاسوسۍ سي زړه کولای
نه پیشو سي د موږک خبر منلای
زه بېرېږم چي تر منځ به مو بدي سي
را نازل به مو غمونه پر ښادي سي
شور به ګډ د موږکانو په وطن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل به وژنو رانه پاته به د ښمن وي
بل موږک چې زمانو و ازمېيلې
په څو واره له پیشو و تښتېدلی
تر کندو په پټو لارو ښه خبر و
هم چالاکه و ترنورو هم زړه ور و
هغه غاړي کړې تازه وینا ته سم سو
ویل سترې مې سوه خوله زړه مې قلم سو
لا تر څو به د پیشو څخه ډارېږو
لا تر څو به په غارونو کې پټېږو
لا تر څو به د پشو غوړي چمبې وي
زموږ به بوري میندې ژاړي سترګي سرې وي
دا یوه موږ په سلګونو مړکان یو
نو بیا ولې په چاره پوري حیران یو
ځئ په لټه د پیشو په لوري ورسو
دوه یا دري د ټول ټبر د بلا سپر سو
که پیشو لري تېري تېري منګولي
موږ هم نه یو څه د رنې بلا وهلې
جوړوو چې په کندوانو کې غارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیشو تر زړه ایستلای سو غابښونه
"په دنیا کي چي یې نوم لوړ پر آفاق دی
اتفاق دی، اتفاق دی، اتفاق دی"
خو هر ګوره موږکان ټوله بې زړه وه
د پیشو سره د جنګ پر طرف نه وه
د جګړې او اتفاق خبر سوه پاته
په جرګه کي بل موږک جوړ سو وینا ته
هم خوله ور و هم زړه ور و هم هوښیار و
په ټبر کي یې ګټلی اعتبار و
دا څو میاشتي د غنمو تحویلدار و
ځکه دی تر هر موږک په غوښو بار و
ویل لوی مصیب زموږ بېخبري ده
ځکه موږ ته له پیشو پیښه خواري ده
راسئ ټول پر دې یوه خبر سلا سو
هر یو تېر له بېلي بېلي مدعا سو
زنګوله به د پیشو کو ور په غاړه
په خبر به یو چي راغله او که ولاړه
په جرګه کي سوې چکچکي آوازونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــا لکیـــاني ښـــورولې چـــا غوړونـــه
د تحـسین وربانـدي جـوړ سـول بارانونـه
تحویلـــدار تـــه یـــې ویـــل آفرینونـــه
پـــه دا مـــنځ کـــي یـــوه ږغ کړلـــه یـــارانو
زه یـــو ســـوال کـــوم دوســـتانو موړکـــانو
خـداى مـو سـم کـه آخـرت او دنیـا دواړه
زنګولـه بـه د پیـشو څـوک کـي پـه غـاړه؟
ســـره وکتـــل هو ښـــیارو موړکـــانو
ښـــوروله شـــخ بریتونـــه مـــشرانو
پـــه یـــوه پو ښـــتنه ختمـــه هنګامـــه ســـوه
د پیـــشو د زنګـــولې خبـــر ســـره ســـوه
د غـار خولـه کـي چـي پیـشو و غـوړ نیـولی
لـــه خنـــدا یـــې پـــښتورګی وو چـــاودلی

ویرجینیا – ۲۰۰۴/۱۰/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پاچا نوی کالي

پخوانیو زمانو کي یو سلطان و
ډېر شوقی و د جامو مین پر ځان و
هر سهار یې نوي نوي اغوستلې
د پرون جامې یې لېري غورځولې
په دربار کي ورته جمع خیاطان وه
په سکښتلو په ګنډلو هر زمان وه
سوداګرو به جامې ورته راوړلې
چا په چین کي چا په هند کي ورګنډلې
په هر ځای کي چي به ښه ټوکر پیدا سو
سمدستي به تر لباسه د پاچا سو
په خبر په یوه ملک کي دوه ټګان سول
د پاچا د قصر خواته ور روان سول
ویل موږ د پاچهانو خیاطان یو
په دې کسب کی اووه پښته نسلیان یو
راسره د حکمتونو ډک ټوکران دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قيمت کي د طلا په تول دي ګران دي
دا يــــوازي دی لبـــاس د پاچهـــانو
د دنيــا د لويـــو لويـــو ســـلطانانو
مــوږ تــر چينــه تــر ماچينــه پــوري وړي
پاچهـــانو پـــر ځـــانونو ازمېيلـــي
دي ټوکرانــو کــي حکمــت دی د جوګيــانو
پـــه منتـــر يـــې دي راوړي لـــه دېوانـــو
نــه احمــق او نــه خــايق يــې سي ليــدلای
د جاهــل ســترګی يــې نــه سي پيژنــدلای
چي باچا پــه هغــه ورځ لبــاس پــه تــن کــي
يــو پــه يــو بــه ورمعلــوم جاهــل خــاين کــي
پــه وطــن کــي چي هوښيار او صــادقان وي
هغـــه ټـــول بـــه وزيـــران او جنـــرالان وي
يــو خــاين بــه پــه دربــار کــي وزيــر نــه وي
يــو جاهــل بــه پــه وطــن کــي اميــر نــه وي
پاچــا خوښـــه کـــړه ســـلا د خياطـــانو
ويـــل ژر لبـــاس راجـــوړ کـــئ هوښـــيارانو
چي معلــوم پــه خپــل وطــن کــي خاينــان کــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــر طرفــه وزيــران او جنــرالان كــړم
دوه ټګـان سـول پـه دربـار كـي نـازولي
هــم پاچـا هــم درباريــانو تــه منلــي
پـه دربـار كـي يـې شـروع كړلـه كارونـه
پاچـا وركـړه پـه قـلا كـي لويـه خونـه
حوالـه يـې زر طـلاوي خپـل قيمـت كـړ
لا يـې بـار پـر درباريـانو نـور منـت كـړ
چې پاچا د خداى سايه خدمت يې پور دى
د ټـوكر قيمـت پـه سـل چنـده لا نـور دى
ذخيـره يـې پـه زرګونـو كـړې طـلاوي
دوه ټګـان وه يـو تـر بـل تـوري بـلاوي
لــه ســهاره تــر ماښــامه بــه لګيــا وه
پـر تنـدي خـولې رامـاتې پـه غوغـا وه
ټګـان سـترې كـرې ورځ وه پـه كـارونو
هــم شــرنګى و د قيچــي هــم ماشــينونو
پاچــا واســتاوه ســردار د وزيرانــو
چـې معلـوم كـي ځانتـه كـار د خياطـانو
چـي كـوټې تـه ورداخـل صـدر اعظـم سـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــه حيرتــه يــې زړګــی قلــم قلــم ســو
نـه پـر مېـز بانـدی لبـاس و نـه ټـو کران وه
خــو لګيــا لــه کــاره ســترې خياطــان وه
يــو خيــاط ســو پــه ادب ورتــه را وړانــدي
دواړه لاســه يــې نيــولي لانــدي بانــدي
ويــل مــړه ســولو ســرداره لــه کــارونو
شــپه او ورځ مــو يــوه کــړې پــر ځــانونو
دې ټــوکر پــسې مــو پــی کــړل وطنونــه
لــه پاچــا ســره ښــايېږي دا رنګونــه
دا زرينــــي ليکــــي ټــــولي د طــــلا دي
سـره رنګونـه يـې يـاقوت لکـه کيميـا دي
هــر يــو رنــګ يــې دی د بېلــو جــواهرو
لــه هــر رنــګ ســره تارونــه دي د زرو
چي جامې يو ځلي جوړې د سلطان سي
زمـوږ کمـال تـه عالمونـه بـه حيـران سـي
موږ کـانو غونـدي پـټ بـه خاينـان سـي
پــه غــارونو بــه دننــه احمقــان ســي
چـی پـه ځيـر صـدراعظم پـه ننـداره سـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان خاین او هم احمق ورته ښکاره سو
له هیبته یې زړګی اره اره سو
له غیرته یې بدن خوله خوله سو
له ناکامه یې وروړاندي کړه لاسونه
د خیالي ټوکریې وکړل صفتونه
لاس یې جیب ته کی پیسې یې رابهر کړې
خیاطانو ته یې سل طلاوی ورکړې
ویل ارزي دا ټوکر په انعامونو
آفرین دی ستاسي دوو پر هنرونو
پټ په زړه کي پر خندله دوو ټګانو
چي پیدا مو کړ وطن د جاهلانو
له سلطان تر وزیرانو احمقان دي
خاینان په دې وطن کي حاکمان دي
له قلا څخه بهر صدر اعظم سو
له ژوندونه یې زړه مات قلم سو
په دربار چي د سلطان سو وردننه
ویل زما د سر امان دي وي څښتنه
چي وطن ته دي بللي خیاطان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل هنره ور بخښلي پاک سبحان دي
عجايب يې دي رنګونه د ټوکرانو
چې يوازې دي لايق د پاچاهانو
وروسته وار سو د قاضي د وزيرانو
ورپسې د لويو لويو جنرالانو
چې هر يو به سو راستون له خياطانو
په صفت مړيده نه وه د ټوکرانو
يو وزير به يې مين و پر رنګونو
هغه بل پر جواهرو هنرونو
يوه ورځ نوبت پخپله د سلطان سو
په يوازې ځان قلا ته ور روان سو
چې کوټې ته سو د ننه د ټګانو
توره شپه يې سوله جوړه پر چشمانو
په حيرت حيرت يې وکتل مېزونه
تر نظر يې تېر وله ټول کونجونه
نه درک و په ميدان کې د ټوکرانو
نه په لاس کې و اثر د خياطانو
په موسکا او په تعظيم ورته ټګان سول

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـر قدمـه يـې پـه زر ځلـه قربـان سـول
ويـل زمـوږ د سـر امـان دي وې سـلطانه
اې د مځکـې پـر مـخ سـيورې د يزدانـه
ستاسې ذات باندي جامې مو چي ګنډلي
پـر وجـود بانـدي مـو نـه دي ازمېيلـي
چي په ځان کي دا جامې د لوی سلطان سي
زمـوږ يقـين دی عالمونـه بـه حيـران سـي
پاچـا و ايـستل لـه ځانـه لباسـونه
يـو پـه يـو يـې لوڅېدلـه اندامونـه
لـوڅ لپـړ و پـه کوټـه کـي درېـدلی
هـر انـدام يـې دوو ټګـانو و لیـدلی
چي هغوی خيـالي ټـوکران پـرې ازمېيلـه
پـه حيـرت حيـرت پاچـا ځـان تـه کتلـه
چي يقـين يـې د خپـل ځـان پـر حماقـت سو
خپل ګرېوان او خپل وجدان ته ملامت سو
لـه ناکامـه يـې ويـل پـرې تحـسينونه
د واه ، واه يـې بانـدي جـوړ کـړل بارانونـه
ده هـم ورکـړل انعامونـه د ټګـانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څو چنده له قیمته د ټوکرانو
شهادت د حماقت یې پر خپل ځان کړ
پر ټګانو چې یې جوړ طلا باران کړ
لس پنځلس ورځي وروسته وه جشنونه
تېرېدل د سلطان مخې ته پوځونه
د لباس کیسې عالم وې اورېدلي
تر ملکونو تر ښارونو رسیدلي
په زرګونو حاضر سوي وه پوځونه
په لکونو وه راغلي عالمونه
د غرمې پر مهال بږغ د نغارو سو
غړومبهاری د ټوپکو د توپو سو
پاچا مخکې ورپسې سل نوکران وه
د پاچا لمن لاسونو کې روان وه
په نارو سول په تحسین سول اولسونه
د پاچا یې د جامو کړل صفتونه
عالمونو زنده باد ناري وهلې
پر سلطان باندي دعاوي اورېدلې
خو احمق سلطان جامې نه وې لیدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـوڅ بـدن تـه خـړي سـترګي يـې نيـولي
تـاج پـر سـر څپلۍ پـه پښو تـوره تـر مـلا وه
لـــوڅ لپــړ پاچـا روان لکـــه اشـــا وه
ټول عـالم ليـدل چـي لوڅ سلطان روان دی
هر سړی پر ځان شکمن سو چی نادان دی
چـا لـه بېـري هلتـه سـپوږ نـه سـو وهـلای
د احمـق نـوم يـې پـر ځـان نـه سـو مـنلای
چـي يـو ځـل يـوه ماشـوم بږغ کـړه پـه زوره
ويـــل پـــلاره پاچـا لـــوڅ روان دی ګـوره
پــه يــوه ګــړي کـي جـوړه هنګامـه سـوه
د پاچـا د لـــوڅ بـــدن خبـــره سـره سـوه
نـه پـه مـنځ کـي خياطـان وه نـه ټـوکران وه
شـــرمنده ټـــول وزيـــران او جنـــرالان وه
ټګـــان تللـــي وه د وختـــه پـــر آســـونو
اړولـــي يـــې پيـــسې وې تـــر ملکونـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غلط آدرس

یو غریب سهار له خوبه سو راپورته
مخ یې ونیوی د ښار د کوڅو لورته
بیا پرون غوندې په کار پسې روان سو
بیا د ښار په بازارو کې سرګردان سو
بیا به څرنګه ماښام ورځې تر کوره
بیا به څرنګه نغری وینې بې اوره
ماښومان به بیا له لوږې څخه ژاړي
یو به ګرمه بل به غوره ډوډۍ غواړي
وره لور به یې په اوښکو سترګې سرې کړي
ماشوم زوی به یې سلګیو کې ګیلې کړي
کرۍ ورځ یې سوله تېره په چرتونو
د مېرمنی او د لوږو اولادونو
چې یې دوې ورځې ګوله نه ده خوړلې
نه یې وچه نه لنده ډوډۍ ژوولې
په واټونو ګرځېدی چې مازیګر سو
په زړه شین سو نور له کاره لاس په سر سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس د فقــــريـــې هـــر چاتـــه و نيـــولی
ګرځيـــدی پـــه دوکـــانو پـــه زړه تتلـــی
تـر ماښـامه يـې پيـدا يـو څـو روپـۍ کـړې
چـې ايلـه يـې پـه سـودا وچـې ډوډۍ کـړې
نـه يـې اور وليـد پـه کـور کـې ماشـومانو
نـه تـوده ښـوروا تـر خولـه سـوه د کوچنيـانو
نيمـــه شـــپه يـــوه ماشـــوم ويـــل بابکـــه
سـبا شـپه مـو پـه تـوده ښـوروا مـاړه کـه
شـــپږ کلنـــې بـــه ژړلای تـــر ســـهاره
څـو څپيـړې يـې مـور ورکـړې سـوه کـراره
ســـهار لمـــر لا پـــر آســـمان نـــه و ختلـــی
چـــې غريـــب د فقـــر لاس و را ايـــستلی
کـرۍ ورځ يـې فقـر وغوښـتی بـازار کـې
نه يې پلی نه يې سپور پرېښود په ښار کې
يـوه چـا ورتـه ويـل چـې بخـت دې تـور دی
درنژدې چې لوی جومات دی د خدای کور دی
د جومـــات پـــه مـــنځ کـــې جمـــع ده ولاړه
هلتـــه ورســـه لـــه مخلوقـــه خيـــرات غـــواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه جو مــات چــي کــوي خلــګ لمو نځو نــه
همېـــشه وېـــشي پـــر خلګـــو خيرا تو نـــه
هلتــه و رســه پــه خيــرات بــه دي زړه ســوړ کــي
جيب او لاس بــه دي کړي ډک نس بــه دي مــوړ
کـــــــــــــــــــــــــي
غريب سم د جو مات مخ کي پر ګو نډو سو
پـــه ژړا او پـــه فريـــاد او غلبلـــو ســـو
چــي مــي وږي پــه کالــه کــی ما شــو مان دي
پــه يــو ې ګــو لې مــړې پــو ري حيــران دي
پــه شــپو شــپو راتــه پر اتــه وږي نهــر دي
لکـــه وچ لرګـــي لـــه مـــړو برابـــر دي
پـــر بـــې وزلـــو زړو نـــه وســـو ځئ دو ســـتا نو
زمـــا اولاد وبـــو لئ خپـــل مـــسلما نا نو
تېرېـــدل د فقيـــر مختـــه ډلـــه ډلـــه
چـــا لـــه کبـــره د ده خو اتـــه نـــه کتلـــه
چـا يـو څـو تـوري پيسـې ورکړلـې تېـر سـول
هـم فقيـر هـم يـې د ده ما شـو مان هېـر سـول
پيســې لــږ وې تــر هــيڅ شــي نــه رســېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه ډوډۍ او نــه ښــوروا تــه بــسېدلې
فقیــر تــش لاس او جیبونــو تــه حیــران ســو
لــه ناکامــه د خپــل کــور پــر خــوا روان ســو
فقیر غوښتل چي سي ولاړ خپلي کوڅې ته
چــي یــې لار ســوه برابــره میخــانې تــه
پکښي ناست یو څو ملګري څو زلمیان وه
بــې خبــره لــه دنیــا څخــه مــستان وه
لاس تــر غــاړه ســره ناســت وه نــازولي
د هوښــیارو لــه دنیــا دلتــه راغلــي
د فقیــر لــوري تــه پــام د یــوه ځــوان ســو
هم سرو سترګو هم جامو ته یې حیران سو
لــه خپــل جیب څخــه پیسې یــې را بهــر کړې
پــه زړه ســتړي درویزګــر لــره یــې ورکــړې
میخانــه کــي ورتــه پــام ســو د ځوانــانو
لــــه دنیــــا د بېخبــــرو بــــد مــــستانو
هــر یــوه پیــسې لــه جیبــه را ایــستلې
چــا لــس ګــوني چــا شــل ګــوني ورکــولې
پــر ګــدا بانــدي یــې جــوړ پیــسه بــاران کــړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپــوره يـــې د تـــاوده نغـــري ارمـــان کـــړ
ده لاســـونه کړلـــه پورتـــه ويـــل خدايـــه Ψ
تـــه بېـــشکه مهربـــان يـــې رهنمايـــه
تـــر هرچـــا يـــې مهربـــان پـــه دې جهـــان کـــي
شـــريک نـــه لـــرې خالقـــه پـــه آســـمان کـــي
تـــه قـــادر يـــې تـــه رازق يـــې مـــا منلـــی
خـــو ادرس دې چـــا غلـــط و راښـــودلی

ويرجينيا – ۲۰۰۴/۵/۱٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم واده

یوه کلي کې نامتو غښتلی ځوان و
هم شته من و هم په متهو پهلوان و
خان به تل و په ښکارونو پسي تللی
د یارانو له ټولۍ سره وتلی
چې له ښکاره به راستون سو په راحت و
خدای ورکړی داسي کور لکه جنت و
انتظار یې هر ګړی ښایسته مېرمن وه
سرترنوکه لکه جوړه چی په ستن وه
دوه او درې یې لا په کورکی ماشومان وه
یو تر بله ښایسته لکه ګلان وه
خو په قام کي دا رواج و د خانانو
یوه ښځه وه پېغور د بدایانو
چې په قام کې زورور او یا شتمن و
درې څلور یې وې عورتی ډېر زامن و
یوه ورځ د خان د ښار په منځ کي شپه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه یې چېرته په ښادي کې مېلمنه سوه
په ښادي کې یې ځو نجوني وې لیدلي
زړه یې یو وړیوې ښکلي نازولي
په کتلو یې کباب د خان زړګی کړ
په عشوه یې خوب آرام ورنه پردی کړ
خان مین سو د نازونو پر مېرمنې
په زړګي یې پوري ووري ولاړې ستنې
ځو واده یې کړله ناوې په لکونو
ورته رایې وړل مالونه په بارونو
اوه ورځې اوه شپې جوړ وه جشنونه
هم غوایي حلالېدله هم پسونه
په خیرات ماړه د کلي مسکینان وه
آن د ښار ځخه راغلي فقیران وه
اتڼونو کې سرناوې بږغېدلې
شاه زلمیو په ټوپک نښې ویشتلې
د کلا په منځ کې نجوني نڅېدلې
له بهره د زلمو ناري راتللې
په هغه شپه کلیوال له سوه ارزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له ښاره را واده سوه مسته ګرانه
لا په کلي کې روان وه اتڼونه
چګې د ګراني او ارزانۍ سول جنګونه
په کلا کې لا تمام نه وه جشنونه
چې د خان پر کور نازل سوله غمونه
هره شپه د خان پر خونه باندې غم و
هره ورځ به ورته جوړ نوی ماتم و
هره ورځ په کور نوې ننداره وه
د دوو ښو پر هر څه باندې جګړه وه
له جنګونو څخه خان هسې نالان سو
جنت کور ورته دوږخ ګزران یې ګران سو
له ناکامه به روان سو په ښکارونو
په مزلونو د ښتونو جګو غرونو
له مېلو څخه کلا ته چې به ستون سو
هغه آش هغه کاسه پوخ یې لړمون سو
پر کلا د ښارۍ جوړه پاچهي وه
کليوالې لکه مینځې دا بې بې وه
ټول د ګراني په قسمت سول چې خواږه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مځکـه سـره وه د ارزانـي بانـدي شـپه وه
د انـار پـه شـان يـې زړه لـه وينـو ډک و
زړګـی نـه و پـه سـينه کـي ډک توپـک و
خـان مـين د خپلـي ګرانـی پـر نخـرو و
پـه منتـر کـي بنـد لـه سـر څخـه تـر پښو و
نـه پـه غـم کـي د ارزانـی د جـامو و
نـه يـې ځـای تـه ورغلـی پـه مياشـتو و
چـي بـه خـان راوړل مالونـه يـا ښـکارونه
مـخ تـه نـه سـوای ور وتـلای اولادونـه
ماشـومان لـه بېـري نـه سـوای را وتـلای
چا د ګراني مخ کي سپوږ نه سوای وهلای
پـه کـلا کـي ګرانـي نـوی ژونـد تيـار کـړ
د کـلا څخـه يـې جـوړ د ښـار بـازار کـړ
نقابونـه يـې لـه مخـه کړلـه ليـري
د پلـو پـردې يـې ټـولي کړلـې څيـري
سـينګار کـړی پـر بـامونو ګرځېدلـه
نـه لـه سيال نـه لـه نـا سـياله پټېدلـه
نـه د بنـي نـه د بـل پـروا يـې کړلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کټ کټ به یې ځوانانو ته خندله
یوه شپه چي خان په لوی سفر و تللی
د غرڅه ښکار پسي غرونو ته وتلی
یو ښایسته یو برېتور په ځان غښتلی
د بې بې خوني ته ولاړی غلی غلی
کلیوالي سیوری ولید په تیاره کي
زړه یې سم په درېدو سو په سینه کي
د سیني پر کور یې اور د غیرت بل سو
زړه یې وریت په هغه اور کي سو جلبل سو
په توکل د خوني خواته سوه روانه
ټول وجود یې سره لمبه و زړه لړزانه
چي په خونه ور دننه سوه ارزانه
پر پالنګ باندي یې ولیدله ګرانه
لڅه پڅه د خپل یار سره پرته ده
لاس تر غاړه له نګار سره پرته ده
د کلونو له دلدار سره پرته ده
په خپل کور کي له اغیار سره پرته ده
چیغه پورته سوه له ستوني د ارزانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتــه پـام سـو لـه پالنـګ څخـه د ګرانـي
ویـــل تېــره ســه بــې شــرمي بــې پــدري
اوس لــه دې هــم راتــه جــوړې کــه خبــري
چې زه یـو ځـل لـه دې شـوقه سم بـې غمـه
خبـــروم دې پـــه کـــارونو دوه عالمـــه
سـره تبـې بـه درتـه مځکـه کلـی کـور کـم
تــر عالمــه بــه دې مــخ پــه تبــې تــور کــم
زهرجنې چې دې زما د عـشق شېبې کړې
خپلې ورځې دې کړې توري شپې ترخې کړې

ویرجینیا

۲۰۰۲/۱۱/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې غوايي

درې غـوايي يـوه ځنګلـه کـې اوسېدله
تـل بـه درې واړه ملګـري ګرځېدلـه
پـه ځنګلـه کـي بـه يـو ځـای سره روان وه
يـو د بـل د ښـکر پـه زور پهلوانـان وه
يـو يـې تـور دوهـم ابلـق دريـم يـې سپين و
د زمـري يـې زړه پـه غوښـو پـسی شـين و
کـه هـر څـو زمـری پاچـا و د لېوانـو
زور يـې نـه و برابـر لـه درو غويـانو
چـي زمـري بـه ورتـه سپين کړلـه غاښـونه
درو غوايـانو بـه ورواړول ښـکرونه
لـه ناکامـه بـه زمـری بيرتـه روان سـو
پر زړه پاتـه د خپل ښکار بـه يې ارمان سو
يـوه ورځ ورتـه ګيـدړ ويـل سـلطانه
دا يـوه خبـره واوره لـه نادانـه
د غوايـانو تـر منـځ اورد نفـاق بـل کـه
پـر يـوه يـوه جـلا جـلا يرغـل کـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا بـه مـوږ هـم سـو مـاړه سـتا لـه خیراتـه
شپه او ورځ بـه کـړو دعـا و خپـل پاچـا تـه
زمـري وکـړې سـپین ابلـق تـه څـو خبـري
چـې پــر زړونــو لګیــدې لکــه شــکري
د عمرونـو ورتـه یـادې یـې کیسـې کـړې
د نــسلونو یــې وریــادې خــاطرې کــړې
ورتـه ویـې غانـده تـور پـه څـو څـو شـانه
سـپین ابلـق یـې تـور تـه کړلـه بـد ګمانـه
چې سپیره یې ټول وابـه کړل د ځنګلونـو
کـری ورځ د ده تېرېـږي پـه شـخوندونو
دا تــور مخــی دا کــم اصــله دا بدرنګــه
ولــې نــه لیــري کــوئ لــه خپلــه څنګــه
کـری ورځ یـې جـوړی کـړي وي رمبـاري
که پـه نس موړ وي که وږی یو څه غـواړي
بـد ښـکاریږي پـه ټـولی کـي د غوایـانو
دا کــم اصــل ولــې بــولئ لــه یــارانو
زه یــې پېــژنم پــه اصــل غــویی نــه دی
دا لــه نــسله د یــابو دی یــا د خــره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له ځانه یې جلا نه کړئ ملګرو
یوه ورځ به یاست پښېمانه ښکرورو
دا یوه خبره زما واورئ زړه ورو
دا قانون دی د اصیلو ځناورو
په ټولۍ کې چې کم اصل یې پیدا سي
د اصیلو ځناورو ورته شا سي
څوک یې نه بولي له ډلې د خپلوانو
په ټولۍ کې حساب نه وي د یارانو
که پر وخت مو تور ونه ایستئ له میانه
بیا سبا به مو ګیله وي له خپل ځانه
سپین ابلق ته ویل وروره خوښه ستا ده
چې دي هر څه فیصله کړه زما سلا ده
بیا یې وکتل زمري ته ویل وایه
ستا د تور د ورکولو څه ده رایه؟
زمري داړي کړلې سپینی ویل ګورئ
سبا دواړه کړئ جلا له توره لوری
زه او تور چې سو تنها زه په پوهېږم
تا سي ولاړ سئ زه له ده سره جوړېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي سبا لمر را ښکاره سو په ځنګله کي
تور يوازي را روان و په ګوښه کي
کړی ورځ يې په رمباړو کړ ځان ستړی
د يارانو يې سو ورک ژوندی او مړی
چي زمري ورته له ورايه ښکاره سر کړ
تور غوايي هم ځان جګړې ته برابر کړ
زمري مخامخ پر تور باندي حمله کړه
په تېره منګول يې غاړه ورپاره کړه
که هر څو به يې تر خوله ختې رمباړي
په وجود يې ښخېدې د زمري داړي
له ناکامه يې ناري کړې چې يارانو
زه مو پرې ښود م د ښمن ته نامردانو
دغه حال چې نن زما سبا پر بل دی
خپل عمل د هر سړي د لاري مل دی
د ابلق زړه باندي وسو ويل سپينه
زه او ته او تور شريکه لرو وينه
کشکي نه مو واى پرې ايښې دا زوى مړی
د زمري له خولې مو بيرته واى خلاص کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین په قهر ورته و ویل ابلقه
په دستور د دنیا پوه نه یې احمقه
دا بد ذاته دی کم اصل دی دا تور دی
د ده ژوند اصل غوایي لره پیغور دی
چې یې ایښې وه ګېدړ د نفاق لومه
تور غویی سو د زمري د پنجو شومه
یو څو ورځې د زمري خېټه مړه وه
د غوایي پر غوښو وازګو یې مېله وه
اوږده ژبه یې خپره وه پر برېتونو
مړه ګېډه یې وه ډکه له تېغونو
غړومبېدی د تور غوایي په غوښو موړ و
یو څو ورځې یې د ګېډې دوږخ سوړ و
په تاوده وه د زمري تېره غاښونه
شا وخوا یې پر کوله طوافونه
پر مېله باندې چې تېرې ورځې شپې سوې
غوښې ختمې سوې چې پاته وې ورستې
سوې
د زمري په نس کې بیا لوږه پیدا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتـــه يـــاده خپلـــه تېـــره مـــدعا ســـوه
ورنژدې د سپين غـوايي خوا تـه ورو ورو سو
څـه د غرونـو څـه ځنګلونـو پـه کيسو سـو
ورتــه ويــې کــړل خــوا ږه خــوا ږه نکلونــه
تېـــــرول يـــــې زاړه نـــــوي متلونـــــه
پکــښې يــاده يــې کيــسه کــړه د غوايــانو
د اصـــيلو او کـــم اصـــلو حيوانـــانو
ويل سپين پوست دي روښان لکه سهار دی
د غــوايي د جــنس او نــسل افتخــار دی
راتــه کــړي مــي کيــسې خپلــو نيکونــو
سـپين غـوايي دی د زمريـانو لـه نسلونو
نـور غـوايي چې قسم قسم پـه رنګـو دي
يـــا د نـــسله د اوښـــانو يـــا د خـــرو دي
زه او تـه پـه دې ځنګلـه کـې ښـه ښـکاريږو
زه او تـــه دواړه اصـــيل ســـره جـــوړيږو
دا ابلـــق هـــم د تورانـــو لـــه کالـــه دی
دا کـم اصـل د غـوايي لـه نـسله نـه دی
په اور شو کې د ځنګله ځان شريک بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان بادار ورته ښکارېږي د ټول غولي
یوه ورځ به دا ځنګل ټوله د ځان کړي
مړه له لوږې به کوچني لوی حیوانان کړي
دا ابلق چي شپه او ورځ پکښی څرېږي
که ځنګل هر څو مره لوی دی خو خلاصېږي
دی را پرېږده زما ورور کیږه ښکروره
د غرور باد به یي وباسم له سره
د زمریانو په ورورې که ته رضا یي
د ځنګله به زه وزیر ته به پاچا یي
سپین غوایي ځان له ابلق څخه ګوښه کړ
زمري ورو ځان ور نیږدې په یو پلمه کړ
ابلق ښکر نه وسم کړی لا جګړې ته
چي یې داړی د زمری ولاړې سینې ته
په یوه حمله پر څټ د غوایي سپور سو
د ابلق تر سترګو ټوله ځنګل تور سو
چي هر څو نه یې رمباړي کړې په زوره
چي کومک ته را رسګړه سپینه وروره
دغه حال پرون پر تور وو نن پر ما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوني زمري يرغل سبا پر تا دی
د ابلق وروستۍ رمبا ړي سوې کراري
د زمري دا ړو يې بندي کړې بغاري
بيا ځو ورځې د زمري مېلې تازه وه
د ابلق په پستو غوښو يې خوله سره وه
په ځنګله کې سپين ببغمه را روان و
د زمري له وروګلوی غره په ځان وو
خپله وينه يې ګڼله سوچه اصله
ښکاريدی ورته خپل ځان له بله نسله
د غرور نشې اخيستی سپين غويی و
دی په خپل خيال کې پاچا وزير زمری و
چي ناڅاپه د ښکاري زمری غړومبی سو
مخامخ ورته په لاره کې مرګی سو
چې د خيال نشه يې ووته له سره
په ژړا سو چي زمريه برادره
ما دي داړو ته يوازي غويی تور کړ
ستا دپاره بېګانه مي ابلق وروركړ
زما او ستا ده په رګو کي يوه وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اصیلو تر مابین په کار ده مینه
هر خدمت ته دي حاضر زه دي چاکریم
په ځنګله کي ته پاچا زه دی نوکریم
زمري وويل بې عقله ښکوره
له قانون د ځناورو بېخبره
د زمري او د غوايي په منځ کي څه دي
زما خوراک د غوايي غوښي ستا واښه دي
ستا خدمت به و په کار د دوو غوايانو
چي اوس ډلي په لګيا دي د مېږيانو
په ژړا سو سپين غويی ويل يې خدايه
په ريښتيا چي زه کم عقل وم له ځايه
په هغه ورځ مي مرګي ته ځان تيار کړ
چي جلا مي تور له ځانه په اختيار کړ
چي ابلق مي د زمري په خوله جلا کړ
هغه ورځ مي ځان له مرګ سره سودا کړ
د غوايي او د زمري پردی دي ويني
د دښمن سره څوک څنګه پالي ميني
چي په اصل او کم اصل تېر وتلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پـه لـوی لاس مـې د مرګـي خـولـې تـه ورتللم

ویرجینیا

۲۰۰۳/۴/۲٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوکانداري

په کوڅو کې صحرايي غرمه روان و
هم دی ستړی هم يې خر ستړی ستومان و
کړی ورځ يې لڅې پښې مزل وهلی
په سينه کې يې نفس و سوځيدلی
هم ګرميو ستړی کړی و هم تږی
هم نهر و له سهاره څخه وږی
لا په مخ کې يې د ښار تنګې کوڅې وې
ورته پاته لا سل ګوني دروازې وې
چې سړی به کړې پر مال ناري په زوره
خره به هم کړې غرغرې د خپله لوره
د ده ږغ به په نارو کې د خره ورک سو
هم به ځان او هم به خره له هک پک سو
چې د خره به غرغرې سوې يو څه غلي
صحرايي به ورته وکړلې ښکنځلي
چې آرام به صحرايي روان پر لار و
خره به هم مغزی اوږد کړی و کرار و

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلـه کـښته کلـه پورتـه لـوی غوړونـه
ښـکارېدی لکـه وهـي چـی لـوی چرتونـه
بیـا بـه ستونی صحرايي سم کـړ نـارو تـه
خـره بـه هـم کـړه خولـه تیـاره غرغـړو تـه
شـپږ اووه ځلـه چـي خـره داسـي نـاره کـړه
صـحرايي هـم ټینګـه لـښته ورسـره کـړه
سمدسـتي يـې تـرازو کـړ ورپـه غـاړه
ویــــل تاتـــه د کوڅــــو ورځ ده ولاړه
ځــه رهـي سـه خرڅـوه دي خپـل مالونـه
ســپکوه دي پـــه واټونـــو کـــي بارونـــه
چي پر مال سې تر ما ښې ناري وهلای
زمـا یقـین دی چي هر شی سې خرڅولای
چـي نـاري پـر مـال وهـلای سـې پـه زوره
خـر څـول دي هـم پـه وس پـوره دي ګـوره

ویرجینیا

۲۰۰۴/۵/۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قناعت

پخوانیو زمانو کې ماهیګیرو
ډېر غریب و د قسمت د تور اسیر و
نه یې بله خواري زده نه په لګیا و
دغه کسب ورته پاته له بابا و
همېشه به وي په کار پسي وتلی
یوه ورځ بېغمه نه و کښېنستلی
بل به هیڅ د ده په رنګ نه و څوک سترى
خو یوه ورځ په نس نه سو موړ زوی مړی
چې د ورځې یې هر څه کبان نیوله
په بازار کې په ډوډۍ به یې پلورله
د مېرمنې به یې هره شپه ناري وې
هره شپه به یې په اوښکو سترګي سرې وې
کله پلار کله قسمت ته په ښرا وه
چې نصیب یې غریبي توره بلا وه
ماهیګیر ته له خواریه ورځ ترخه وه
کور تبې وه او د ده وربانـدي شپه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ وربانـدي تېره سوه ماپښين سو
د درياب پر غاړه ناست و زړه يې شين سو
کـرې ورځ يـې يـو مـاهی نـه وو نيـولی
تپيـدی لکـه مرغـه پـر زړه ويـشتلی
که همدا سي کور ته ستون سي لاس ناولی
د مېرمنـي بـه لرګـی وي د ده ولـی
نـابيره يـې تـر سـترګو شـی زريـن سـو
چي يکړ مـاهی يې وليـدی غمګين سو
مـاهي بړغ کـړه ويـل واوره مـاهيګيره
د کلونـو لـه خـوارۍ پـه زړه زهيـره
زمـا پـه بيـه دي يـوه ډوډۍ نـه کېـږي
مـا ايلـه کـه چي څـه غـواړې در رسېږي
مـاهيګير زريـن مـاهی لـره حيـران سـو
چـي د ده پـه ژبـه څرنګـه ګويـان سـو
سمدستي يې ماهی خوشي کړاوبـو تـه
د دريـاب د زرغونـو اوبـو څپـو تـه
خالي لاس و تـور يې تش لاس کي نيولی
د مېرمنـي لـه غـضبه لړزېـدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ماهي ته يې ورږغ کړله په زوره
که ريشتيا پر قول ټينګ ولاړ يې وروره
دا نن شپه راته تياره ډوډۍ راکه
را پوره د وږي ګېډې مدعا که
دا نن شپه مو په توده ډوډوۍ ماړه که
زموږ له ډيري زلخوږۍ زړونه ساړه که
ماهي وويل پوره دي دا ارمان سو
په کوډله کې هوار دي دسترخوان سو
چې د کور تر دروازې دي رسېده وي
نعمتونه به تيار درته پراته وي
ماهيګير چې سو دننه په کوډله
شاوخوا يې په حيرت حيرت کتله
نا آشنا ورته ښکاره سوه خپله خونه
پر ميدان باندې پراته وه نعمتونه
هم چرګان هم سالنونه پلوونه
هم اچار هم مرباوي کبابونه
ده سترخوان ته يې نيژدې ناسته عورته
دوې يې سترګې سولې شپاړلس له حيرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې پوښتنې يې حمله کړه پر چرګانو
خولې يې غوړې سوې تر دواړو باړخوګانو
ماهيګير او مېرمن دواړه چې ماړه سول
چې په ګېډو کې اورونه يې ساړه سول
او دوهم ځلي چې ستړي په حملو سول
چې نشه له فيرنيو او خوږو سول
ترې مېرمنې په کرار وکړه پوښتنه
دا له کومه دي راغلي زما ځښتنه؟
سړي تېره د زرين ماهي کيسه کړه
او کراره يې د ښځې تلوسه کړه
ښځې وويل سړيه دا مو وار دی
په دا شپه به روانېږو زما تلوار دی
او کنه سهار وختي به روانېږې
يو ځل بيا به له ماهي سره ګړېږې
چې پر دغه ځای يو ښکلی کور را جوړ کي
په سيالانو دښمنانو مې زړه سوړ کي
ماهيګير ويل دا کار راته څه ګران دی
له ماهي سره ما لږ کړی احسان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چي ستړګي کړې مېرمني پرې راغتې
او رېـدلې يـې لـه دوو سـترګو سـکروټـې
ماهيګير پـر خپلو کړو باندي پښيمان سو
پـه سـبا مـلا آذان سـيند تـه روان سـو
پـه دريـاب بانـدي يـې ږغ کـړه چې ماهيـه
زمـا د بخـت او د ژونـدون زريـن زمريـه
زه مېرمنــــي يمــــه تاتــــه راليږلــــی
وايـي موږ تـه را آبـاد کـه يـو کـور ښکلی
مـاهي وويـل ورځـه کـور دي تيـار دی
ښايسته پـه رنګ رنګين نقش ونګار دی
مـاهيګير خپلـي کـوډلي تـه روان سـو
پـر هغـه ځـای ښايسته کـور تـه حيـران سو
پـه سرو شنو قـالينو فـرش وه هـره خونـه
رنـګ پـه رنـګ پکښي انبـار وه لباسـونه
پکــــښي ونـــــي د ګلونـــــو وې ولاړې
اوږدې کـړې صـنوبر او سـروي غـاړې
پــه شـنېليو کـې ويالــه مـسته روانــه
پـر دوو غـاړو يـې ګلونـه څـو څـو شـانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره شپه هوا رېدل دسترخوانونه
ورته راز پــه زار راتللــه نعمتونــه
ماهيگير وكه مېرمن خوښ او خندان وه
تر قيامت د مخه دلته جنتيان وه
يوه شپه د ماهيگير مېرمن خپه وه
ماهيگير ته بيا په برخه د اور شپه وه
ويل نوره زه ديغ سوي يم په كور كي
يم يوازي كرى ورځ يمه په اور كي
ته به بيا سهار وختي ور روانېږي
يو ځل بيا به له ماهي سره گډېږي
چي په كار موږ ته قلا ده سل يې خوني
نوكران چي پكښي وگرځي پلټني
يوه خونه راته جوړه كه د زرو
يوه بله د الماسو جواهرو
د قلا د پاره غواړم شل برجونه
په هر برج كي نوكران او تيركښونه
د مجلس د پاره غواړم سهيلياني
د خدمت د پاره غواړم نوكراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



و لباس ته مي په کار دي خياطاني
د شاهي خوړو د پاره اشپزاني
هسي نه چې په دې ټولو کې شی کم وي
مځکه سره ستا به پر شپه ورځ به دي غم وي
له ناکامه ماهيګير سيند ته روان سو
بيا ماهي ته په کړه غاړه ګويان سو
چي مېرمنې را لېږلې يمه تا ته
اشتها يې ډېره سوې ده قلا ته
ماهي وويل تياره دي قلا ده
پوره سوې دي د ښځې تمنا ده
ماهيګير هغه ګړی کور ته روان سو
چي خپل کور ته ورننږدې سو هک حيران سو
هغه ځای باندي ولاړه لو قلا وه
چي نه اوس وه چا ليدلې نه پخوا وه
تر آسمانه يې ختلي وه برجونه
د سپاهيانو باندي ګرځېدل پوځونه
سر تر پايه جوړه سوې له مرمرو
پکښې خوني د الماسو جواهرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنې ويالې وې راسپرې پر چمنونو
هم باغونه د مېوو هم د ګلونو
عطر پورته و اسمان ته د سرو ګلو
په ګلځانګو کې سندرې د بلبلو
سهيليانو اچولي اتڼونه
نوکرانو يې کوله خدمتونه
پرېماني د نعمتونو وه مېلې وې
په قلا کې د جنت ورځې او شپې وې
يوه شپه د ماهيګير پر کور ناورين و
د مېرمنې تندی تريو زړه يې غمګين و
ويل غواړم ته پاچا زه ملکه سم
د جهان تر ټولو ښځو ښايسته سم
چې په سيل راته ولاړې وي بيبياني
چې نکلونه مې د شپې اوري پيغلاني
سلامي ته مې را ووزي عالمونه
د تخت مخ ته مې ولاړ وي لوی پوځونه
له ناکامه ماهيګير سيند ته روان سو
بيا ماهي ته په کړه غاړه ګويان سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــي مېرمنـــي يمـــه تاتـــه را ليږلـــى
د پاچـا پـر تخـت او تـاج يـې زړه بـايللى
مـاهي وويـل ورځـه تـه مـي سـلطان کـړې
همـدا اوس مـي د ملکونـو نګهبـان کـړې
مـاهيګير پورتـه پـر تخـت د سـلطنت سـو
پـه ښـارونو کـي جـاري يـې حکومـت سـو
شـــاعرانو قـــصيدې ورتـــه ليکلـــې
ملايـــانو يـــې پـــه نـــوم خطبـــې ويلـــې
ملکـــې تـــه بـــه راتللـــه عالمونـــه
کړېـــدل ورتـــه پـــه لاره کـــي ســـرونه
کـــه هرڅـــو وه ملکـــه پـــه رنـــګ رنګينـــه
لا دننـــه پـــه زړګـــي کـــي وه غمګينـــه
مـــاهيګير تـــه يـــې ويـــل ســـبا روان ســـه
خپل ماهي ته ورسه زما له خولې ګويان سه
چي زه غـوا ړم چي دا لمر مي په فرمان وي
پـه تعظيم دي راتـه سـتوري د آسـمان وي
کـه سپل غـوا ړم پـه هغـه ورځ دي توپـان وي
زمـا پـه حکـم دي هـم واوري هـم بـاران وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچهي دي زما په برخه دايمي وي
زما په لاس کي دي هم غم هم دي ښادي وي
له ناکامه ماهيګير سيند ته روان سو
بيا ماهي ته په کږه غاړه ګويان سو
چي مېرمن مي غواړي تخت د کايناتو
پاچهي غواړي د ټولو مخلوقاتو
په قدرت يې وي دا لو مځکه ولاړه
په اختيار يې وي مرګی او ژوندون دواړه
او که نه وي هره شپه مي تريخ ژوندون دی
را خوړين کړی په کوګل کي يې لړمون دی
ماهي سر کړ له اوبو څخه را پورته
په حيرت يې ورکتله د ده لورته
ويل ولاړ سه مبارک دي سه کوډله
شوم نهر په ځای کی پروت زړه ګدله
ستا مېرمن په هيڅ دولت نه قانع کېږي
له هغې سره زړه کوډل ښايېږي
چا چي کړی په دنيا کي قناعت دی
له طالع سره ملګری يې دولت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهيګير خپلي مېرمني ته روان سو
په ليدلو د کوډلي هک حيران سو
پکښي پروت هغه زوړ تور و د ماهيانو
ور په زړه سول منتونه د ښاريانو
ګرځېدلی چي تول عمر شوم نهر و
په ځان ستړی بېنوا خاوری په سر و
خو مېرمن يې په کوډل کي وه خوشحاله
ويل خوښ مي دی دا ژوند له هره حاله
ويل ښه دی چی بېغمه د جهان يو
په نيم نس دي يو ماړه په غم د ځان يو
خو په زړه کي خدای زده څه پر تېرېدله
لکه شمع هر ګړی چي ننېدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غيبت

هستوګن په يوه کلي کي باغوان و
له هر چا و ګيله من مين پر ځان و
همېشه د حاضرينو په صفت و
خو په ټول قام کي مشهوره په غيبت و
مخامخ چي يې د چا کړل صفتونه
په غيبت به يې تاوده کړل مجلسونه
نه پرې ايښی يې امي و نه ملا و
هم د بدو هم د ښو په ځان بلا و
کليوال وه که ښاريان وه خاينان وه
دی صادق و نور دا ټول دروا غجنان وه
څوک خاين و څوک چمبازه څوک فاسق و
څوک له هر چا سره غل و منافق و
مراعات يې په غيبت کي د چا نه کړ
نوم په ژوند کي پاته نه سو چي ده ښه کړ
د دې کلي يو سردار و ډېر شته من و

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ځوانانو پر سپين ږيرو قدرمن و
له پلرو يې په ميراث وړي خاني وه
شپه او ورځ يې په قلا کې مهماني وه
پر باغوان باندي تر هر چا مهربان و
که هر چا ورته غانده خو پر ده ګران و
د سردار له برکته په نس موړ و
په تن پټ و په زړه روغ و په ځان جوړ و
د سردار سره ملګري يو اغا و
هم سيد و هم مرشد و هم ملا و
له کلونو له پخوا اندېوالان وه
لکه دوه سکني ورونه سره ګران وه
پر هر ځای ورباندي پېښ چي به باغوان سو
په ثنا او په صفت به يې ګويان سو
خدای مو زر کاله ژوندي لره يارانو
په امان له بدو ستر ګو سئ ځوانانو
پر هر لوري چي جوړه سره روان ياست
غليمانو ته اغزي ښانسته ګلان ياست
دا خوار ځان به مي زر ځله در قربان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدقه به مي خپل سر بلا گردان کړم
زه دي و مرم چي سيد او سردار نه وي
غليمانو ته لېمو کي چي خار نه وي
يوه ورځ د دوو يارانو مرکه سوه
پر باغوان باندي توده مباحثه سوه
دواړو وويل باغوان به امتحان کو
د يوه بل په غيبت به يې گويان کو
اول پټ په يوه خونه کي سردار سو
سيد کښېنستی باغوان ته په گفتار سو
ويل څه وايې باغوانه دا سردار دی
په ريشتيا اعلی نسبه د دې ښار دی
که مو ږ هسي هر گړی ورته ټيټېږو
شپه او ورځ په سلامي ورته درېږو
که د زړه مي پوښتې ستړی له دې کاريم
په خدمت کي تل ولاړ چي د سرداريم
باغوان غاړه کړه تازه ويل يې پيره
صدقه دي تر نسب سم زموږ ميره
نه سردار دی نه اصيل دی هسی جت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر څوک يې سردار بولي ملامت دی
تـــر پرونـــه خبـــر نـــه و لـــه غوريـــو
نـــن يـــې خېټـــه ده وتلـــې تـــر کـــاليو
ور نـــه ليـــري چـــې ســـې نـــوم د ســـردارانو
پـــه ګـــورم کـــې بـــه روان وي د غوايـــانو
کـــه لـــرلای مـــې قـــدرت د حاکمـــانو
بېلـــول مـــې ټـــول ســـيالان لـــه نـــا ســـيالانو
زموږ له خلګو څخه اصل و نسب ورک دی
هـر خېټـو يـې هـم سـردار دی هـم ملـک دی
کلـــه چـــا د ده ليـــدلی دســـترخوان دی
دا پـر څـه بانـدي سـردار د څـه شـی خـان دی
هـر کـم اصـل چـی را کـډه لـه بـل ښـار سـي
دلتـه نـوي جـامې وا غونـدي سـردار سـي
دا خبـــري ســـردار ټـــولی اورېـــدلې
پـــر زړګـــي يـــې لکـــه ستنی ژرخېـــدلې
هـم لـه قهـره پـه خندا هـم سور او شين سو
که هر څو يې زړه تسل کړ خو غمګين سو
وروســـته واری د ســـيد د پټېـــدو ســـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار ورغی باغوان ته په کیسو سو
ویل وایه دا ریشتیا سید پاچا دی
هم مرشد دی هم اولاد د مصطفی دی
که یې هسي موږ عزت په ورځو شپو کړو
ټول یې ستړي د لاسو په مچېدو کړو
زه چې ګورم سید نه را معلومېږي
یو ټګمار غوندي چالاک راته ښکارېږي
باغوان و مسل سردار ته ویل خانه
حقیقت خبره غواړه له باغوانه
نه سید دی نه بزرګ دی نه اغا دی
خدای خبر دی چې لاڼم دی که جولا دی
زموږ وطن دی ځالګی د ناپوهانو
پکښي ګرځي همېش ډلی د سیدانو
چې هر ډم او هر کم اصل ورته راسي
هم خواجه سي هم مرشد سي هم اغا سي
زړه مي سوځي د وطن پر بېعقلانو
چې لاسونه مچوي د دې ټګانو
د وطن خلک په لیکي تعویذونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکرانې ورته راوړي چرګې پسونه
د بې عقلو وي پیرې ورته ولاړي
توکوي د لوی او کم په خولو کې ناړی
ستا خاطر دی مچوم چې یې لاسونه
د اصیل او سردار پور دي عزتونه
که نه پېژنم یې تګ دی اغا نه دی
سید نه دی مرشد نه دی ملا نه دی
خدای دي سیوری تل پر موږ لره سرداریې
هم مو سریې هم مو سترګی هم باداریې
ستا د سیوري برکت دی چې ژوندي یو
ته په قدر راته ګورې چې سړي یو

کابل انټرکانټیننټال – ۲۰۰۲/۱۰/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنازې کالي

شین سهار چې لمر لانه و راختلی
لا د مځکې پر مخ نه و ځلېدلی
چې له بر کلي خبر راغی ملا ته
چې مخلوق په ډلو ډلو ځي پاتا ته
د بر کلي د لوی خان مشر ناظر و
چې کلونه د لوی خان سره نوکر و
برائې دی په خپل کور کې غځېدلی
یو ناڅاپه د اجل غشي ویشتلی
اوس مخلوق دي ور روان د خان دېرې ته
چې ناظر پر اوږو واخلي هدیرې ته
ملا سمد ستي چپنه کړه تیاره
سترګي توري شمله شخه له اهاره
په تلواریې زمونځول ږیره برېتونه
د ګلابو یې پر ځان توی کړل عطرونه
هم یې غاړي هر ګړی تازه کولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم يې سترګي تورولې ييا کتلې
لکه زوم له سر ترنوکه په سامان سو
له فيشنه چي فارغ سو ور روان سو
له دعا له آيتونو يې خوله ډکه
سپين له ورايه ځليدی لکه کالکه
چا پوښتنه ځني وکړه ملا څه کړي
په تلوار چې د بر کلي خواته تله کړه
ملا سترګي کړلې پورته ويل ولې؟
ته خبر له کيسې نه يې د بر کلي
تېره شپه ناڅاپه مړ د خان ناظر دی
لوی او کم د کور او کلي په خبر دی
ښه سړی و خامخا دی خدای بخښلی
ښه جنت به يې په برخه وي منلی
بختور به دا خانان او ملکان وي
په نصيب چې د چا داسې ناظران وي
جنازې او فاتحې ته يې ورځمه
او ضرور د خان د زړه تسل کومه
سړي و ويل ملا مصيبت نور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګېدلی د بر کلي په کور اور دی
کشکی مړ د خان ناظر یا نوکران وای
یا یې مړه په درزنونو بزګران وای
سل دي و مره یو دي مه مره دا متل دی
خان مړ سوی دی په کلي کي اور بل دی
لار ده ورکه له وړو او له لویانو
هم پر کور یې غم نازل هم پر خپلوانو
چي ملا د سړي واورېدې خبري
لګېدلې یې پر سر لکه د بري
د چینی او جامو په ننداره سو
تول فیشن خوشی عبث ورته ښکاره سو
هم پر عطرو هم رنجو باندی پښېمان سو
بیرته ستون سو د خپل کور پر خوا روان سو
له سړي څخه لار ورکه سوه پرېشان سو
په ملا پسی یې ږغ کړله حیران سو
چي راغلی د ناظر وي جنازې ته
چي خان مړ دی څنګه نه ځې هدیرې ته
ملا وویل سړیه ته ابتر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا له کار او ژونده نا خبرېږي
جنازې ته د ناظر کـه زه ورتلـلای
په ورتللو به مې خان خوشالولای
څوک خوشاله کم پخپله چې خان مړ دی
څکه هر سړی چې مړ دی هغه پړ دی
دا جامې له ځانه باسم خیرنېږي
ژر تر کوره پورې ځمه وخت تېرېږي

ویرجینیا – ۲۰۰۴/۴/۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کوه طور پر لور

کوه طور ته پیغمبر موسی روان و
تولـه لار اخته په ذکر د یزدان و
له آسمانه اوریدل پري رحمتونه
فرشتو باندي ویله سلامونه
په خلقت کي ورڅرګند وه حکمتونه
هره پانه کي لیدل یې قدرتونه
له خالقه یې اخیستي وه قولونه
د وعدي پر لوري یې اخیستل ګامونه
جاریدل یې کانی، بوټی تر ګامونو
کوه طور یې نازیدی په قدمونو
ورته ښیري هر ګرېوان و د رازونو
لوړ ختلی و تر هسکو مقامونو
چي تر غوږ یې د شپانه سول آوازونه
چي سپړل یې کانو بوټو ته رازونه
شپانه هم د خپل خالق سره ګویا و
دی هم ذکر د یزدان لره تنها و

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی لـه رب سـره پـه خپـل مقـام لګيـا و
بـــې خبـــره لـــه دنيـــا لـــه مـــا فيهـــا و
ويـل خدايـه چـې تېرېـږې پـر دې غرونـو
پـه شـېلو كـې پـه درو كـې پـر دښـتونو
چـې كـرې ورځ يـې ملګـرې د بـادونو
هـم پـر لاريـې د سـېلونو بـارانونو
هـره ورځ تـازه كـوې نـوې ښـاخونه
پـه اغزيـو كـې ايـږدې تـازه ګلونـه
پـر دښـتونو پاشـې تخـم د سـرو ګلـو
غـونچې راوړې د نرګـسو د سـنبلو
مهـار كـړې دې وي وريځـې پـه آسمـان كـې
در سـره وي خـر سـېلونه پـه بـاران كـې
زه پـوهېږم چـې خـوږمن دې دې هډونـه
بنـد پـر بنـد بـه دې خوږېږي اندامونـه
پـه اغزيـو بـه دې څيـرې وي لاسـونه
هـر يـو زخـم بـه جـلا كـوي دردونـه
سـتړي سـوي بـه دی پـښې وې هـم لاسـونه
هـره ورځ دې تـر پـښو لانـدې وي ملكونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــشکي زه دي واى ملګـــرى د مزلونـــو
درکـــولاى مـــي توښـــې د ســـفرونو
پـــه کوچـــو مـــي دي هډونـــه غـــوړولاى
بنـــد پـــر بنـــد مـــي دي زخمونـــه رغـــولاى
هـــر ماښـــام مـــي درتـــه پـــښې ټکـــورولاى
پـــه شـــيدو او پـــه غـــوړو مـــي نـــازولاى
خدايه ته چې د هر شي په درد خوږمن يې
تـه بـه څرنګـه زخمـي زخمـي پـه تـن يـې
کشکي هر سهار په دښت کي مي ليدلاى
پـــه خـــوږو تـــودو شـــيدو مـــي مـــړولاى
چـــي لـــه درده دى زګيـــروى راتـــه کـــولاى
زه دي ســـل ځلـــه تـــر ســـر قربانيـــدلاى
پيغمبـــر د شـــپانه فکـــر تـــه حيـــران ســـو
سمدستي لـه لاري ستون سو ور روان سو
يـــوه کلکـــه يـــې څپيـــړه ور ســـره کـــړه
د شپانه پـه خولـه کي بنده يې خوالـه کړه
ويـــل چـــوپ کـــښېنه کـــافره بـــې مذهبـــه
لـــــه خالقـــــه بـــــې خبـــــره بـــــې ادبـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خبر يې چې خالق د جهان څوک دی؟
دا بې عيبه دا قادر لا مکان څوک دی؟
نه په سترګو هغه ذات ته سې ليدلای
نه دي غوږد ده آواز سي اورېدلای
هغه ذات نه د خوراک نه د پوښاک دی
له زخمونو له عيبونو څخه پاک دی
نه آرام لري نه خوب نه ستړی کېږي
نه له کاره د خلقته کراريږي
هغه ذات نه ستا په سترګو معلوميږي
نه په مځکه آسمانونو کي ځاييږي
شپون يې چوپ کړ موسی ولاړی کوه طور ته
د دنيا او مافيها د خدای حضور ته
د خلقت او مينی رب ته پر سجدو سو
له هيبته د تعظيم په ژړېدو سو
سر يې پورته کری ورځ نه کړ له ځايه
نه له عرشه آواز راغی نه له خدايه
پوره شپږ ورځي يې وکړل فريادونه
له آسمانه يې رانه غلل جوابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژړا کې به یې چیغې کړي په زوره
لکه شمع ننېدی له خپله اوره
ویل خدایه څه ګناه څه تعدا ده
رانه سوې په دنیا کې څه خطا ده
ولې برغ له عرشه نه راځي زما لور ته
د رب نور مي نه رسېږي د زړه کور ته
په او مه ورځ خالق ویل موسی ته
نازولي د لار ورکو رهنما ته
چې ما ته د بندګانو پیغمبر کړې
ما کتاب درکړ د خلګو مې رهبر کړې
چې روښانه کې د خلګو تیاره لاري
ورته وښیې د خدای او شیطان چاری
کړې یې پاکه د شیطان له مکره وینه
ورته وښیې له خدایه سره مینه
چې پر ما باندي مین و تا آزار کړ
زما له لاري زما له عشقه دي بېزار کړ
هغه خوله چې زما په ذکر په ثنا وه
هغه خوله چې زما په مینه به ګویا وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــا د قهـــر پـــه ځپیـــړه کـــړه خاموشـــه
ترانـــه یـــې کـــړه د مینـــی فراموشـــه
اوس به څوک زما د ښکلا سندري وایي؟
اوس به څوک زما د قدرت پلوشه ستایي؟
اوس به څوک د مینی مست وي په شپلو کي؟
ترانـې بـه مـي څـوک وایـی پـه درو کـي؟
څوک به زما مینه خپره کړي په دښتو کي؟
څوک به اوري زما نغمې په جګو غرو کي؟
ورســه بیرتــه هغــه زمــا مــین پخــلا کــه
زمــا پــه مینــه د شــپانه ژبــه ګویــا کــه
چــي مــي ســتایي ننــداري د قــدرتونو
چـــي مـــي وایـــي ترانـــې د عظمتونـــو
چي یې مسته وي شپیلۍ زما له یادونو
چي مـي پورتـه کـړي نغمـې د کمـالونو
زه پـــه رنـــګ رنـــګ بنـــدګانو یـــم منلـــی
زه پـــه هـــر مـــذهب جـــلا یـــم پیژنـــدلی
کرشـــمې مـــی د قـــدرت خلګـــو لیـــدلي
بـــې حـــسابه لاري ماتـــه دي راغلـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هــــري ســـــمي لارى مــــد دګار يــــم
زه خـــالق، د هـــر بنـــده ســـره پـــر لار يـــم
چـا تـــه ګـل چاتـه اغـزي چاتــه بيــديا يــم
چـا تــه شــمع د فــانوس چاتـــه بــورا يــم
د هــر چـا پــه زړه کــي خپلــي نغمــې وايــم
زه د هـــر ســـور او مقـــام لـــره پيـــدا يـــم
څـوک مـي وينـى پـه خلـوت کـي د شـيخانو
څـوک مـي ستايي پـه محفـل کـي د رندانو
زه پـه هر ځـاى کـي حاضـر د ټولـو خداى يم
زه مالـــک يمـــه د زړونـــو رهنمـــاى يـــم

ويرجينيا – ۲۰۰۴/۳/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملانصرالدین غوا

ډیـر پخـوا پـه یـوه کلـي کـی مـلا و
هـر عمـل یـې لـه عـالم څخـه جـلا و
نه هیڅ وخت و په جومات کي هستېدلی
نـه پـه ژونـد یـې امامـت و چـا لیـدلی
خـو پـه علـم کـي تـر هـر مـلا بهتـر و
پـه خبـرو کـي تـر ټولـو زورور و
نـصرالدین پـه کلـي کـور کـي پېژنـدلی
پـر کمبلـه د ښـادۍ او غـم ښـاغلی
دی په زړه کي ډېر ساده په خوله هوښیار و
هـره ورځ بـه غولېـدلی پـر بـازار و
نارینـه ښـځو بـه پـټ بانـدي خندلـه
د مـلا یـوه کیـسه یـې کړلـه
چـي مـلا اومـې هګـۍ وې رانیـولي
پـه خپـل کـور کـي ایـشولي رنګـولي
تـر اومـو یـې پـه ارزانـه وې پلـورلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مېرمنـــي پـــرې ښـــراوي اورولـــې
د مــلا وې پــه مالــت كــي كيــسې ډيــرې
هــم خــوږې هــم د خنــدا لــه حــده تېــرې
چــا ويــل د مــلا ورک د ژونــد درک وي
همېشه به پر خره سپور وي خرېې ورک وي
يــوه ورځ يــې را نيــولې يــوه غــوا وه
پـــه رنـــګ تـــوره وه اوږده لكـــه بـــلا وه
پـــه بـــازار كـــي يـــو دلال و غولـــولی
د دې غــوا يــې هــر كمــال ورتــه ستايلی
مـــلا هـــم پـــه جګـــه بيـــه پېرودلـــې
پـه خوښـي يـې وه تـر كـوره راوسـتلې
ويــل ښــځي د شــيدو بــه مــو ويــالې وي
هــر ســهار او هــم ماښــام بــه مــو مېلــې وي
هــره ورځ بــه مــو مېلــه وي پــر كوچيــو
حاجــت نــه لــرو بــازار تــه د غوړيــو
خــو نــه غــوا ورتــه يــوه لپــه شــيدې كــړې
نــه مــلا تــه يــې نــصيب كلكــي مــستې كــړې
كــه هــر څــو بــه يــې ســلاوي مــشورې كــړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ په رنګ يې ورته جوړي اراداوې کړې
ملا هري خواته وا چولې منډي
د وښو به يې راوړلې ورته پلنډي
غوا بلا وه په هيڅ رنګ نه مړېدله
کرۍ ورځ يې وې رمباړي غړومبېدله
نه شيدې وې نه مستې وې نه کوچي وه
کور چټل و بوی نيولی و خواري وه
د ملا مېرمن به تل ورځ لګيا وه
هر څه پاته په خدمت کي به د غوا وه
غوا په کور کي د ملا د پاره غم سو
د مېرمني له نارو يې زړه قلم سو
څو د غوا له رانيولو سو پښېمانه
په سهار وختي يې ګنج ته کړه روانه
غوا خوړلي هم وا ښه هم اراداوې وې
چاغه شلنډه وه په ګنج کی يې ناري وې
سمدستي دلال ملا ته سو ورورانـدي
په ځير ځير يې غوا کتله لاندي باندي
چي له ليري خريدار پر را ښکاره سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې چاغي ښايستې غوا په ننداره سو
ويل وايه څومره غواړې درهمونه
چې په مخ کې نن لرمه ډېر کارونه
دلال سترې سو د غوا په صفتونو
ورته لاندې سو تر سلو سوګندونو
چې د غوا پلار او نيکه د ترکستان دي
که يې مور که يې انا د هندوستان دي
در ښکارېږي يې نسلي سترګې له ورايه
په خوارۍ مو را وستلې تر دې ځايه
ګوزاره يې په هوا او په اوبو ده
د خوراک نه د وښو نه ارداوو ده
سروکال به درکوي شيدې پريماني
بې خواريو بې مصرفه او ارزاني
په سهار او ماښام دوه منه شېدې کړي
درته ډکې له کوچيو به کاسې کړي
ملا واورېدې خبري په خندا سو
و دلال ته په پسته ژبه ګويا سو
که زما غوا لري دا دومره صفتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ساده یم چې پر اخلم غیرانونه
خپله غوا مې ولې وباسم بېبانته
شیدې ولې ورم د بل سړي دېګدان ته
غوا ایې بیرته را رهي کړه له بازاره
تر خپله کوره یې دوه ګامه کړله لاره
چې په کور کې بیا ملا سو بیا یې غوا سوه
له کهاله په هغه ورځ پورته غوغا سوه

ویرجینیا – ۲۰۰۴/۱۰/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښکاري پاچا

پخوانیو زمانو کې یو پاچا و
د لښکر په زور غښتلی پر هر چا و
چلېدله یې حکمونه پر ملکونو
ورته پاته پاچهي وه له نیکونو
هم په زور هم یې په زړو کې لاس بر و
خدای ورکړي اقلیمونه بختور و
ډېر شوقي و د مېلو او د ښکارونو
د شرابو د مستیو د سازونو
همېشه به و په ښکار پسي وتلی
تش لاسونه یوه ورځ نه و راغلی
له لیندۍ چې به یې خوشي کړله غشي
سوري کول یې د هوسیو زړونه تشي
تري خطا نه سو یو غشی په کلونو
پر ملکونو یې کیسې وې د ښکارونو
یوه ورځ ورنه خطا یوه هوسۍ سوه
په ځغستا رهي پر لوري د غونډۍ سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا پونده کړ نیلی هوسۍ د وړاندي
پی کوله یې مزلونه لاندي باندي
له لښکره څخه لیري شهریار سو
په هوسۍ پسی روان پر ورکه لار سو
هوسۍ واوښته تر غرونو تر دښتونو
پاچا ستړی سو بېحده له مزلونو
د آسمان تر نیمایي و لمر راغلی
له ګرمۍ د مځکي مخ و سوځېدلی
ستړی سوی و چابک نیلی ښاغلی
تږی سوی شهریار و نازولی
هري خواته یې څرګند سول سرابونه
د مرګي یې پکښي واورېدل دړغونه
له ګرمۍ څخه یې ټول بدن بې واک سو
د مرګ غېږي ته تنها پاته ټولواک سو
خوله یې وچه سوله ستوني یې وچ کلک سو
بې اسري پاچا تنها پاته هک پک سو
چي ناڅاپه یې تر سترګو یو ځنګل سو
د پاچا په زړه کي اور د میني بل سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځنګه کې ورښکاره يوه بيزو سوه
د پاچا خوا ته د لاس په اشارو سوه
بيزو وړاندي پاچا وروسته ورپسې سو
په قدم قدم اوبو ته ورنږدې سو
ورپه ګوته په ځنګله کې يې چينه کړه
په سرو اوبو وريخه يې سينه کړه
هم پاچا هم يې ښايسته نيلی اوبه سو
سمدستي خدای ته د شکر پر سجده سو
له سجدې وروسته ليندۍ يې کړه راپورته
د مرګ غشي يې کړ وار د بيزو لورته
پوري وورې يې لړمون د بيزو سوری کړ
ورخبر يې په يوه غشي زړګی کړ
ښاخ پر ښاخ باندي تر مځکی را لوېدله
يو په يو يې اندامونه ماتېدله
په رګو کې يې لا ويني خوځېدلې
د پاچا پر لوري يې سترګی واړولې
ويل روح مې دا دی الوزي له تنه
جواب راکه دا يوه لرم پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربدلی مي له پلاره يو وصيت دی
نه پوهېږم چې دروا غ که حقيقت دی
پر ښايسته نيلي چي سپور زغره په تن يې
راته ښکاري چی پاچا د دې وطن يې
ښکاري وويل پاچا د دې جهان يم
مګر ته څرنګه را پوه سوې زه حيران يم
بيزو خلاصه کړله خوله ويل سلطانه
زر کلني تجربې نه دي ارزانه
تجربه ده موږ ته پاته له پلرونو
له کلونو له پېړيو له قرنونو
نامردي ده همېش کار د پاچاهانو
پاچهان وهي سرونه د دوستانو
لار چي هر څوک ورته وښيې په دار دی
چي هر څوک ورسره ښه وکي سنګسار دی
چي څوک لاس د دوستۍ ورکي غوڅوي يې
چي ژوندی پر لاري وينې ښکاروي يې
په دنيا کي چې يې نوم د شهريار دی
يا قاتل د خپلو ورونو يا د پلار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نصيب چې يې درکړې پاچهي ده
ستا په ختمه کې اخښلې نامردي ده
که دي زما احسان پر سترګو وای منلی
د پاچا له نسله نه وې زيږېدلی

کابل انټرکانټيننټال

۲۰۰۲/٦/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بشپړه نشه

يو سړی د ښار د منځ په ناحيه کې
اوسېدی د غريبانو په کوڅه کې
شا وخوا ورته پراته چې ګاونډيان وه
کسبګر وه يا مسګر يا نجاران وه
کړی ورځ وه په خوارۍ پسي وتلي
د تن وينې يې کارونو وې زبېښلي
د سړي که څه خپلوان وه که دوستان وه
په خواريو وه لګيا په غم د ځان وه
دی له هر څه و بېغمه زړه يې ښاد و
نه په غم کې و د کار نه د اولاد و
تر هغو به و په ځای کې غځېدلی
چې به لمر د آسمان منځ ته و راغلی
د خپلوانو په خيرات يې ګوزاره وه
ورځ په خوب کې شپه يې ورکه په نشه وه
يوه ورځ يې څه شراب وه رانيولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر پر سر یې څو ترخې پیالې چښلې
په نشه کې یې خیرنو پښو ته پام سو
نابیره یې په زړه کې تېر حمام سو
په عمر کې یوه ورځ په غم د ځان سو
ژر یې کوښې ځانته سمې کړې روان سو
په حمام کې چې جامې یې کړلې لیرې
پاکولې یې د پښو او لاسو خیرې
ور په یاد یې د شرابو دوکاندار سو
سره لمبه سو له غضبه سور انګار سو
چې اخیستې یې له ده څخه پیسې وې
خرڅې کړې یې پر ده یو څو پیالې وې
چې پخوا به ده څو مستې پیالې نوش کړې
ترخې ورځې به یې ټولې فراموش کړې
دا نن څرنګه شراب څنګه نشه ده
چې هم ورځ ورته معلومه ده هم شپه ده
وار په وار وربانديقهر غضب زور سو
په حمام کې یې هر شی تر سترګو تور سو
لاس یې ونیوی د ځان له پرې مینځلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور روان سو دوکاندار ته په ښکنځلو
نه یې پام سو و مخلوق ته نه خپل ځان ته
کله مځکې ته په قار کله آسمان ته
لوڅ لغړ سیده روان سو وبازار ته
په بازار کې د شرابو دوکاندار ته
ویل ولې غولوې خلک مکاره
په شرابو کې اوبه پلورې غداره
شپږ اوه پیالې مې سر پر سر چښلې
لا یې زما رګونه نه دي ښورولې
حبطه له لاسه تللې مې پیسې سوې
نه په ښه مې د مستۍ نه د نشې سوې
دوکاندار یې له لیدلو وار خطا سو
شرابي ته یې کتله په خندا سو
ویل څنګه را روان یې په ښکنځلو
بې پروا له خپلې خولې له بد ویلو
اعتراض دي څه دی زما پر شرابونو
چې یې مست یې له چښلو د جامونو
لڅ لپړ یې یې بازار ته را ایستلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوکـان مـخ تـه مـی لـځ یـې درېـدلی
غرغـرې دي جـوړي کـړي دي بـازار کـي
لـوی او کـم دي خنـدولي دي پـه ښـار کـي
څه در وکړي چي دي زړه په نشه سوړ سي؟
د شـرابو پـه چـښلو دي نـس مـوړ سـي؟

ویرجینیا

۲۰۰۴/٦/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیریانانو حمام

یو سرې له لیري ځایه وراغلی
درې څلور ورځې مزل یې و وهلی
خوږېدی یې هر اندام سترې په ځانو
هر هډوکی یې جلا جلا ستومانو
له چرتونو باندي خوب د شپې حرام سو
نیمه شپه روان پر لوري د حمام سو
په حمام کې د تودو اوبو مېلمه سو
هغه دم یې سترې ځان خوله خوله سو
پر بدن تودې اوبه یې تویولې
له وجوده یې زړې خیري پرېوللې
ورو په ورو یې ستړیا کوچ وکړ هوسا سو
په چرتونو د کارونو د سبا سو
چې ناڅاپه څوک حمام ته سو دننه
داسې څوک لیدلی نه و ده تر ننه
پښې د اوښ وې نور وجود یې د انسانو
دی له وهمه لړزېدی ورته حیرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه درې نور سول ورد ننه لنګ وهلي
ښې د تولو په یوه شان وې ناولي
د یوه د آدم زاد نه وې خپري
ښې د تولو وې ګردې د اوبښ څپري
چې تر سترګو یې شپږم اوم سري سو
هر وېښته یې داسي زیږ لکه اغزی سو
په رګونو یې ورګډه زلزله سوه
له هیبته یې پر دوو سترګو تیاره سوه
آزانګې یې په غوږو کې ګرځېدلې
دواړې ښې یې تر نوکانو لړزیدلې
را ولاړ سو چې نور ووزي له حمامه
چې یې ښه له وهمه وښویده ناپامه
په خندا سول چې حمام ته وه راغلي
خندا نه وه ځناور وه غړومبېدلي
دې خندا یې لا هنوز کړه وېره زیاته
دی روان سو نور یې ونه کتل شاته
سړي سمدستي په ځان خپلي جامې کړې
حمامي ته یې ورور ړاندي څو پیسې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرپېدلـــه يـــې پـــه زامـــه كـــي غابښـــونه
رېږدېـدل يـــې پـــښې لاســـو نه اندامونـــه
دواړي ســترګي يــې وې هېـښې را ختلـي
حمـامي تـه يـې پيـسې لاس كـي نيـولي
وې راغلـــي دې حمـــام تـــه انـــسانان دي
نـيم وجـود يــې د ســړيو نـيم اوښـان دي
د ځېــړو پــه رقــم يــې ګـردې پــښې دي
تـر ورنـو پـوري وړې وربانـدي شـنې دي
حمـامي لـه جـامو خپلـه پـښه ښـكاره كـړه
د ســـړي پـــر زړه يــې لا تبــه ســپره كــړه
د ده هــم خپـړي اوښ غونـدي ګـردې وې
د ســـړيو لـــه تـولې ځخـــه پـــردې وې
ويــل داســي پــښې خــو نــه وې د وګــړو
داسـي پـښې راځـي پـه جـم كـي د ځېـړو
سـړي سمدسـتي كـو ځې تـه كړلـه منـډه
لــه هيبتــه يــې نيــژدې وه مېــرمن كونــډه
پـه كوځـه كـي يې پـه سترګه يـو سـړى سـو
لـږ كـرار يـې د سـينې د كـور دربـى سـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل مه ځه په حمام کې پيريانان دي
نيم سري نيمې اوښان دي شيطانان دي
دوې ګردې ګردې، وربنې يې ځپړي
له هيبته زهره چوي د وګړي
هغه خپله پښه له مځکې کړله پورته
په هوا يې کړه نيژدې د سري لورته
ويل دا سې ګردې پښې خو به يې نه وي
دا کسان د پيريانو د کاله وي
که يې دا سې پښې حمام ته وې راوړي
ګوره څوک دي آدم زاد نه دي زوي مړي
سړی پوه سو چې نوبت و د پيريانو
هغه شپه وه پر حمام د شيطانانو
نيمه شپه چې وه حمام ته رسيدلي
له وطن د پيريانو وه راغلي
پښې د ټولو وې وربنې د اوښانو
بېګانه وه پر هيواد د انسانانو
د پيري د لاسه څوک ولاړ سي پيري ته؟
د لېوه شکايت څوک وکړي زمري ته ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغــــه ورځ د خلکـــو مېنـــه خرابېـــږي
چې يې عـرض د چا تـر غـوږه نـه رسيږي
يـا د ټولـو پـښې پـه رنـګ وي د اوښـانو
يـا يـې زامـې يـا منګـول وي د لېوانــو
لــه نــوکره تــر بــاداره پــه يــو رنــګ وي
پـه يـوه خولـه لـه اولـس سره پـه جنـګ وي
کـور پـه کـور يـې هـم جنګونـه هـم دعـوه وي
خــو فقيــر تــه يــې همــېش سـلا يــوه وي

ويرجينيا – ۲۰۰۴/۴/۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بېګار مالونه

پخوانیو زمانو کې یو پاچا و
پر رعیت باندې ظالم لکه بلا و
حکایت یې په بوستان کې دی راغلی
د سعدي له خولې تر موږه دی رسېدلی
وایي ټول وطن وګړو ته سور اور و
چې جاري یې پر هره لوېشت قانون د زور و
له حاکم سره وې ډلې د لوټمارو
په ګزمه تللې پلټنې د خونکارو
نر او ښځې لوی او کم وه په بغارو
آسمانونه کاږه کړي وه چغارو
ټول اولس یې ګومارلی په بېګارو
که یابو، که آس، که خر و د سرکارو
که له لوږې به چا کړله فریادونه
لا هنوز به کړل پاچا شکایتونه
زه به څه رنګه پر لار کړم دا وګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي کيک او کولچې نه خوري دا زوي
مـــــــــــــــــــــــــــــــــړي
يــوه ورځ پاچــا لــه پوځــه را جــلا ســو
برابــر پــر يــوه کلــي يــک تنهــا ســو
چي له ليري يې په سترګه يو دهقان سو
پــه کــرار کــرا ريــې خوا تــه ور روان ســو
کرونـده کـي لـه دهقـان سـره يـو خـرو
پــه ځــان غــټو ښــو بــارو تــه برابــرو
خـو دهقـان يـې و لرګـی پـښې تـه نيـولی
پـه واهـه يـې لکـه مـړوي سـا ختلـی
د پاچـا هـم زړه پـر وسـو هـم حيـران سـو
ور نيـژدې سـو لـه دهقـان سـره ګويـان سـو
دومـره ظلـم پـر حيـوان بانـدي چـا کـړی
دا خـو ځـان لـري خوږيږي نـه دی مـړی
دهقــــان وويلـــــه لار دي وهـــــه وروره
تــه خبــر يــې د کوتــوال لــه ظلــم و زوره
چـي پـه کلـي کـي بـوده وينـي د ده دی
بيګارونـــه پـــه کـــوي د ده پـــه ښـــه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه په کور کې را سره وي مړوو يې
سهار امر د سرکار وي ورکوو يې
په لرګي يې ځکه پښه باندې وهمه
چې په لوی لاس مې دا خپل خر ګوډومه
خر چې ګوډ سي د پاچا نه په کار يږي
تر بېګاره تر کوټوالــه نه رسيږي
ګوډ وم يې چې هوسا سي له کارونو
او فارغ سو د سرکار د بېګارونو
تا د خضر نکل نه دی اورېدلی
چې د خدای په خپل کتاب کې دی ليکلی
خضر ناست و د موسی سره کښتۍ کې
د څو نورو مسافرو په ټولۍ کې
چې د سيند غاړې ته ورسېدل دواړه
خضر سورۍ کړله کښتۍ چې سوه ويجاړه
چې موسی ورڅخه وکړله پوښتنه
څه بدي دي وه ليدلې له څښتنه
په ناحقه چې دي روغه کښتۍ سورۍ کړه
لار دي بنده د څښتن د غريبۍ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خضر وویل په دې کې مې حکمت و
هسې نه چې دا مې تل د ژوند عادت و
د دې سیند په جزیرو کې داړه مار دی
پر کښتیو باندې تل د ده ناتار دی
کښتۍ روغه تر ده نه سي تېرېدلای
سر او مال ورڅخه څوک نه سي ژغورلای
په لوی لاس مې ځکه ماته دا کښتۍ کړه
بېکاره مې د سفر او له خوارۍ کړه
چې موجونو ته د سیند نه وي وتلې
د ظالم په لاس چې نه وي ورغلې
مال بهتر دی چې دې مخ کې تباه کېږي
تر هغه چې د دښمن لاس ته ورلوېږي
بېخبره دهقان و خندل سلطان ته
چې یې دوې سترګې نیولې وې دهقان ته
چې د خره پښه ماتوم بې خبر نه یم
څه بې عقل او جاهل بې هنر نه یم
پرېږده خر دې په پښه ګوډ وي خو به زما
وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امان به له ظلمونو د پاچا وي
پاچا ولاړی په لښکر پسي روان سو
تر ماښامه دلته هلته سرګردان سو
لاس او پښې يې د ستړيا تبې نيولي
کنډوالـه کې يې شپه راغله د ښاغلي
په سبا سهار پيدا کړ لښکريانو
وفادارو افسرانو اردليانو
هر يوه د خدای ادا کړله شکرونه
پر ميدان باندي هوار سول نعمتونه
رنګ په رنګ د ښکار له غوښو سالنونه
کبابونه له شرابو ډک خمونه
چي پاچا يو څه په خود کي د نشې سو
او په ياد د تيري ورځي تېري شپې سو
ورپه زړه يې سو دهقان ترخې خبري
پر سينه يې لګېدې لکه نشتري
هغه دم يې حکم وکړ د نيولو
لاس تړلي د دهقان د راوستلو
چی دهقان حاضر په مخ کی د سلطان سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکــه پــاڼې د خــزان داســې لــړزان ســو
لـــه ژوندونـــه يـــې لاســـونه وه پرېـــولي
وچـې سـترګي يـې جـلاد تـه وې نيـولي
پـه دې پـوه سـو چي لـه مرګـه نـه خلاصيږي
چي د ګـور وي هغـه شـپه نـه پـر کـور کيـږي
لـه ناکامـه يـې خولـه پرانـسته ګويـا ن سـو
د مرګـي لـور تـه رسـتم غونـدي روان سـو
ويـل سـتا پـر شـاوخوا چـي جنـرالان دي
پـــه دربـــار کـــي نـــازولي اميـــران دي
لـه سـتمه يـې د مځکـي مـخ سـور اور دی
هــر وګــړي تــه دوږخ کلــی او کــور دی
يـو زه نـه يـم چي فريـاد مـي ځـي آسـمان تـه
د وطـن لاس بـه رسـېږي سـتا ګرېـوان تـه
کـه دي زړه دی چي مي واسـتوې زنـدان تـه
د جـلاد پـه لاس کـه ځمـه ګورسـتان تـه
بند پـر بند مـی پـرې کـوې هـم مـي رضـا ده
تـر وېـښته مـي نـرۍ غـاړه تـوره سـتا ده
زمـــا خبـــري کـــه دي بـــدي وي راغلـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه دي ســختي پــر زړګــي وي لګيــدلي
ســتا چــاره لــه اســتبداده ګرځېــدل دي
ستا چاره د خپـل ګرېوان قاضـی کـول دي
نـه چـي مـا بېچـاره پـرې باسـې چـړې تـه
يـا مــي پورتــه کــي د دار وغرغــړې تــه
چــي دي ظلــم پــر مخلــوق دی چلــولی
نــو بــه ولــي يــې پــه خلګــو کــي منلــی
نـه پـوهېږم سـتا آرام څنګـه پـه ځـان وي
چــي لــه لاســه نــا آرام دي مظلومــان وي
پــه دې کلــه ســي پاچــا زړو تــه منلــی
درباريــانو چــي دربــار کــی وي ســتايلی
څه فايده چي دي پـه مخ کي کړي دعـاوي
د مظلــوم وي درپــسې تــر شــا ښــراوي
پـــر ظـــالم پاچـــا اثـــر د وينـــا وســـو
عقـل فكـر سـر تـه ولاړی زړه يـې ښـه سـو
هغـه کلي کـي چی سـر يـې سـو ګرېوان تـه
هغــه کلــي يــې ورو باخــښه دهقــان تــه
نــه زده کېــږی دومــره څــه لــه عالمــانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه واوري چې څوک عیب د ناپوهانو
له دوستانو دي عیبونه ټول پټیږي
که ته بد کوې پر دوي به ښه لګیږي
ټول عیبونه دي دښمن ته څرګندیږي
چې هغه ته آیینه غوندي ښکاریږي
دوستان نه دي چې دي تل کړي صفتونه
دوستان هغه دي چې وایي دي عیبونه

ویرجینیا

۲۰۰۴/۱۰/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استاد رمزونه

لوی سکندر هغه پاچا د پاچهانو
چې نسکوریې کړل جامونه د شاهانو
چې یې ړنګې کړې ماڼۍ د زورورو
ککرۍ یې رغړولې د لښکرو
لاندې کړې یې کوچنې لوی هیوادونه
په سجدو ورته راغلې وه تاجونه
خروارونه یې په لاس کې وه د زرو
بې حسابه خزانې د جواهرو
له خپل ملکه څخه لیرې په مزلونو
را تېر سوی و تر غرونو دریابونو
چې هر څو یې وه اېل کړی وطنونه
چې هر څو یې تر لاس لاندې وه ملکونه
په هغه پیمانه زیات وه فریادونه
زیاتیدل به هره ورځ پکښې عرضونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په خاوره کي يې نوم د عدالت و
نه خوشاله په يوه ښار کي رعيت و
غلبلي وې په هر ښار کي د خوارانو
فرياد ونه وه ناري د مظلومانو
په هر ځای کي شکايت له حاکمانو
هر حاکم و له ټولی د قاتلانو
صوبه داري تر قاضی په زړه ظالم و
له قاضی سره يې پټ راز د حاکم و
له عسکره تر سالاره ټوله غله وه
په بدي په ناروا کي سره مله وه
مقرر چي به يې څوک علاقه دار کړ
په سبا به يې د کلي ژوند په دار کړ
کوچيدل خلک له ښار څخه تر ښاره
په هر ځای کي فرياد پورته له سرکاره
چي به سوال کاوه سکندر له وزيرانو
له قاضيانو او له سترو جنرالانو
پر سجده به سول چي سيوري د يزدانه
زموږ د سر امان دي وي لويه سلطانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وطــن هــره ګوښــه کــي خیریــت دی
پــه دعــا دي هــر وګــړی هــر مالــت دی
یــو نعمــت یــې نــازل ســوی یــې لــه خدایــه
ستا د سر سیوری دي خدای نه کي بېځایه
ســـتا د تـــوري او د عقـــل برکـــت دی
چي غریب دی که بډای دی په راحت دی
هــر وګــړي تــه ثرګنــد دا حقیقــت دی
چــي پــه ټولــه قلمــرو کــي عــدالت دی
د زمري ثنګ ته ښایستې هوسۍ او سېږي
نــه لــه داړو نــه منګلــو یــې بېریــږي
پــر یــوه ګــودر او بــه چــښي قومونــه
کــه لېــوان دي کــه اوزګــړي کــه پــسونه
اوریــدلی کــه لــه چــا مــو شــکایت دی
یا شکمن چیرته ثوک زمونږ پر حکومت دی
نــو غلــیم د تخــت او تــاج او د وطــن دی
دروغجن دی، دروغجن د خدای دښمن دی
پــه وطــن کــي ډلــي ګرځــي د ناکــارو
د بـــــدذاتو، د لوټمـــــارو، د اشـــــرارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی نه غواړي چې سوله کراري وي
د سلطان د عدالت حکم جاري وي
سکندر پټ استازی و استاوه هېواد ته
ارسطو، هغه د هر علم استاد ته
خپل استازي ته يې خپل مشکل عيان کړ
ارسطو ته يې د ده په خوله بيان کړ
چې مشکل دی راته پېښ په زړه نوليږم
راته هيڅوک ريشتيا نه وايي پوهېږم
هره ورځ راته راځي نوي عرضونه
په هر کلي کې د خلکو فريادونه
که قاضيان که جنرالان که حاکمان دي
داړه مار دي، دروغجن دي، ظالمان دي
نن سبا د بد مرغيو راته لار ده
يوه ټينګه او پخه چاره په کار ده
ارسطو هغه سرتاج د هوښيارانو
ها سلطان په قلمرو کې د پوهانو
پټه خوله په انديښنو کي سو پرېګشان سو
له استازي سره خپل باغ ته روان سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړې درختـې يـې لـه بېخـه بېخـه کښلې
او پـر ځـای يـې تنکـۍ ونـې کښينولې
ويـل يوسـه زمـا سـلام سلطان سـکندر تـه
د جهـــان د پاچهـــانو زورور تـــه
چـې لـه مـا څخـه يـې ليـرې پـه مزلونـو
تـر دښـتونو، هـسکو څوکـو دريـابونو
اوس مـې تاتـه پيغـام نـه سـې رسـېدلای
زمـا سـلا دې پـه هيڅ درد نـه سې خوړلای
هـم بـوډا يـم تـا تـه نـه سـم څـه ښـودلای
سـکندر ولاړی پـه خلـوت کـې سـو دننـه
لـه اسـتازي يـې هـورې وکـړه پوښـتنه
ورتـه تېـره يـې کيـسه کـړه د نيـالګيو
د زړو ونـــو د کـــښلو لـــه پټيـــو
سـکندر پـوه سـو د اسـتاد لـه مـصلحته
پـه سـبا سـهار بهـر سـو لـه خلوتـه
برطـرف يـې جنـرالان او حاکمـان کـړل
هـم ګوښـه يـې لـه کـارو زاړه قاضيـان کړل
ډلـې ډلـې يـې کورونـو تـه روان کـړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس تړلي يې څوک شومه د زندان کړل
مقرر پر مقامونو يې ځوانان کړل
د لښکر يې نوي نوي افسران کړل
ارسطو ورته لېږلي وه رمزونه
ده له رمزه وه اخستي دا پندونه

زوړ ګمراه لاري ته نه سي سمېدلای
لو مينا خبری نه سي زده کولای
کوږ لرګی په بار کی نه سي ځاييدلای
نه کوږ بار سي تر منزله رسېدلای
په وطن کي کراري سوه عدالت سو
له زړو داړه مارانو په راحت سو
د خاين قاضي يې ورانه کړله خونه
اهل کار ته چي يې وسپارل کارونه

ويرجينيا

۲۰۰۴/۱۰/۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نمرود لښکري

کتابونو کې راغلی دا بيان دی
د نمرود د پاچهۍ پکښې داستان دی

په ميراث ور پاته سوي وه ملکونه
له مشرقه تر مغربه هيوادونه
په اوږو کې به تل سپور وو د ديوانو
پر ولاړي وې پيرې د پېريانو
که په سمه که په غرو کې پاچهان وه
په دربار کې د نمرود به غلامان وه
جواهر د سمندر وه که د غرونو
خزانو ته يې ورتلل په خرمنونو

په حرم کې يې زرګوني ښايستې حوري
ځليدې لکه رنګينې مرغلري
په باغونو کې هر وخت مېوې پرېماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شـــرابو وې ويـــالي پکـــښي روانـــي

کــه هــر څــه خــالق ورکــړی دا قــدرت و
دی منکــر د لــوی څــښتن پــر حقيقــت و
ده خپـــل ځـــان بالـــه خـــالق د کاينـــاتو
ځـان يـې خـدای بالـه د ټولـو مخلوقـاتو
ده ســـوځلي وه پـــه اور کـــي هيوادونـــه
قتـل کـړي يـې لـه څېلمـي وه ښـارونه
روا کــړي يــې خپــل ځــان تــه وه مرګونــه
ورتـــه خلـــګ ښـــکاريدل لکـــه پـــسونه
چـي هـر څـومره پـه دنيـا کـي انـسانان وه
د نمـــرود پـــه نظـــر ټولـــه غلامـــان وه
ده سـجدې غوښـتې لـه خپلـو بنـدګانو
چـــي ســـرونه وي کـــاږه د انـــسانانو

د طـالع جـام يـې پـه هغـه ورځ نـسکور سـو
چـي د کبـر او غـرور پـر نيلـي سـپور سـو
ويـــل وزمـــه پـــه جنـــګ د آســـمانونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مځکه ځای دی د کمزورو قدرتونو

د نمرود نوم به منلی ټول جهان وي
چي په جنګ می راوتلی شین آسمان وي
چي په غشو د آسمان سینه غلبیل کړم
زورور به له کمزورو څخه بیل کړم
بندګان به مي له زور څخه خبر سي
پر سجده به راته مځکه، سمه، غر سي
نمرود پورته خپل پوځیان کړل له پر غرونو
شیشنېدله مست آسونه پر دښتونو
ږغ سو پورته د سورنا او د ډولونو
یو نمرود و یادېدی چی په نظمونو
د آسمان پر لوري پي غشي اوروله
د نمرود په نوم ناره پورته کېدله

نه دښمن چا ته معلوم نه مورچلونه
ځغلېدله په دښتونو کي آسونه
د آسمان له لوري والوتل بادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورســـره وه د غوماشـــو لـــوی پوځونـــه

زهـــر مـــاریـــې وه ملګـــري د نېـــښونو
نمرودیـــان یـــې قتلولـــه پـــه زرګونـــو
پـه ساعت کـي یـې ور قتـل افسران کـړل
د مرګـي یـې مېلمانـه لـوی جنـرالان کـړل
نـه پـه تاختـه خلاصېدل نـه څـوک پـه زغـرو
عزراییـــل تـــه حـــساب نـــه و د ککـــرو
لـــه قـــضا یـــوه غوماشـــه بـــې وزره
چـي پـه پـوځ کـي د سـیالانو وه ډنګـره
لـــه آســـمانه را اخیـــستې وه بـــادونو
برابـــره د نمـــرود ســـوه پـــر بریتونـــو
لـه بریتونـو د سـږمې خواتـه سـوه پورتـه
لاریـې وکـړه د نمـرود د مـاغزو لـورتـه

د مـاغزو پـه منځ کي جـوړه یـې دېره کـړه
د نمـرود یـې د دوږخ پـه منځ کي شپه کـړه
پـــه مـــاغزو یـــې لګـــول تېـــره نېـــښونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـريـو نـېښ يـې د مرګـی تېـره تيغونـه

لـه عذابـه يـې سـوه ډکـه د ژونـد خونـه
ورنـه هېـر يـې کـړل عيـشونه قدرتونـه
چـي هـر ځـل بـه يـې نـېښ ورغـی وځاتتـه
د نمـرود بـه چيغـي پورتـه سوې آسمان تـه
چيغـی نـه وې انګـولاوي غرغـړې وې
نـه انـسان تـه ورپـه يـاد داسـي نـارې وې
انګـولاوي د نمـرود چـی بـه سـوې پورتـه
حيوانـاتو بـه ځغـستل د ځنګلـه لورتـه
لېـونی غونـدي بـه ګرځېـدی پـه خونـو
خپلـي غوښـی يـې څيرلـې پـه غاښـونو
پـه عـلاج پـوري يـې ټول خلـګ حيـران وه
هوښـياران وه، حکيمـان کـه طبيبـان وه

نمـرود ږغ وکـړ پـر خپلـو نوکرانـو
د دربـار پـر نـازولو غلامـانو
چـي وهـئ پـر ککـرئ مـي پـه لرګيـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې فارغ سم د دردونو له خواریو

چې پر سر یې اورېدل کاري وارونه
په نارو به یې کاڼه کړل له غوږونه
له درباره به په تېښته وزیران سول
په غارونو کې دننه به خپلوان سول
چې بېسده به نمرود سو له وارونو
بیهوښی کې به کرار سو له نیښونو
څو شیبې وروسته به بیرته غرغړې سوې
تر آسمانه به یې پورته غلبلې سوې
سل لرګي به یې واهه په ککری کې
چې نارې به یې کراري سوې مری کې
پوره سل ورځې یې وخوړل وارونه
د لرګیو تر باران لاندی نیښونه

ایله وروسته عزراییل پر مهربان سو
له فاني څخه باقي اور ته روان سو
هر بنده چې د غرور پر نیلي سپور سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ يې تور سي ورته مخ د درد او اور سي

غــرور حــق دی د څــښتن چــي کبريــا دی
د بنــده غــرور دوې ورځــي دی فنــا دی
ازل هــر ســړي تــه ايــښې خپلــه لومــه
نمروديان کړي د غوماشي د نېښ شومه
چي يې ورلې د آسمان پر لور لښکري
آســمان ځرنګــه ورمــاتي کــړې وزري

چــي يــې حکــم چليــدی پــر عقابــانو
د غوماشــي مــسخره ســو د ســيالانو

ويرجينيا

۲۰۰/۱۰/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



متلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي اوښان په نڅېدو سي په رقصونو
خپل څښتن يې شرمولی په شرمونو [۱]
اوښه هر څه دي بې هوښه راته ښکاري [۲]
لوی به يې مګر فارغ له وزرونو [۳]

له سوالګر څخه چې سوال کوې بې بخته
لکه سپی چې ډوډۍ غواړي له فقيره [۴]
د زمري په دود په ښکار پسي روان سه
لا تر څو به يې ګدا په زړه زهيره

څوک چي اورته نيژدې کېږي سوځل کيږي [۵]
دا متل دی اور په اور نه وژل کيږي [۶]
اورته خپل او پردی يو دی که پوهېږې [۷]

---

[۱] اوښ چي ګډېږي نو خپل څښتن شرموي.
[۲] اوښه هر څه دي بې هوښه.
[۳] اوښ که هر څو لوی دی الوتی نه سي.
[۴] چي سوال کړې له سوالګيره لکه سپی چي مړۍ غواړي له فقيره.
[۵] چي اور ته نيژدې کېږې آخر په سوځل کېږې.
[۶] اور په اور نه مري.
[۷] اور ته خپل او پردی يو دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همـــېش بـــه لـــه بڅرکـــي اورلګيـــږي[۸]

بـــاز چـــي خپلـــه ځالـــه پرېـــږدي پـــه هـــوا ســـي
د پاچـــا منګـــول يـــې ځـــای وي يـــا جالونـــه[۹]
بـــاز کـــه هـــر ښونـــه بـــوډا ســـي اويـــا خـــوار ســـي
لـــه چونګـــښي يـــې پـــه خولـــه وي پرهېزونـــه[۱۰]

نـــوم لـــه نومـــه نـــه بېلېـــږي پـــه وطـــن کـــي[۱۱]
شـــرمېدلی ښـــوک پـــه وروړ ښـــوک پـــه ابـــا دی
د غـــاتري يـــې د پـــلار وکـــړه پوښـــتنه
ويـــل خـــدای راکـــړی آس غونـــدي مامـــا دی[۱۲]

د يـــوه نـــاورين بـــه پـــای د بـــل بـــه ســـر وي
غـــم هيڅکلـــه لـــه غمونـــو نـــه شـــرمېږي[۱۳]

---

[۸] اور له بڅرکي لګيږي.
[۹] باز چي خپله ځاله پرېږدي ځای يې د پاچا منګول سي.
[۱۰] باز چي هر ښونه خوار سي چونګښي نه خوري.
[۱۱] نوم له نومه نه پرې کيږي.
[۱۲] غاتري ته يې ويل پلار دي ښوک دی ويل آس غوندي ماما لرم.
[۱۳] غم له غمه نه شرمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عالم سره به غم په هيڅ کی شماري[۱۴]
خو په وير کي هر څوک خپل مړی ژړېږي[۱۵]

څه په کار دي له واده وروسته نکريزي[۱۶]
که خواره دي خو ژوندو ته په کار يږي
هسي نه چي دي پر مړي طبيب ګرځي
په درملو د ژونديو رنځ رغيږي

چی نېستي يې په هستي کي په ياد نه وي
تل پر مخ باندي څپېړي د سبا خوري
د نېستۍ د ژوندون هر ساعت مرګی دی[۱۷]
د نېستۍ غمونه هر سړی تنها خوري

---

(۱۴) له عالمه سره غم نه غم.
(۱۵) په وير کي هر سړی خپل مړی ژاړي.
(۱٦) نکريزی چي تر واده تېري سي په دېوال يې وتپه.
يا تر اختر وروسته نکريزي په ديوال وتپه.
(۱۷) د نېستۍ هر ساعت مرګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست ته دومره طمع وکړه چې یې توان وي[۱۸]
پـــر اوږو بانـــدي یـــې مـــه ایـــږده بارونـــه
د دوســـتۍ مـــزل د ســـلو کـــالو لار ده[۱۹]
په سختۍ کې وي په کار د دوست لاسونه[۲۰]

کـــه د ونـــي عمـــر ســـل کالـــه پـــه شـــمار وي
د مرغـــۍ بـــه یـــوه شـــپه بانـــدي تېریـــږي[۲۱]
یـــوه شـــپه بـــه لـــه پلنـــدر ســـره هـــم وســـي[۲۲]
خـــو کلونـــه احتیـــاج نـــه ګلـــول کېـــږي

پـــر ړانـــده د شـــپې او ورځـــي تـــوپیر نـــسته[۲۳]
ورتـــه مـــه راوړه پـــه شـــپو کـــې څراغونـــه
د کاڼـــه لـــه ډول وهلـــو ســـره څـــه دي
د ړانـــده مخـــي تـــه مـــه کـــوه رقـــصونه[۲۴]

---

[۱۸] دوست ته دونه طمع کوه چې د لاسه یې کېږي.
[۱۹] دوستي د سلو کالو لار ده.
[۲۰] دوست د سختۍ دپاره دی.
[۲۱] که د ونې عمر سل کاله وي، د مرغۍ به باندي یوه شپه وي.
[۲۲] یوه شپه د مور له مېړه سره هم تېرېږي.
[۲۳] ړانده ته شپه او ورځ یو شان وي.
[۲۴] ړانده ته ګډېږه مه، کاڼه ته ډول مه وهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ړانده ته د خولې لاره ده معلومه[۲۵]
له ړندو به امسا يو ځلي ورکېږي[۲۶]
د هوښيارو آزموينه تل پر بل وي
جاهلان به هره ورځ په دام کي لوېږي[۲۷]

نه د بدو نه د ښو غم ورسره وي
نه اتڼ لره پيدا نه د ناورين دي
اور پر خپله ټکۍ اړوي وګړي[۲۸]
د ابا په غم کي نه دي د خورجين دي[۲۹]

مېړه نسته چي ملک مو ميروګی دی[۳۰]
خود به بولو د ابا مېنه ميراته
وران دي غوا ړمه اتڼه ښاد به نه سي
چی ناري دي امر الدين ته سولي پاته[۳۱]

---

[۲۵] ړانده ته د خولې لار معلومه ده.
[۲۶] ړوند يو ځل امسا ورکوي.
[۲۷] هوښيار يې پر بل آزمېيي، بې عقل پر ځان.
[۲۸] هريو پر خپله ټکۍ اور اړوي.
[۲۹] ابا مه ګوره خورجين يې ګوره.
[۳۰] د نه مړو ملک سو ميرو.
[۳۱] اتڼه وران سې چي ناري دي امر الدين کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم نن د خانۍ د ملکۍ سو
چي مرغه يې ده شنه سوې په دېګدان کي[۳۲]
ثلور پښې کړلې چونګښې ورته پورته
نالول چي يې آسونه په ميدان کي[۳۳]

د خداى برخې دي پخپله خداى وېشلي
په ازل کي سپور او پلى نه سمېږي
که سل منه په روپۍ سي د اوربشو
په حساب د خره يوه لپه رسېږي[۳۴]

چي په کور کي يې يو موټى اوړه نسته
هغه هم پر بام جوړ کړي تنورونه[۳۵]
په وطن کي اوس د سپيو له نيستيه
پشو ګرځي پر بامونو شخ برېتونه[۳۶]

---

[۳۲] په دېګدان کي يې مرغه شنه سوې ده .
[۳۳] آسان يې نالول چونګښو هم پښې پورته کړې.
[۳۴] اوربشي که د روپۍ سل منه سي د خره برخه يوه لپه ده.
[۳۵] په کور کي يې يو مټ اوړه نسته پر بام يې تنور جوړ کړى دى.
[۳۶] د سپيو له نيستۍ پشو پر بام کوي بازۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکـــاڼي پـــر بیزوګـــانو حوالـــه کـــي[۳۷]
د ړنـــــدې زمـــــانې وګـــــورئ کارونـــــه
را وســـــتلي يـــــې دی اوښ الغبنـــــدی تـــــه
څـوک دانـــه وایـــي چـــی نـــه لـــري لاســـونه[۳۸]

د اوښـــــانو لـــــه بـــــازیو ســـــره څـــــه دي
جوړنګــان لــه بېخــه مــه وربانــدي باســه[۳۹]
اوښ کـه غـټ دی د شیدو تمـه تـرې مـه کـړه[۴۰]
پـــوره نـــه وي هـــره چـــارد چـــا لـــه لاســـه

چـــي ســـرکار اوښـــان لـــه خلګـــو ســـرکاري کـــړل
ګيـــدو وځغـــستل پـــه تاختـــه ســـوه روانـــه
چـــي پوښـــتنه چـــا کـــول د ســـترو ځغاســـتو
ويـــل ســـخته پـــاچهي ده بـــې پرســـانه[۴۱]

---

[۳۷] ترکاڼي د بزو کار نه دی.
[۳۸] اوښ ته يې ويل الغبندي وکه، ويل يې په کومو لاسو.ګ
[۳۹] اوښ ته يې ويل بازۍ وکه ده جوړنګان له بېخه و ايستل.
[۴۰] اوښ که غټ دی هم د شيدو تمه مه ورڅخه کوه.
[۴۱] اوښان سرکاري کېدل، ګيدړي هم ځغستل ويل يې بې پرسي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طـــالع او بخـــت وېـــشونه پـــه قـــسمت دي
سـيالداري يـې نـه پـه زر سـي نـه پـه زور سـي
د بـــې بختـــو پـــر ســـر اوري غيبـــي كـــاڼي
بخت يې تور سي چي د ښمن يې د پلار كور سي[۴۲]

اوږده شـپه بـه ښلـه چرګـه هـم سـبا سـي[۴۳]
چـي چـرګ نـه و آذان چـا كـاوه يـارانو[۴۴]
خپــل بــازو ســاتندوی دی د مــرګ نـاموس دی
تمـــه پـــرې كـــه لـــه خپلوانـــو لـــه يـــارانو

چي مېږي ته خداى په قار سي وزر وركړي[۴۵]
د چغـال چـي اجـل راسـي مـخ پـر ښـار ځـي[۴۶]
چـي د غـار و خـولې تـه ورسـېږي سـم سـي
همېـشه پـه لويـو لارو كـي كـوږ مـار ځـي[۴۷]

---

[۴۲] بخت يې تور سي چي د ښمن يې د پلار كور سي.
[۴۳] بې چرګه به هم سبا سي.
[۴۴] چي چرګ نه و اذان چا كاوه ؟
[۴۵] مېږي ته چي خداى په قار سي وزر وركړي.
[۴۶] د چغال چي اجل راسي مخ پر ښار ځغلي.
[۴۷] مار پر لاري كوږ كوږ ځي، د غار په خوله كي سم سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تمام جهان جنت سي خو د بل دی[۴۸]
هر سړي ته خپل وطن لکه کشمیر دی[۴۹]
پر پردي ولات سي کم د مړو قدر[۵۰]
هر سړی پکښي اخته د ځان په ویر دی

خدای هر چاته په قسمت برخي ورکړي
هیچا خر آس کړی نه دی په زینونو[۵۱]
کوته سپی د تازي ځای نه سي نیولای
نه تپوس کولای ښکار سي د بازنو

چا چي ځای په شیش محل کي وي نیولی
په ډبرو د چا نه ولي کورونه[۵۲]
چي د چا شړی شلوي شال به یې شلیږي
تر قیامته پینګیدای نه سي شالونه[۵۳]

---

(۴۸) که دنیا جنت سي خو د بل ده.
(۴۹) هر چا ته خپل وطن کشمیر دی.
(۵۰) پردی ولات د مړو قدر کموي.
(۵۱) خر په زین نه آس کیږي.
(۵۲) څوک چي په شیش محل کي اوسي د چا کور ته ډبري نه غورځوي.
(۵۳) ته زما شړی ته لاس مه راوړه زه به ستا شال ته لاس نه دروړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هم سرا او هم حیا غواړې ساتلې
ځان محتاج نه کړې د هر چا د لاسونو
نه د سوال په اوبو ژرنده چلېدای سي [۵۴]
نه د حج سفر لنډېږي په تپونو [۵۵]

هر بنده لري عیبونه بې حسابه
نیک بختانو ګوته ځان ته وي نیولې
پر دنیا به داسي ونه پیدا نه سي
چي یو ځلي به باد نه وي ښورولې [۵٦]

سل علته یې په ځان وي باک یې نه سي
د بل یو عیب ورته ښکاري سل عیبونه
خپل عیبونه همېشه د اوږو منځ وي [۵۷]
چا ته نه ورځي د خپلي خولې بویونه [۵۸]

---

[۵۴] د سوال په اوبو ژرنده نه چلېږي.
[۵۵] د مکې سفر په یوه منډه نه لنډېږي.
[۵٦] داسی ونه نسته چي باد نه وي ښورولې.
[۵۷] خپل عیب د اوږو منځ وي.
[۵۸] د خپلی خولې بوی چا ته نه ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـــوه ورځ بـــه د کلونـــو کـــسات اخلـــي
بـــاور کلـــه پـــه قولونـــو د دښـــمن ســـي[۵۹]
چي د نوک ځای یې پیدا کړ سوک به ځای کړي[۶۰]
اور تـــه راســـي عاقبـــت د کـــور میـــرمن ســـي[۶۱]

د دوو بنـــو پـــه جنګونـــو کـــي رســـوا ســـول
پـــه کالـــه کـــي پراتـــه وه پـــټ عیبونـــه
د مـــوچي خونـــه پخـــوا لا هـــم ورســـته وه
لا بوینـــه ســـوه چـــي وســـول بارانونـــه[۶۲]

ښـه خـو دا چـي د جـا نـوم پـه نېکـي یـاد سـي
یـــو کفـــن هـــم د غریـــب هـــم د مـــاړه دی[۶۳]
چـي مرګـی سـته ښـادي نـسته پـه دنیـا کـي[۶۴]
مرګـــی اړ نـــه پـــه واړه نـــه پـــه زاړه دی[۶۵]

---

[۵۹] د دښمن په قول اعتبار نسته.
[۶۰] یو وار نوک ځایوي بیا سوک.
[۶۱] اور ته راغله د کور میرمن سوه.
[۶۲] د موچي خونه پخوا ورسته وه چي باران وسو بویونه یې پورته سول.
[۶۳] دوه ګزه کفن هم د خان هم د نېستمن.
[۶۴] چي مرګ سته ښادي نسته.
[۶۵] مرګ نه په واړه دی نه په زاړه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــي غیــرت لــري پــه خپــل ایمــان بــه پــایي
بـــې غیرتـــه د بـــل مـــرګ تـــه هو ســـېږي
دا متــل دی یــو بــه مــړ بــل بــه مــو ړ نــه ســي[٦٦]
څـــوک د مـــړو پـــه میـــراث کلـــه مړیـــږي

مــرګ د ډېــرو پــرده پــوښ وي کلــه کلــه[٦٧]
کـــه د ټولـــو پـــر همدغـــه لاره یـــون دی
جنــت ښــه ځــای دی د هــر چــا بــه زړه کیــږي
خــو ګټــل یــې هــم د زړونــو پــه چــاودون دی[٦٨]

ځان شیرین دی ژوند پر هر چا باندی ګران دی
مرګـــی تـــریخ دی او تـــاوان هـــم سراســـر دی
خــو تــر دې چــي ژونــد پــه لــوږه کــی تېرېــږي
پــه ډک نــس مرګــی تــرې ســل ځلــه بهتــر دی[٦٩]

---

[٦٦] یو به مړ نه سي بل به موړ نه سي.
[٦٧] مرګ د ډیرو پرده ده.
[٦٨] جنت ښه ځای دی خو ورتلل د زړه په چاودون وي.
[٦٩] تر هغه چي ژوند په لوږه تېرېږي ، مرګ په ډک نس بهتر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــــه عمرونــــه ســــي زر کالــــه د وګــــړو
آخــر مــرګ دی چــاره نــسته لــه دې یونــه[۷۰]
مــه مــي چاتــه کــړې څــه پاتــه چــي میــراث ســم
مــــه د چــا کــــړې راتــــه پاتــــه جایدادونــــه[۷۱]

دا دوســتي تــر مزلــه نــه ســي رســېدلای
نــــن ســــبا بــــه ســــره ووهــــي ســــرونه
کــــه د غلــــو وروري خــــوړه ده یــــوه شــــپه ده
او پــــر وپــــش بــــه خامخــــا کــــوي جنګونــــه[۷۲]

دا ملګـري پـه خولـه خـوږ دی پـه زړه کـوږ دی[۷۳]
یــــوه ورځ بــــه دي د ســــر دښــــمنان ســــتایي
پــــه خــــواره، خــــواره ویــــل درتــــه لګیــــا وي
نـن سـبا بـه دي د کنـدي پـر لـور بیـا یـي[۷۴]

---

[۷۰] که دي عمر سي زر کاله، آخر به و مرې زما لاله.
[۷۱] مه مي چاته پاته کړې، مه د چا را پاته کړې.
[۷۲] د غلو وروري خوږه ده خو پر وېش باندي جګړه ده.
[۷۳] په خوله خوږ، په زړه کوږ.
[۷۴] خواره خواره به درته وایي و ژور ته به دي بیایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په کلي کې د دوو سره جګړه سي
همېشه به د دريم سړي په ښه سي (۷۵)
د چغلو شيطانانو ځالګۍ سي
په يوه ځاى کي چي يو موټى کلى دوه سي (۷۶)

په دوستي کي دښمني درته پيدا کړي
خپل دوستان او ځان دي وساته له پوره
د بدى تخم که نه پېژني پور دى (۷۷)
څه ښه وايي پوره ورک دي کړه دوه کوره (۷۸)

نابلده به څه غلا څه به پيدا کړي
څرک له کوره دى چي خونه دي تالا سي (۷۹)
چي په خوا او په خاطر کي نه راګرځي
يوه ورځ به هغه څوک درته بلا سي (۸۰)

---

(۷۵) چي د دوو سره جګړه سي، د دريم به پکښي ښه سي.
(۷۶) چي کلي دوه سي د چغلو ښه سي .
(۷۷) پور د بدى تخم دى.
(۷۸) پوره ورک دي کړه دوه کوره.
(۷۹) چي څرک يې له کوره وي خونه يې خوره وي.
(۸۰) چي نه دي وي په خوا هغه تا ته سي بلا .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځــوانۍ یــوه نــشه وي همــېش نــه وي[۸۱]
بېکــاري دي سـپین ږیرتــوب لــره خــواري ده[۸۲]
د چـــا برخـــه ده اول د چـــا آخـــره[۸۳]
چـــي د زرو زور لـــري څـــه یـــې زاري ده[۸۴]

دا دنیـــا ده پـــه نـــصیب د بـــډایانو
پـــر اغزیـــو څرخـــي برخـــي د خوارانـــو[۸۵]
تـــل د خـــوار وزه هـــم ګـــوډه هـــم ړنـــده وي[۸۶]
آذان څـــوک اوري د خـــوارو ملایـــانو[۸۷]

چـي اوبـه پـر ځـای ولاړي وی شـنې کېـږي[۸۸]
یـــوه شـــپه ســـي میلمنـــه بلـــه ترخـــه ســـي
پـــه هغـــه ګـــړي د خوابـــي شـــپه کـــږه وي

(۸۱) د ځوانۍ یوه نشه وي نه چې همېشه وي.
(۸۲) د ځوانۍ بیکاري د سپین ږیرتوب خواري ده.
(۸۳) د چا اول د چا آخر.
(۸۴) چې زر وې زاري نسته.
(۸۵) د خوار برخې پر اغزیو څرخي.
(۸۶) د خوار یوه وزه وه هم ګوډه هم ړنده وه.
(۸۷) د خوار ملا په آذان څوک روژه نه ماتوي.
(۸۸) اوبه چې پر ځای ودرېږي شنې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نصیب چی یې د زوم په کور کی شپه سي[۸۹]

نه د غلو کلی چا ولیدی په سترګو
نه د شګو ځلی چا دی درولی[۹۰]
نه ځایېږی غل په لویو لویو غرو کي[۹۱]
همېشه به وي د غله پر بېره خلی

تل او ښیار او سه باور وربانـدی نسته
همېشه به د لېوه زوی لېوه کېږي[۹۲]
د غله سپي زوی که غل نه وي نو ځوسن وي[۹۳]
یوه ورځ به یې له پزي بلا زیږي

تر کابله به ځان خوار کړې په مزلونو
خپله برخه دي معلومه در رسېږي[۹۴]
په ازل کي یې وېشونه دي ټاکلي

---

(۸۹) د خوا ښي هلته شپه کېږه سي، چی د زوم کره یې شپه سي.
(۹۰) د غلو می کلی ونه لیدی، د شګو می ځلی.
(۹۱) غل په غره کي نه ځاییږي.
د غله پر بېره خس وي.
(۹۲) د لېوه زوی عاقبت لېوه سي.
(۹۳) د غله سپي زوی که غل نه وي، ځوسن خو وي.
(۹۴) که ته ولاړ سې تر کابله، برخه به ځی درپسي خپله.
برخی ازلي دي، نه په زور نه په سیالي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په زور نه په سيالي د چا بدليږي

په تندي کې دي ليکلي هغه کېږي
بې نصيبه خواره ګران دي په جهان کي[۹۵]
که دا ټول جهان طبيب سي نه رغېږي
چاري واړه په نصيب سي په آسمان کي[۹٦]

نه له خپلي برخي څوک سي تښتېدلای
نه به ستا سي پردۍ برخه د وګړو[۹۷]
چي پر کور وي هغه شپه نه پر ګور کېږي
نه په کور کي به سي شپه چېري د مړو[۹۸]

کوم وطن چي سي خالي له سترګورو
په هغه ورځ يې قسمت او نصيب خوار سي
په ړندو کي به يو سترګی پاچهي کړي[۹۹]

---

[۹۵] بې نصيبه خواره ګران دي.
[۹٦] که ټول جهان طبيب سي، چاري واړه په نصيب سي.
[۹۷] له خپلي برخې تېښته نسته، له پردۍ برخي ويش نسته.
[۹۸] شپه چی پر کور وې پر ګور به نه سي، چي پر ګور وي، پر کور به نه سي.
[۹۹] د ړندو په ښار کي يو سترګی پاچا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـا د ډیـرو رنـدو یـو کـوڼ جمـادار سـي[۱۰۰]

عقـل پو هــه ده عطــا د خــدای لــه لــوري[۱۰۱]
چــا مینــدلی د دولــت پــه زور هنــر دی
دا د خــدای بــې لاري کلــه پــر لار کېــږي[۱۰۲]
خـر کـه سـل ځلـه مکـې تـه ولاړ سـي خـر دی[۱۰۳]

د عالمــه ســره غــم خــو بــه غــم نــه وي[۱۰۴]
مګــــر کلـــــه دا خبـــــره منــــــي زړونـــــه
څـه بنـه وایـي پـردی غـم لـه واوري سـوړ دی[۱۰۵]
پـه مـاتم کـي هـر څـوک ژاړي خپـل غمونـه[۱۰۶]

عقــل لعــل دی کــه ګــوهر دی پــه قــسمت دی
نـــه زور دی نـــه پـــه زر چـــا رانیـــولی[۱۰۷]
چــي لــه خپلــه عقلــه پلــي څــوک پیــدا وي

---

[۱۰۰] پر ډیرو رندو یو کوڼ چماداري کوي.
[۱۰۱] عقل د خدای عطا ده.
[۱۰۲] د خدای بې لاري نه پر لار کېږي.
[۱۰۳] خر که تر مکې ولاړ سي، چې بیرته راسي هغه خر دی.
[۱۰۴] د عالمه سره غم نه غم.
[۱۰۵] پردی غم تر واوري سوړ دی.
[۱۰۶] په ویر کی هر څوک خپل مړی ژاړی.
[۱۰۷] عقل لعل وګوهر دی، نه په زور او نه په زر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دنیا کي به وي تل په غم لړلی[۱۰۸]

هغه ورځ به له کماله ګیله من یې
چي دوستان دي له حسده درته شاکي
بې مېوې ونه څوک نه ولي په کاڼو[۱۰۹]
خپل هنر به زمانه درته بلا کي

که هر څو دي د قدرت پله درنه وي
خواره مه بوله ټولۍ د دښمنانو
چي له سر سره کړي لوبي سر به وخوري
د مارګیر وي همېشه مرګ له مارانو[۱۱۰]

چي پر خره باندي څوک سپور وي خریې ورک وي[۱۱۱]
دا له ځایه سودایي یا لېونی دی
چي له خپلي مور دي نه وي زېږېدلی

---

[۱۰۸] چي له خپله عقله پلی وي ، هغه تل په غم نیولی وي.
[۱۰۹] بې مېوې ونه څوک په ډبرو نه ولي.
[۱۱۰] د مارګیر مرګ له ماره وي.
[۱۱۱] پر خره سپور خریې ورک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هوښیاریې خپل یې مه بوله پردی دی[۱۱۲]

چې په تمه د پردیو د کورو سي
یو من غوښه د وجود به یې کمېږي[۱۱۳]
د سورو په انتظار سترګې پر لاري
هغه تل په سپېرو دښتو کې پاتېږي[۱۱۴]

ګوره زړه چې یې له ځانه شخه بد نه کړې
چې وهلای کوم سړی نه سي په توره[۱۱۵]
چې په شاتو مري په زهرو یې مه وژنه[۱۱۶]
که دي زړه غواړي چې مور دي نه سي بوره

د بډای کورته یې سترګي وي نیولي
ملا نه دی چا مور کړی په ختمونو[۱۱۷]
که سل ځله د مکې شخه راستون سي

---

(۱۱۲) چې نه دي وي له موره ورته مه وایه چې وروره.
(۱۱۳) چې پردي کورته یې تمه سي، یو من غوښه یې کمه سي.
(۱۱۴) چې په تمه د سورو سي، هغه پاته پر میرو سي.
(۱۱۵) چې په توره یې نه سي وهلای زړه یې مه بدوه.
(۱۱۶) چې په شاتو مري په زهرو یې مه وژنه.
(۱۱۷) د بډای په ختم د ملا ارمان نه خیژي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــر بــه څــوک نــه کــړي حــاجي پــه طوافونــو

نــه د مــړو نــه د ژونــدو غــم ور ســره دی
تېــزوي د بــل پــر مــړي یاســینونه(۱۱۸)
چــي جهــان پــه غــم زنګېــږي بــاک یــې نــسته
چــي مــلا تــه ورپیــدا ســي خیراتونــه

تــل د بــل ډوډۍ یــا پــوروي یــا پیغــوروي(۱۱۹)
خمتــا غــوره ده د بــل تــر اطلــسونو
خپــل ســور سک د بــل تــر ورجو غوښو ښه دی(۱۲۰)
پکــه لــور ښــه ده د نــورو تــر زامنــو(۱۲۱)

د زمریــو پــه یــو کالــه کــي زمــری زېــږي
لــه چغــال ســره ټــولې د چغــالانو
د ټپــوس کــره چــا بــاز لیــدلی نــه دی
ټپــوس غــورځی لــه ځــالې د ټپوســانو(۱۲۲)

---

(۱۱۸) د بل پر مړي خپل یاسین تېزوي.
(۱۱۹) د بل ډوډۍ یا پوروي یا پیغوروي.
(۱۲۰) د بل تر اطلس خپله خمتا ښه ده.
(۱۲۱) د بل تر زوی خپله پکه لور ښه ده.
(۱۲۲) د ټپوس له ځالي ټپوس الوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــر کــاداني پــوري وي د پيــشو منــډه[۱۲۳]
تــر مــوږي پــوري واټــن د جولاګــانو[۱۲۴]
هــره چــاره د هــر چــا لــه وســه نــه ده
د هوســيو نيــول کــار دی د تازيــانو[۱۲۵]

د لنــدو ختــو نــری بــاران پلمــه وي[۱۲۶]
زړونــــه مــــه ازاروه د مظلومــــانو
څــوک چــي بــد کــوي تــل بــد خويونــه وينــي[۱۲۷]
تــر ګرېوانــه بــه لاس درســي د خوارانــو

چــي تــلابښ کــوي آخــر بــه لاس تــه درســي[۱۲۸]
پــه پوښــتنه تــر مکــې ســړی رســېږي[۱۲۹]
يــو ســاعت د بــل ســاعت پــه شــاني نــه دی[۱۳۰]

---

[۱۲۳] د پيشي منډه تر کاداني وي.
[۱۲۴] د جولا منډه تر موږي پوري وي.
[۱۲۵] چي هوسۍ نيسي د هغو تازيانو خولې توري وي.
[۱۲۶] د لندو ختو لړ او به دارو وي.
[۱۲۷] چي بد کوي کارونه هغه بدويني خوبونه.
[۱۲۸] چي طلب يې کوې آخر به يې مومې.
[۱۲۹] په پوښتنه مکه پيدا کېږي.
[۱۳۰] يو ساعت د بل په شان نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـا بـه مـړیـږ یـا مـوړ ژونـدون تېرېـږي[۱۳۱]

د کـم بختــو خولــه سـپېره لاس یــې سـپېره وي
لــه ډک لوښــي همیــشه یــو څــه تــویېږي[۱۳۲]
د مردانـــو نـــامردانو ځـــای معلـــوم وي
کــه تیــاره ده لاس لــه خــولې نــه غلطېــږي

کـه هـر څـو دي غلـیم خـوار وي ډار پـه کـار دی
کــم یــې مــه بولــه قــوت د دښــمنانو
تیــــاري ورلــــره بویــــه د زمریــــو
څـوک چـې جنـګ لـره ورځـي د ګیـدړانو[۱۳۳]

هـــره ورځ د ســـبا غـــم درلـــره بویـــه
لـږ یـې خـوره کـه نعمتونـه همېـشه خـورې[۱۳۴]
پــه پردیــو اندیــښنو کــې دې ځــان زوړ کــړ

---

[۱۳۱] یا مړ یا موړ.
[۱۳۲] له ډک لوښي یو څه تویېږي.
که شپه تیاره ده لاس له خولې نه غلطېږي.
[۱۳۳] چې د ګیدړ په جنګ ورځې د زمري تیاري کوه.
[۱۳۴] لږ خوره تل یې خوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غم د هغه باغ پر څه خورې چې یې نه خورې[۱۳۵]

یــوه ورځ ورتــه احتیــاج پــه ژونــد کــې مــه ســې
بـــــاور نـــــسته د ناکـــــسو پـــــه قولونـــــو
یــــا مــــدد لــــه لویــــه کــــوره څخــــه غــــواړه
یــــا پنــــاه غــــواړه لــــه لویــــو لویــــو غرونــــو[۱۳۶]

بیلــه عیبــه یــو خــالق دی بــل یــو نــسته[۱۳۷]
بېهــــوده ســــپړې د هــــر ســــړي عیبونــــه
کومــه ونــه بــه بــاد نــه وي ښــورولې[۱۳۸]
څــوک بــه یــو ســې تــر لحــده پــاک لاســونه

یـــوه ورځ بـــه د زمـــري پـــه چمبـــه ورســـي
چــې چرګــانو کــې چغــال ځــان زمــری بــولي
د ښــکاریانو پــه میــدان کــې بــه معلــوم ســي
کــه خــړ ســپی هــر څونــه ځــان ګړنــدی بــولي[۱۳۹]

---

[۱۳۵] د هغه باغه چې نه خورې غم یې پر څه خورې.
[۱۳۶] یا لویو غرو ته ځه یا لویو کور ته ځه.
[۱۳۷] بېله عیبه یو خدایﷻ دی.
[۱۳۸] داسې ونه نسته چې باد نه وي ښورولې.
[۱۳۹] خړه سپیه که ګړندی وې د ښکار په ورځ به معلوم سې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به هیڅ کله زاړه دښمنان خپل کړې
نه به کاڼه سي پاته د تورو غرونو [۱۴۰]
خو د نن تربور سبا درته په کار دی
چې مات نه کړې د تربور غاښ په تربرونو [۱۴۱]

که دښمن دي وي د لوخو پړی پروت وي
ماریې بوله چې غلط نه سې وربانديي [۱۴۲]
مار که وژنې د دښمن په لاس یې مړ که [۱۴۳]
یو په بل به سره وژني دښمنان دي

په یوه اسانه نه خاموشه کېږی
دښمني د پښتانه د سري اور دی [۱۴۴]
چې د زوی او د ورور وینې یې څوک توی کړي
د بدیو پرېښودل ورته پیغور دی [۱۴۵]

---

[۱۴۰] کاڼی به پوست نه سي، دښمن به دوست نه سي.
[۱۴۱] د تربور غاښ په تربور ماتیږي.
[۱۴۲] دښمن که دي د لوخو پړی وي، ماریې بوله.
[۱۴۳] مار هم په دښمن وژنه.
[۱۴۴] د پښتانه بدي د سري اور دی.
[۱۴۵] چې زوي وروریې دی وژلی د هغه لاس دی چا نیولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنان ګوره اغزي دي په لمخي کي[۱۴۶]
چې ژوندي وي نه آرام سته نه خوبونه
د دباندي دښمني سی ختمېدلای
پام چی مات نه کې په خپل کور کي هډونه[۱۴۷]

نامردان همېش وهي د مړو لاري[۱۴۸]
د مېړونو سیالي نه دی کار آسانه
په قصه چې دي رنګ ژړ سو را معلوم سوې
تر میدانه چې ولاړ نه سې بې ایمانه[۱۴۹]

د مالونو ساتل ویښې سترګي غواړي
د بیدو خلګو وي تل خراب کورونه
نه څښتن له خوبه ویښ سو نه سپی غاپي
غله پی کړي وه مزلونه رباطونه[۱۵۰]

---

[۱۴۶] دښمن د لمخي اغزی دی .
[۱۴۷] د بهر بدي ورکېږي، د کور بدي نه ورکېږي.
[۱۴۸] نامردان د مېړو لاري وهي.
[۱۴۹] چي رنګ دي په قصه ژړ سو ، تورو ته مه ځه.
[۱۵۰] نه څښتن خبرېده، نه سپی غپېده، هسی غل وتښتېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا متل دی چی نن سپک سي سبا ورک سي[۱۵۱]
په ژوندوني يې ميراث يوسي تربورونه[۱۵۲]
خوی خاصيت د مېړه، زړه د زمري غواړي[۱۵۳]
د همت په زور ژوندي پايي مېړونه

له نېکانو سره نېک خلک او سيږي
له بدانو سره زده سي بده چار
پر هغه لار باندي مه ځه که هوښيار يې
چي دي نه وربانده ی مور تللې نه پلار[۱۵۴]

چي مېړه وي د هغه به لور چاره وي[۱۵۵]
د دښمن ورنه رپيږي اندامونه
که وروري ده نو د توري دا خوږه ده[۱۵۶]
يو د بل له څنګه زيب کوي مېړونه

---

[۱۵۱] چي نن سپک سي سبا ورک سي.
[۱۵۲] څښتن حيات مال يې ميراث.
[۱۵۳] خوی د مېړه زړه د زمري.
[۱۵۴] مه ځه پر هغه لار چي نه دي مور پر ځي نه پلار.
[۱۵۵] مېړه چی مېړه وي لور يې چاره وي.
[۱۵۶] وروري د توري خوږه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دي بوره يم خو ته دي پر ميدان يې[157]
ګرځوم به هسکه غاړه پر ملکونو
کشکي مړ په سپينو تورو راته راسې
نه چې خړ سې له دښمن پر ميدانونو[158]

چې اختيار لرې د جنګ پوښتنه څه ده[159]
وخت يې نسته د سلا د مجلسونو
چې د تورو ميدان تور سي بله نسته
لاري ډېرى دي يوه ده د ميړونو[160]

مياشت يوه ده ورځې ډيرې پکښې غونډې[161]
ډېرش يو ځاى دي چې لويې ترې معلومېږي
د يوه سواره به څه دوړه سي پورته[162]
د لښکر دوړې آسمان ته پورته کېږي

---

[157] زه دي بوره يم خو چې ميدان پرې نږدې.
[158] په تورو مړ سې زويه، نه چې دښمن ته خړ سې زويه.
[159] چې اختيار د جنګ لرې، پوښتنه په څنګ لرې.
[160] لارې ډيرې دي د ميړو لار يوه ده.
[161] مياشت يوه ده، ورځې ډېرې دي.
[162] د يوه سواره څه دوړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نامه ښځې به تيوب نه و تل و وادي او رنځ وخاملو ا  کو نان

د نامــه څــښتن بــه پــرې نــه ږدي پــر لاري
خــداى دي نــه کــي د ناکــسو لــوى کورونــه
پــه اول ځــل يــې پــر خپــل کلــي ور تــرپ کــړل
چــي نــامردو تــه خــداى ورکړلــه آســونه[۱۶۳]

يــوه ورځ بــه يــې اوبــو پــر ســر اخيــستي
و هــر ځــگ تــه بــه ورا چــوې لاســونه[۱۶۴]
کــه اوبــازيــې هــم لــه ځــان ســره پــام وکــړه
هــسي نــه چــي درنــه ورک ســي گودرونــه[۱۶۵]

د يــــوې او دوو نېــــزو تــــو ييريــــې نــــسته
چــي تــر ســر واوړي اوبــه ســړى غرقيــږي[۱۶۶]
هــى توبــه چــي اوبــه لــوړي ســي تــر غــاړي
شــيرين زوى ســي تــرپــښو لانــدى وژل کيــږي[۱۶۷]

---

[۱۶۳] چي نامردو آسونه وکړل اول يې پر خپل کلي وترپول.
[۱۶۴] اوبو اخيستى ځگ ته لاس اچوي.
[۱۶۵] اوبازيم، خو بې گودره نه گډېږم.
[۱۶۶] اوبه چي تر سر واوړي څه يوه نېزه څه دوې.
[۱۶۷] اوبه چي تر غاړي ورسيږي، زوي تر پښو لاندي کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میـــړه دپـــاره ډېـــر نا ســـتی پیغـــور دی
ځـــای پـــر ځـــای او بـــه ولاړي زرغـــونېږي[(۱۶۸)]
کــه دي زړه دی چــی لــه سـیاله سـره سـیال سـې
حرکـــــت او برکـــــت ســـــره ســـــمېږي[(۱۶۹)]

ښـه خـواره همـېش لـه رنګـه خـوړل کیـږي[(۱۷۰)]
تــل او بــه لــه پاکــه لو ښــي چــښل کېــږي[(۱۷۱)]
خــدای دي نــه کــړي مــشران د چــا بــې لاري
او بـــه هـــر کلـــه د ســـر لـــه خـــوا خړیـــږي[(۱۷۲)]

کــه دي زړه وي چــی تهمـت پـر چـا رانـه سـي
مـال تـر سـتر ګو لانـدي تـل سـاتلی ښـه دی[(۱۷۳)]
کــه هو ښــیا ریــې اعتبــار چــی پــه ونــه کــې
کــه دي غـــل اشـــنا دی خـــر تړلـــی ښـــه دی[(۱۷۴)]

---

(۱۶۸) او به چي پر ځای ولاړي وي زرغونیږي.
(۱۶۹) خدایΨ وایي ته حرکت که زه به برکت کم.
(۱۷۰) خواړه له رنګه خوړل کیږي.
(۱۷۱) او به د لوښي له مخي چښل کیږي.
(۱۷۲) او به د سر له خوا خړیږي.
(۱۷۳) خپل مال تر سترګو لاندي ښه دی.
(۱۷۴) خپل خر تړلی ښه دی، که دي غل اشنا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ته ګوره همېشه ملګري ژغوره
ښه ملګری به کم نه بولې له وروره[۱۷۵]
په ښه ورځ کې هر سړی د سړي یار وي[۱۷۶]
که دوستان غواړې په بده ورځ یې ګوره

که د غله سره یاري لرې لره یې
همېشه دي ترې خوندي لره مالونه[۱۷۷]
بې حسابه بې کتابه ژوندون ګران دی
په وروري کې هم په کار دي حسابونه[۱۷۸]

صبر تریخ دی خو میوه لري شیرینه[۱۷۹]
او د صبر ونه تل په مراد پخېږي[۱۸۰]
انتظار تر قتل زور غواړي پوهېږم[۱۸۱]
خو په صبر د مکې سفر لنډېږي[۱۸۲]

---

[۱۷۵] ځای ته ګوره ملګری ژغوره، کم یې مه بوله له وروره.
[۱۷۶] په ښه ورځ هر څوک دوست وي.
[۱۷۷] د غله سره یاري لره، خپل مال دي ترې خوندي لره.
[۱۷۸] وروري وروري، حساب ترمنځ.
[۱۷۹] صبر تریخ دی، مېوه یې شېرینه ده.
[۱۸۰] د صبر ونه په مراد پخېږي.
[۱۸۱] انتظار تر قتل سخت دی.
[۱۸۲] د مکې سفر په صبر لنډېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه بــه تــل د نــاروا پــه زيــن کــي ســپوريــې
نــه بــه ســره او ســپين پــر کــور درتــه انبــاروي
يــوه ورځ د بلــی مــور ده ســتا دي يــاد وي[۱۸۳]
دا آســـمان بـــه وي ولاړ لاټ بـــه مـــردار وي[۱۸۴]

خــدای دي نــه کــي د چــا مېنــه بــې مېړونــو
پـــه انګـــړ کـــي بـــه يـــې لـــوخي زرغـــونېږي
خــود بــه هــر کس او نــاکس پــه کــور کــي ګرځــي
ابــا نــسته لــه ادې ځــوک نــه ډارېــږي[۱۸۵]

چــې وريځــی ښــوروي بــاران بــه وکــي[۱۸۶]
پـــر آســـمان د خـــړو وريځـــو تمـــه کېـــږي
چــي يــې لاپــي کړلــې ډېــري خيــريــې نــسته
آســمان هــومره چــی غــوريږي نــه اورېــږي[۱۸۷]

---

[۱۸۳] يوه ورځ د بلی مور ده.
[۱۸۴] آسمان به ولاړ وي، لاټ به مردرا وي.
[۱۸۵] ابا پرکور نسته، له ادې ډار نسته.
[۱۸۶] آسمان چي وريځی ښوروي باران به وکړي.
[۱۸۷] آسمان چي غوريږي هومره نه اورېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناکسو د نا اهلو نوکران دي
چې له ګوتو یې ثڅېږي کمالونه
چې د تانګ تړلي یې زده نه وه په ژوند کې
قسمت ورکړل له هغه لره آسونه[۱۸۸]

په دروغو به دي پورته کې آسمان ته
خادمان به دي در شمګېري کمالونه
یو په یو به درته وښیې په مخ کې
آیینه نه پټوي د چا عیبونه[۱۸۹]

نن یې مه ګوره په ناز په کرشمو کې
چې د خیاله په کاږه مغزی روان دی
دا زلخوړی د پردو په غوښو مست دی
پر پردي آس باندي سپور دی میری خان دی[۱۹۰]

---

[۱۸۸] آس یې هغو ته ورکړ چې د تانګ د تړلو نه و.
[۱۸۹] آیینه د چا عیبونه نه پټوي.
[۱۹۰] آس پردی، سپور پرې میری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آس چي خدای خوا روي جوړ ترينه يابو کړي(۱۹۱)
تـــر درنـــو بـــارونو لانـــدي بـــه زړېـــږي
د هـــر چـــا دپـــاره خپـــل مقـــام پـــه کـــار دی
چـــي لـــه خـــره ســـره آس وتـــړي خـــر کېـــږي(۱۹۲)

اختـــر نـــه دی پـــټ مېـــره چـــي معلـــوم نـــه وي(۱۹۳)
تـــــرې خبـــــر دي اولـــــسونه عالمونـــــه
نـــه اختـــر د يـــوه چـــا پـــه اجـــاره دی(۱۹۴)
لـــه قـــلا تـــر کنـــډوالو وي ســـره لاســـونه

يـــو د آس پـــه تمـــه جـــوړ کـــړي آوخورونـــه(۱۹۵)
بـــل کمبـــود لـــري يـــو آس و درې نعلونـــه(۱۹۶)
د ژونـــدون دپـــاره پـــوخ تـــدبير پـــه کـــار دی
تـــل خـــورجين بـــايلي چـــي ډېـــر وهـــي چرتونـــه(۱۹۷)

---

(۱۹۱) آس چي خدای خوا روي نو يې يا بو کړي.
(۱۹۲) آس چي له خره سره وتړې د خره خويونه زده کوي.
(۱۹۳) اختر پټ مېره نه دی.
(۱۹۴) اختر د يوه سړي نه وي.
(۱۹۵) اخور يې جوړ کړ، ويل آس به خدای راکړي.
(۱۹۶) کړې وړې چاره، يو آس نسته درې ناله.
(۱۹۷) چرت يې وا هه خورجين يې بايلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــي هڅونــه دي مــات نــه کــړي د خپلوانــو
ســبا ورور دی چــي دا نــن درتــه تربــور دی
چي يــې تېغ د خپــل دښــمن پــه وينــو ســور کړ
پــه تنــدي کــي يــې معلــوم د غيــرت نــور دی[198]

څــه بــه غــم څــه بــه مــاتم څــه بــه ګيلــه وای
پـــښتنو کـــه پيژنـــدلای خپـــل مېړونـــه
يـــو لـــه ســـلو ســـل لـــه خـــاورو برابـــر دي[199]
يـــو شـــی نـــه دي د اوږو مـــنځ کـــي ســـرونه

څــه بــه بخــت وي څــه تــدبير درلــره بويــه
پنـــاه مـــه غـــواړه پـــر کـــور د غليمـــانو
لـــه لېـــوه چـــي تـــښتېده وزه بـــې بختـــه
شـــپه يـــې واوښـــته پـــر کـــور د قـــصابانو[200]

---

[198] چې د توري ووزی يې سور دی، د هغه په تندي نور دی.
[199] يو په سل او سل په خاورو.
[200] وزه له لېوه تښتېده پر قصاب واوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مار د بل په لاس مړ نه کې که هوښیار یې[۲۰۱]
خپل بازو دي هم عزت هم درهمونه
بار چې خر نه وړي پخپله یې په شا کړه[۲۰۲]
په خواري په زحمت ښه ښکاري مېړونه[۲۰۳]

نه د بدو نه د ښو تعبیر تري کېږي
په چیغارو یې کانه کړله غوږونه
ښه ویله زموږ پلرونو هوښیارانو
له خالي لوښي لوی خېژي آوازونه[۲۰۴]

یوه ورځ به دي د لاپو نیلی شل وي
چې ویل به دي تر هسکه توپ آسان دی
څه به سوی څه به یې بار څه به مزل وي[۲۰۵]
نن به ګورو دغه ګز او دا میدان دی[۲۰۶]

---

[۲۰۱] د بل په لاس مار مه وژنه.
[۲۰۲] بار چې خر نه وړي پخپله به یې وړې.
[۲۰۳] خواري د مېړو په شا ده.
[۲۰۴] له خالي لوښي لوی آواز خیژي.
[۲۰۵] څه سوی څه یې بار ګی.
[۲۰۶] دا ګز او دا میدان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــي پخپلــه پــه خبــرو بــدايي كــړي
لــه ښــاغليو څــه لــره ســيالي كــړي[۲۰۷]
يــوه ورځ بــه دي رســوا كــړي سـپېرې شــوندې
پــه خبــرو بــه تــر څــو پــوري خــاني كــړې

وايــي پــور چــې ځنـډنى ســي وركنــى ســي[۲۰۸]
خـداى پـوهېږي چـې وعـده سـي تـر كلونـو[۲۰۹]
خــو فرصــت رحمــاني، بېــړه شــيطاني ده[۲۱۰]
پــه ســهلو بــه تــړې د ســود بارونــه[۲۱۱]

هـر بنـده پـه خپـل وطـن كـي پادشـاهي كـړي[۲۱۲]
هـر سـړي تـه خپـل وطـن لكـه كـشمير دى[۲۱۳]
پــه دنيــا كــي پردېــسي بــده بــلا ده[۲۱۴]

---

[۲۰۷] چي پخپله بدايي كه، ښاغليو سره څه لري سيالي كه.
[۲۰۸] پور چي ځنډنى سي، وركنى سي.
[۲۰۹] چي تر كاله سي، تر خدايه سي.
[۲۱۰] فرصت رحماني دى، بېړه شيطاني ده.
[۲۱۱] چي وسهېږي، وسود پړي.
[۲۱۲] هر سړى په خپل وطن كى پاچا دى.
[۲۱۳] هر چاته خپل وطن كشمير دى.
[۲۱۴] مسافري بده بلا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـي پـه کـور کـي وي اميـر بهـر فقيـر دی[۲۱۵]

ښـځه ميـره پـه ښايـست مځکـه پـه فـصل
تلـــل کيـــږي تـــل ميړونـــه پـــه لوزونـــو[۲۱۶]
چـــي يـــې ژبـــه خپلـــه نـــه وه ميـــړه نـــه دی
کـــه هـــر څـــو لاپـــي کـــوي د ميـــدانونو

د هيلـــۍ بچـــي تـــه ولـــي لامبـــو ښـــيې[۲۱۷]
پـــه لـــوی لاس ځـــان ګـــډوي پـــه احمقـــانو
د خـــولې لاره ده رانـــده تـــه ورمعلومـــه[۲۱۸]
زړه بـــه نـــه ســـوځې پـــر ډلـــي د ټګـــانو

کـــه تـــر بـــام کـــه تـــر آســـمانه پورتـــه کيـــږې
پـــه زينـــو کـــي درتـــه بويـــه قدمونـــه
لـــه روپـــۍ څخـــه روپـــۍ را پيـــدا کيـــږي[۲۱۹]
لـــه ويـــالو څخـــه جـــوړيږي لـــوی ســـيندونه[۲۲۰]

---

[۲۱۵] که په کور کي امير دی، بهر فقير دی.
[۲۱۶] د ميړه لوز ګوره، د مځکي فصل، د ښځي ښايست.
[۲۱۷] د هيلۍ بچي ته لامبو مه ښيه.
[۲۱۸] رانده ته د خولې لار معلومه ده.
[۲۱۹] روپۍ روپۍ پيدا کوي.
[۲۲۰] رود له ويالو جوړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لباسي اشنايي نه کيږي تر مرګه
يوه ورځ به دا يوه لاره دوې کيږي
تر قيامته خو مې نه سې غولولای
له ړانده لکړه يو ځلی ورکيږي[۲۲۱]

تور د تورو سپين د نجونو په نصيب دی[۲۲۲]
د هر چا په قسمت نه دي ميدانونه
تيرې توري ته اوږه چي سموي څوک
هغه ګرځوي له ځان سره سپرونه[۲۲۳]

د ځوانۍ شپې د باد په شان تيريږي
ورځې شپې بيرته چا نه دي ګرځولي
په سبا سبا چي مړ نه سې له لوږي
سپمولي هميشه وي سپو خوړلي[۲۲۴]

---

[۲۲۱] ړوند يو ځل امساء ورکوي.
[۲۲۲] تورو د تورو دی، سپين د نجونو دی.
[۲۲۳] سپر هغه ګرځوي چي توري ته اوږه سموي.
[۲۲۴] سپمولې سپو خوړلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه دروغـــو بـــه تـــر کلـــه پـــوري پـــايې
سپين تـه سپين او تـور تـه تـور وايـه كـه ښـه كړې
لـــه ســـل كالـــه عبـــادت ســـره ده ســـمه
چـــې يـــوه د حقيقـــت خبـــره وكـــړې[۲۲۵]

ســـل كلنـــه يارانـــه خـــاوري ايـــرې ســـي
چـــې پـــه خولـــه د منـــافق او د شـــيطان كـــې
برابـــر بـــه وي لـــه ســـلو جـــادوګرو[۲۲۶]
يـــو ســـړی چـــې غيبـــت ګـــر وي پـــه ميـــدان كـــې

مېلمانـــه د بـــې غيرتـــه كـــور واكـــدار وي[۲۲۷]
همېـــشه يـــې كيـــسې كېـــږي پـــر كورونـــو
چـــې پـــه ننګـــه د بـــې ننګـــو څـــوك درېـــږي
شـــر ميـــدلی وي پـــه كلـــي پـــه ښـــارونو[۲۲۸]

---

(۲۲۵) سل كاله عبادت يوه خبره د حقيقت.
(۲۲۶) سل جادوګره يو غيبت ګر نه دي برابر.
(۲۲۷) د بې غيرته كور كاله مېلمه واكدار وي.
(۲۲۸) د بې ننګو په ننګه به تل شرمنده يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژاولن يوازي نه وي شرميدلي[۲۲۹]
په خپل کور کي که دوستان که يې خپلوان دي
په قبرونو کي به مړي په شرمېږي
نارينه چي نه په خوی نه په زبان دي

د هغو خلګو شوقدر په نصيب وي
چي پر ځان يې دي منلی شوګيرونه[۲۳۰]
ځوک په ورځ کي تر مقصده نه رسېږي
چي په شپو نه کړي اوږده اوږده مزلونه[۲۳۱]

ښه هغه چي دي په بده ورځ په کار سي
د ښې ورځي په هر کور کي ياران ډېر دي
چي په ښې کي يار، په بده ورځ بېزار وي[۲۳۲]
د عسلو په دوکان کي مچان ډېر دي[۲۳۳]

---

[۲۲۹] د ژاولن په کور کي خپلوان شرميږي، په ګور کي مردګان.
[۲۳۰] د شوقدر شپه په شوګير لنډيږي.
[۲۳۱] که د شپې ولاړ نه سې، د ورځي به مزله ته ونه رسيږې.
[۲۳۲] د ښې ورځي يار، د بدي ورځی بېزار.
[۲۳۳] د عسلو په دوکان کي مچان ډېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه خو دا چې لاس یې تش زړه یې سخي وي
چګې ډېرېږي یې دنیا زړه یې تنګیږي[۲۳۴]
چې دنیا یې ډېرول کفن یې یووړ[۲۳۵]
په نابوده به جاهل سړی نازیږي

ډوډۍ خپله خوري دعا کوي پردو ته[۲۳٦]
پر دنیا ساده ګان ډېر دي چې اوسیږي
په تېرا کې دي ډولونه د ښادیو
مامندی مسکین پر کور ورته ګډیږي[۲۳۷]

ریښتیا کار د زورور یا لیوني دی[۲۳۸]
هم پر سد یم هم خبر له خپله زوریم
په ریښتیا مې عبدالله تر مرۍ نیسي
که یې نه وایمه خدای ته به مختوریم[۲۳۹]

---

[۲۳۴] دنیا چې ډېرېږي زړه تنګیږي.
[۲۳۵] دنیاداره چې دنیا دي ډېرول سپین کفن دي یووړ.
[۲۳٦] ډوډۍ خپله خورم ، دعا ستا سر ته کوم.
[۲۳۷] ډول په تېرا ږغیږي، مامندی پر کور ګډیږي.
[۲۳۸] ریشتیا یا زورور وایی یا لیوني.
[۲۳۹] که رشتیا نه وایم الله $\Psi$ مي نیسي که یې وایم عبدالله مي نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پر ځنده د شرابو د خم کښېني
موږک وزي د پیشیانو په جنګونو
و لیوه ته هم ښکنځل کوي په زوره
چی بزه سي یو ځل پورته پر بامونو [۲۴۰]

سل منته د احتیاج د یوې شپې وي
ترې بهتري د بیابان شپې دي اغزني
بزې رابه کړې شیدې په دې پوهیږم
خوله پوچو به وي ډکې او خیرني [۲۴۱]

بلا پرېږده چې بیده وي ویښه نه سي [۲۴۲]
د منزل پر لوري ګام اخله تېرېږه
که بلا وهې نو مخامخ پر ورسه [۲۴۳]
که پر شا یې وهې مرګ ته تیارېږه

---

[۲۴۰] بزه چې پر بام وخیژي لېوه ته هم ښکنځل کوي.
[۲۴۱] بزې بزې شیدې به راکې خوله پوچو ډکي.
[۲۴۲] بلا بیده ښه وي نه ویښه.
[۲۴۳] بلا پر مخ وهل کېږي نه پر شا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه لــه مځکــي نــه راځــي نــه لــه آســمانه
بــلا هــر کلــه راځــي لــه خپلــه ځانــه[۲۴۴]
چـــي دي وزيـــږي بـــلاوي لـــه لمنـــي[۲۴۵]
بيـــا بـــه څرنګـــه ګيلـــه کـــوې لـــه چانـــه

کـه بنـده کـړي حرکـت خـداى برکـت کـړي[۲۴٦]
بنــده هــر کلــه حيــران خــداى مهربــان وي[۲۴۷]
مينـــه وېـــره لـــه بنـــده ســـره تړلـــې
بنــده کلــه وي رحمــان، کلــه شــيطان وي[۲۴۸]

بنـده راسـه د خـداى خپـل سـه کـه انـسان يـې
داسي تـل اوسه پـر بـل چي پـر خپـل ځـان يـې[۲۴۹]
کـه دي خپـل ګريـوان هـر وخـت وي قاضـي کـړې

---

(۲۴۴) بلا نه له مځکي نه له آسمانه، له خپله ځانه.
(۲۴۵) بلا له خپلي لمني پورته کېږي.
(۲۴٦) بنده دي حرکت کړي، خداى به برکت کړي.
(۲۴۷) بنده حيران خداى پر مهربان.
(۲۴۸) بنده د بنده رحمان دى، بنده د بنده شيطان دى.
(۲۴۹) بنده راسه د خداى خپل سه لکه پر ځان داسى پر بل سه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر قیامته به پر سمه لار روان یې

اجل هر ګړی په یاد لره هوښیاره
تل یې غشی را روان وي نابېره
بنده لیري موښلولي وانه تونه
مرګي لار ورته نیولې نا خبره[(۲۵۰)]

یو بیده بل بیده نه سي ویښولای[(۲۵۱)]
یو به ویښ وي چې بیده خلګ ویښېږي
لاري ډکي له اغزیو له خطرو دي
بیله خپلو څوک منزل ته نه رسېږي[(۲۵۲)]

همېشه لره قیضه د خپلی ژبي
ځان دي وساته د زړونو له آزاره
عمر سل کاله لري بدي خبري[(۲۵۳)]

---

(۲۵۰) بنده لیري موښلولې، مرګي لار ورته نیولې.
(۲۵۱) یو بیده بل بیده نه سي ویښولای.
(۲۵۲) بې د خپلو څوک سرته نه رسېږي.
(۲۵۳) د بدي خبری عمل سل کاله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رغېده نه وي د ژبې له پرهاره[۲۵۴]

همېشه دي وي د بل د ېګدان ته سترګې[۲۵۵]
د بل لاس کې مړی غټه در ښکارېږي[۲۵٦]
پر پردي دسترخوان سل مېلمانه غواړي[۲۵۷]
ستا پخپله سپی په تاخت تر کور تېرېږي[۲۵۸]

بیکاري همېش لنګېږي خواري زېږي[۲۵۹]
تل زانګو د بد بختیو بېکاري ده[۲٦۰]
بېکارانو ته شیطان کارونه ګوري[۲٦۱]
شیطاني لار د دنیا د دین خواري ده

له خنجره چې یې سرې وینې څڅېږي
د قاتل پر نوم به څنګه منکرېږي

---

[۲۵۴] د توري ټپ جوړېږي د ژبې ټپ نه جوړېږي.
[۲۵۵] سترګې یې د بل پر دېګدان وي.
[۲۵٦] د بل لاس کې مړی غټه ښکاري.
[۲۵۷] پر پردي دسترخوان سل مېلمانه هیڅ دي.
[۲۵۸] تر کور یې سپی په تاخت تېرېږي.
[۲۵۹] بېکاري لنګېږي خواري ترې زېږي.
[۲٦۰] بیکاري د بدبختۍ زانګو ده.
[۲٦۱] بېکارو ته شیطان کارونه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـې غـلا کـړي يـې پـه کلـي کـی اوښـان وي
هغـــه هـــم پـــر لاري ټيـــټ روان تېريـــږي[۲٦۲]

سـپی د اوښ پـه سـايه تلـی ويـل دا زمـا ده[۲٦۳]
خـدای دي نـه کـړي لـه چـا ورک خپـل اندامونـه
پکـــي وخـــوړه مـــړی د خـــان پـــه کـــور کـــي
اوس لــه نــاز څخــه کــاږه اخلــي ګامونــه[۲٦۴]

که هر څو يې خوري پردي خواړه په پور دي[۲٦۵]
او پـردی څپلـۍ پـه پـښو کـي معلـوميږي[۲٦٦]
پــردی کــار کــه دي ښــه وکــړ لاس دي تــور دی
کــه دي بــد وکــړنــو مــخ دي پــه تــوريږي[۲٦۷]

---

[۲٦۲] پټوي اوښان، ځي ټيټ ټيټ.
[۲٦۳] سپی د اوښ په سايه تلی ويل يې دا زما ده.
[۲٦۴] پکي د خان په کور کي ډوډی وخوړه پر لاري سمه نه تله.
[۲٦۵] پردي خواړه په پور دي.
[۲٦٦] پردی څپلۍ په پښو کي معلوميږي.
[۲٦۷] پردی کار که دي ښه وکړ لاس دي تور کړ، که دي بد وکړنو مخ دي تور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په چا کې د غیرت سترګی ړندې وي
تل پردي خواره ورته ښکاریږي[۲٦۸]
پردی خر شل منه بار سي په شا وړلای[۲٦۹]
پردی خر په خوږېدلو نه پو هېږي[۲۷۰]

که پردی بګړۍ پر سر د مار ترل دي[۲۷۱]
پردی زوی هم په نازونو نه زوی کېږي[۲۷۲]
پردۍ غوښې څوک پر ځان نه سي تپلای[۲۷۳]
پردی سپی تش د ډوډۍ په زور خپلېږی[۲۷۴]

بد اولاد وي د خپل پلار په مخ کې زخه
که یې پریږدې نو پر مخ بده ښکاریږي
که یې پرې کړې نو تاوېږې به له درده[۲۷۵]
نه پرې کېږي نه پر مخ پرېښودل کېږي

---

[۲٦۸] پردي خواره خواږه وي.
[۲٦۹] پردی خر شل منه بار وړي.
[۲۷۰] پردی خر نه خوږېږي.
[۲۷۱] پردی دستار پر سر د مار ترل دي.
[۲۷۲] پردی زوی نه زوی کېږي.
[۲۷۳] پردۍ غوښې په ځان پوري نه موښلي.
[۲۷۴] پردی سپی په ډوډۍ خپل.
[۲۷۵] پرېښول یې عیب لری پرې کول یې درد، ناخلف دی د خپل پلار په مخ کې زخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی هغه دی چې ومري په خبره
په تېره توره خو هر څوک وژل کېږي[٢٧٦]
زوی هغه دی چې په سپينو تورو مړ سي
نه هغه چي به د ښمن له خرېږي[٢٧٧]

په خپل کور کي خو مېږی هم توريالی وي[٢٧٨]
پيشو هم پر خپله مېنه زمری کېږي[٢٧٩]
نر هغه دی چې يې نوم پر بيابان پروت وي
په کيسو کي د مېړونو چې يادېږي

شپه او ورځ دواړه ړانده له يو شان وي[٢٨٠]
چي بل نه کې و ړانده ته څراغونه[٢٨١]
د کاڼه تر غوږو ډول نه ور رسېږي
د ړانده په مخ کي مه کوه رقصونه[٢٨٢]

---

[٢٧٦] په توره هر څوک مري، سړی هغه دی چي په خبره ومري.
[٢٧٧] په توره مړ سې زويه، نه چي د ښمن ته خر سي زويه.
[٢٧٨] په خپل کور کي مېږی هم توريالی وي.
[٢٧٩] په خپل کور کي پيشو زمری وي.
[٢٨٠] ړانده ته شپه او ورځ يو شان ده.
[٢٨١] ړوند په څراغ څه کوي.
[٢٨٢] ړانده ته ګډېږه مه کاڼه ته ډول مه وهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوم چې وشیندي روپۍ په کلي کور کې
تولي پېغلې به یې وکړي خدمتونه[۲۸۳]
هم پر خواښې هم خوښینې وي بې قدره
هغه زوم چې یې ترلې وي جیبونه[۲۸۴]

مه دې خدای که دوبې سوړ مه ګرم ژمی[۲۸۵]
که هر څو ژمی د خوار غریب تاوان وي[۲۸٦]
وایي کله به موسم د ژمي بولو
وایي هر کله چې باد او یا باران وي[۲۸۷]

د پردې ګټې د پاره کې ځان سترې
د مریانو خوارۍ کله چا منلې
که څوک ځان او ایمان دواړه پکښې بایلي
سوی به تل وي د خاوند، سپې هسې ځغلي[۲۸۸]

---

[۲۸۳] زوم چې روپۍ شیندي، د کلي نجوني به یې خدمت کوي.
[۲۸۴] زوم چې جیب ترلی وي، پر خواښې او خوښینې یې قدر خوړلی وي.
[۲۸۵] ژمی دې سوړ مه سه دوبی دې تود مه سه.
[۲۸٦] ژمی د خوار او غریب زیان دی.
[۲۸۷] ژمی به کله وي چې باد او باران وي.
[۲۸۸] سوی د خاوند وي سپی هسې منډې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــي د چــا وي عقــل کــم هــر څــه يــې کــم وي[۲۸۹]
چــي د چــا وي عقــل ډېــر ژونــد يــې سمــسور وي
عقـــــل ورور دی د عــــزت ســــره جـــــوړه دی
چــي د چــا وي عقــل ډېــر عــزت يــې پــور وي[۲۹۰]

---

[۲۸۹] چي عقل نه لري هغه به څه لري، چي عقل لري هغه هر څه لري.
[۲۹۰] عقل د عزت ورور دی، که عقل لري عزت يې پور دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**